مادۀ ۸۷۳: ارایۀ اطلاعات جرمی.....۷۵۰
مادۀ ۸۷۴: هرزه نگاری (پورنوگرافی).....۷۵۱
مادۀ ۸۷۵ : جرایم مربوط به حقوق ملکیت های معنوی.....۷۵۳
مادۀ ۸۷۶ : حالات مشدده.....۷۵۳
مادۀ ۸۷۷: استفاده غیر قانونی از سیمکارت.....۷۵۴
مادۀ ۸۷۸: ارتکاب جرم توسط شخص حکمی..... ۷۵۵
مادۀ ۸۷۹ : معافیت از تعقیب عدلی جرایم سایبری.....۷۵۶

فصل دوم

جرایم مسافرت و اقامت و مجازات آن

مادۀ ۸۸۰ : عبور ومرور از سرحدات.....۷۵۷
مادۀ ۸۸۱: مجازات استفاده غیر قانونی از پاسپورت.....۷۵۸
مادۀ ۸۸۲: بدست آوردن پاسپورت به وسیلۀ تقلب یا تهدید.....۷۵۹
مادۀ ۸۸۳: صدمه رسانیدن به سیستم های کمپیوتری.....۷۶۰
مادۀ ۸۸۴ : صدور پاسپورت مغایر قانون و همکاری در زمینۀ.....
عبور ومرور..... ۷۶۰
مادۀ ۸۸۵ : سوء استفاده از صلاحیت های قانونی.....۷۶۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل سوم

جرایم مربوط به صحت عامه و مجازات آن

مادۀ ۸۸۶: تولید یا وارد کردن ادویۀ تقلبی یا غیر معیاری.....۷۶۲
مادۀ ۸۸۷: استفادۀ سوء از ادویۀ تاریخ گذشته..... ۷۶۳
مادۀ ۸۸۸ : امتناع مؤظف طبی از تداوی.....۷۶۴
مادۀ ۸۸۹ : بی دقتی، بی احتیاطی یا عدم رعایت مقررات طبی توسط..... مؤظف طبی.....۷۶۵
مادۀ ۸۹۰: ورود، پروسس و توزیع مواد سمی یا مضره.....۷۶۵
مادۀ ۸۹۱: سرایت امراض به دیگران.....۷۶۶
مادۀ ۸۹۲: غفلت وتخلف از اصول وظیفوی.....۷۶۷

فصل چهارم

جرایم مربوط به زراعت وحیوان ها

مادۀ ۸۹۳ : مجازات جرایم مربوط به تخم های بذری.....۷۶۸
مادۀ ۸۹۴ : استفاده از ادویۀ بی کیفیت ضد آفات وامراض نباتی....۷۷۰
مادۀ ۸۹۵: استفاده از کود کیمیاوی بی کیفیت.....۷۷۱
مادۀ ۸۹۶: استعمال مواد مسموم کننده..... ۷۷۲
مادۀ ۸۹۷ : تخلفات مربوط به املاک، اموال وحیوان ها.....۷۷۲
مادۀ ۸۹۸ : کشتن یا مجروح نمودن حیوان.....۷۷۳
مادۀ ۸۹۹: تعذیب یا مثلۀ نمودن حیوان اهلی.....۷۷۴
مادۀ ۹۰۰: جنگانیدن حیوان ها وپرندگان.....۷۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل پنجم

جرایم و مجازات ثبت احوال نفوس

مادۀ ۹۰۱: جرایم ثبت احوال نفوس.....۷۷۵
مادۀ ۹۰۲ : ارایه معلومات نادرست واستخدام شخص بدون داشتن.....
تذکره تابعیت.....۷۷۶

فصل ششم

قباحات

مادۀ ۹۰۳ : مزاحمت در راه عام.....۷۷۶
مادۀ ۹۰۴: ایجاد مزاحمت در اماکن عامه.....۷۷۷
مادۀ ۹۰۵: ارتکاب اعمال منافی اخلاق..... ۷۷۸
مادۀ ۹۰۶ : عدم ثبت هویت مسافرین در مهمان خانه یا هوتل.....۷۷۹
مادۀ ۹۰۷ : عدم تسلیم دهی مال یافت شده.....۷۷۹
مادۀ ۹۰۸: ایجاد ازدحام در راه عام.....۷۸۰
مادۀ ۹۰۹: مزاحمت عابرین.....۷۸۰
مادۀ ۹۱۰: دفن جسد انسان در محل غیر مجاز.....۷۸۱

فصل هفتم

احکام نهایی

مادۀ ۹۱۱ : بهره کشی از نیروی کار.....۷۸۱
مادۀ ۹۱۲ : اهمال در تخریب یا ترمیم بنای نزدیک به سقوط.....۷۸۲
مادۀ ۹۱۳: آتش بازی در محل عام.....۷۸۲
مادۀ ۹۱۴: بدست آوردن پول از طریق جادوگری و سایر اعمال..... ۷۸۴
مادۀ ۹۱۵ : فروش یا توزیع گوشت حیوان حرام.....۷۸۴
مادۀ ۹۱۶ : انفاذ.....۷۸۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جزا کود	کود جزا
لومړی کتاب	کتاب اول
عمومي حکمونه	احکام عمومی
لومړی باب	باب اول
مقدماتي حکمونه	احکام مقدماتی
لومړی فصل	فصل اول
موخې او اصطلاحګانې	اهداف و اصطلاحات

مبني

۱ماده:

دغه قانون د افغانستان د اساسي قانون د اوومې او اووه ویشتمې مادو د حکم له مخې او د هغه د دوه ویشتمې، درویشتمې، څلېریشتمې، پنځه ویشتمې، شپږویشتمې، نهه ویشتمې، شپږپنځوسمې او نهه پنځوسمې مادو په پام کې نیولو سره، وضع شوی دی.

د قانون د تطبیق حدود

۲ ماده:

(۱) دغه قانون تعزیري جرمونه او

مبنی

مادۀ۱:

این قانون، به تأسی از حکم مواد هفتم و بیست و هفتم قانون اساسی افغانستان و رعایت احکام مواد بیست و دوم، بیست و سوم، بیست و چهارم، بیست و پنجم، بیست وششم، بیست و نهم، پنجاه وششم و پنجاه ونهم آن، وضع گردیده است.

حدود تطبیق قانون

مادۀ ۲:

(۱) این قانون جرایم و جزا های

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزاګاني تنظيموي.

(۲) د حدودو، قصاص او ديت د جرمونو مرتکب د اسلام د شريعت د حنفي فقهې له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

موخې

۳ ماده:

د دې قانون موخې عبارت دي له:

۱- په تعزيري جرمونو او جزاګانو پورې د اړوندو اصولو، قواعدو او حکمونو تنظيم.

۲- د اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو د رعايت تضمين.

۳- د جزايي عدالت تأمين او د نظم او عامه امن ساتل.

۴- د هېواد له خپلواکۍ، ملي حاکميت او ځمکنۍ بشپړتيا څخه حراست.

۵- د جرم له ارتکاب څخه مخنيوی او د جرمونو پر خلاف مبارزه.

٦- د جرم د مرتکب بيا اصلاح او تربيت.

۷- د بشر د حقوقو او د اشخاصو د

تعزیری را تنظیم می‌نماید.

(۲) مرتکب جرایم حدود، قصاص ودیت مطابق احکام فقه حنفی شریعت اسلام مجازات می‌گردد.

اهداف

مادۀ ۳:

اهداف این قانون عبارت اند از:

۱- تنظیم اصول، قواعد و احکام مربوط به جرایم و جزا های تعزیری.

۲- تضمین رعایت احکام قانون اساسی و سایر قوانین.

۳- تأمین عدالت جزایی و حفظ نظم و امن عامه.

۴- حراست از استقلال، حاکمیت ملی و تمامیت ارضی کشور.

۵- جلوگیری از ارتکاب جرم و مبارزه علیه جرایم.

٦- اصلاح وتربیت مجدد مرتکب جرم.

۷- تضمین رعایت حقوق بشر و

(c) ketabton.com: The Digital Library

اساسي آزادیو د رعایت تضمین.

۸- د اشخاصو د مـــادي او معنـــوي ملکیتونو د مصونیت تأمین.

۹- د اشخاصو د مسؤولیت منلـــو د سطحې لوړتیا.

۱۰- د جرم له ارتکاب څخه د راپیدا شوي زیان جبران.

اصطلاحګاني

۴ ماده:

راتلونکې اصطلاحګاني پدې قانون کې لاندې مفاهیم لري:

۱- جرم: د دې قانون د اووه ویشتمې مادې په مفهوم دی.

۲- علني و سایل: له وینا (ګفتار)، فعل او نورو وسایلو څخه عبارت دي:

- وینا هغه وخت علني ګڼل کېږي چې په عام محل، عامه لار یا نورو مواضعو کې پداسې ډول په جهر ســـره وویـــل شي یا د سایبر په فضا کې یا د نـــورو وسایلو په واسطه خپره شي چـــې کـــه شخص په هغه ځای کې موجود وی هغه یې اوربدلی شوی.

آزادی های اساسی اشخاص.

۸- تأمین مصونیت ملکیت های مادی و معنوی اشخاص.

۹- ارتقای سطح مسؤولیت پـــذیری اشخاص.

۱۰- جبران خساره ناشی از ارتکاب جرم.

اصطلاحات

مادۀ ۴:

اصطلاحات آتی در این قـــانون دارای مفاهیم ذیل می‌باشد:

۱- جرم: به مفهوم مادۀ بیست وهفتم این قانون می باشد.

۲- وسایل علنی: عبارت اند از گفتار، فعل و سایر وسایل:

- گفتـــار وقتـــی علنـــی شـــمرده مـــی شـــود کـــه در محـــل عـــام، راه عام یا سایر مواضع طوری به جهر گفته شود یا در فضای سایبر یا توسط وسایل دیگر نشر شود که اگر شخصی در آن جا موجود می بود آنرا شـــنیده می توانست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعل: هغه وخت علني ګڼل کېږي چې په عام محل، عامه لار يا په نورو مواضعو کې پداسې ډول واقع شي چې که شخص په هغه ځای کې موجود وی هغه يې ليدلی شوی.

– نور وسايل؛ رسم، انځور، فلم، ليکنه، رمز، نمودار (دياګرام)، تمثيل يا الکترونيکي وسايل هغه وخت علني ګڼل کېږي چې له يوه څخه زياتو کسانو ته ووېشل شي، وپلورل شي يا پلورلو ته وړاندې شي يا په عام محل يا عامه لار يا د سايبر په فضا کې نندارې ته کېښودل شي.

۳– د عامه خدمتونو مؤظف: هغه شخص دی چې د عامه خدمتونو اجراء ته مؤظف شوی وي او لاندې اشخاص پکې شامل دي:

– د دولت، دولتي تصديو او شرکتونو کارکوونکی.

– د عامه مؤسسو يا د هغه تشبثاتو کارکوونکی چې عامه خدمتونه ترسره کوي.

– د دولت د ارکانو او دټا کنيزو

فعل: وقتی علنی شمرده می شود که در محل عام، راه عام يا ساير مواضع طوری واقع گردد که اگر شخصی در آنجا موجود می بود آنرا ديده می توانست.

– ساير وسايل؛ رسم، تصوير، فلم، نوشته، رمز، نمودار، تمثيل يا وسايل الکترونيکی وقتی علنی شمرده می شود که به بيش از يک نفر توزيع، فروش يا به فروش عرضه شده يا در محل عام يا راه عام يا فضای سايبر به نمايش گذاشته شود.

۳– مؤظف خدمات عامه: شخصی است که به اجرای خدمات عامه توظيف گرديده و شامل اشخاص ذيل می‌باشد:

– کارکن دولت، تصدی ها و شرکت های دولتی.

– کارکن مؤسسه های عامه يا تشبثاتی که خدمات عامه را انجام می دهند.

– اعضای ارکان دولت و اعضای

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنستونو غړي.

– قاضي، څارنوال، مدافع وکيل، حکم، اهل خبره او نور هغه اشخاص چې د هغوی تصديقونه معتبر وپيژندل شي.

– هغه شخص چې رسماً د عامه خدمتونو پر ترسره کولو مؤظف شوی وي.

۴– جرمي انګيزه: د جرمي عمل د تر سره کولو يا له قانوني مکلفيت څخه د ډډې کولو لپاره له دننه (دروني) محرک څخه عبارت ده.

۵– شريفانه انګيزه: بشردوستانه سبب او حالت او لوری ورکوونکی ځواک دی چې په حسن نيت سره مشخصې انساني موخې ته د رسېدو لپاره د جرم ارتکاب ته د شخص اراده سوق کړي او په فعل يې اړولې وي.

۶– دني انګيزه: هغه سبب او حالت دی چې د لوري ورکوونکي ځواک په ډول يې تبارز کړی وي او د شخص اراده يې پست(ټيټې) موخې ته د رسېدو

نهاد های انتخابی.

– قاضی، څارنوال، وکيل مدافع، حکم، اهل خبره و سایر اشخاصی که تصادیق شان معتبر شناخته شود.

– شخصی که رسماً به انجام خدمات عامه مؤظف شده باشد.

۴– انګيزهٔ جرمی: عبارت از محرک درونی جهت انجام عمل جرمی يا امتناع از مکلفيت قانونی می‌باشد.

۵– انګيزهٔ شريفانه: سبب و حالت بشردوستانه و نيروی جهت دهنده است که ارادهٔ شخص را برای رسيدن به هدف مشخص انسانی با حسن نيت به ارتکاب جرم سوق داده و به فعل درآورده باشد.

۶– انګيزه دنی: سبب و حالتی است که به صورت نيروی جهت دهنده تبارز نموده وارادهٔ شخص را برای رسيدن به هدف پست به ارتکاب جرم سوق

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د جرم ارتکاب ته سوق کړي او فعل ته يې اړولې وي.

۷- د بين المللي مصونيت لرونکي اشخاص: له جمهور رئيس، د جمهور رئيس له مرستيالانو، صدراعظم، وزير، سفير، د بهرنيو دولتونو نورو سياسي استازو، د بين المللي او بين الحکومتي سازمانونو له استازو او نور هغو اشخاصو څخه عبارت دي چې د ديپلوماتيک مصونيت په هکله د ويانا له ۱۹۶۹ کنوانسيون او تر بين المللي ملاتړ لاندې اشخاصو پر خلاف د جرمونو د مخنيوي او مجازاتو په هکله له ۱۹۷۳ کنوانسيون سره سم د بين المللي مصونيت لرونکي دي، د هغوی د کورنيو د غړو په شمول.

۸- نظامي ځواکونه: د وسله والو قواوو (اردو)، پوليسو او ملي امنيت ځواکونه يا د نظامي تشکيلاتو لرونکو نورو وزارتونو او ادارو نظامي منسوبين، دي.

۹- قطعي حکم: هغه حکم دی چې:

داده و به فعل درآورده باشد.

۷- اشخاص دارای مصونیت بین المللی: عبارت اند از رئیس جمهور، معاونین رئیس جمهور، صدراعظم، وزیر، سفیر، سایر نمایندگان سیاسی دول خارجی، نمایندگان سازمان های بین المللی و بین الحکومتی و سایر اشخاصی که مطابق کنوانسیون ۱۹۶۹ ویانا در مورد مصونیت دیپلوماتیک و کنوانسیون ۱۹۷۳ در مورد جلوگیری ومجازات جرایم علیه اشخاص مورد حمایت بین المللی، دارای مصونیت بین المللی هستند، بشمول اعضای خانواده های آنها.

۸- نیروهای نظامی: نیروهای قوای مسلح (اردو)، پولیس و امنیت ملی یا منسوبین نظامی سایر وزارت ها و ادارات دارای تشکیلات نظامی، می‌باشند.

۹- حکم قطعی: حکمی است که:

(c) ketabton.com: The Digital Library

– د قانون له حکمونو سره سم په ابتدائیه یا د استیناف په محکمه کې وروستی (نهایي) شوی وي.

– د فرجام محکمې یې په هکله وروستی حکم صادر کړی وي.

– ستړې محکمې یې د نوې کتنې (تجدید نظر) له رسید ګی وروسته، په هکله حکم صادر کړی وي.

– له قانون سره سم پر هغه د شکایت یا اعتراض د وړاندې کولو میعاد تېر شوی وي.

۱۰– اهمال: چې بې مبالاتی او غفلت ته هم شاملېږي، عبارت دی له نه پاملرنې یا په هغه عمل کې نه مواظبت دی چې باید ترسره شي.

۱۱– بې احتیاطي:هغه ده چې شخص د هغه عمل پایلو ته له پاملرنې پرته چې عرفاً د پیشبینی وړ دی، په هغه عمل وکړي.

۱۲– نه مهارت: هغه دی چې شخص په اړوند فن کې د پوهې او تجربې دنه لرلو له امله دداسې عمل مرتکب شي چې له هغه څخه بل ته زیان ورسېږي.

– طبق احکام قانون در محکمهٔ ابتدائیه یا استیناف نهایی شده باشد.

– محکمهٔ فرجام در مورد، حکم نهایی صادر نموده باشد.

– ستره محکمه بعد از رسیدگی تجدید نظر در مورد، حکم صادر نموده باشد.

– میعاد تقدیم شکایت یا اعتراض بر آن مطابق قانون منقضی شده باشد.

۱۰– اهمال: که شامل بی مبالاتی وغفلت نیز میگردد عبارت است از بی توجهی یا عدم مواظبت در عملی است که باید انجام شود.

۱۱– بی احتیاطی: آنست که شخص بدون توجه به نتایج عملی که عرفاً قابل پیشبینی است به آن عمل نماید.

۱۲– عدم مهارت: آنست که شخص نسبت نداشتن دانش و تجربه در فن مربوط مرتکب عملی گردد که از آن به دیگری زیان برسد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳- مجني عليه: هغه شخص دی چې د جرم د ارتکاب له املــه هغــه تــه اخلاقي، جسماني، مادي يا معنوي زيان يا ضرر رسېدلی وي.

۱۴- عامه مصلحت: هغه امر دی چې د ټولنې په ګټه تشخيص شوی وي.

دوه يم فصل

عمومي اصول او قواعد

برائت ذمه

۵ ماده:

برائت ذمه اصلي حالت دی. شخص تر هغه وخته پــورې چــې د واکمنــې محکمې په قطعي حکم محکوم عليــه ګنل شوی نه وي؛ بې ګنــاه پېژنــدل کېږي.

د قانون په وړانــدې د اشخاصــو تساوي

۶ ماده:

مظنون، تورن (مــتهم) او محکــوم د مليتي، نژادي، ژبني، قبيله يي، ديني يا مذهبي، سياســي عقيــدې، جــنس،

۱۳- مجنی علیه: شخصی است که به اثر ارتکاب جرم، صــدمه يــا ضــرر اخلاقی، جسمانی، مادی یا معنوی بــه وی عاید شده باشد.

۱۴- مصلحت عامه: امریست که به نفع جامعه تشخیص شده باشد.

فصل دوم

اصول و قواعد عمومی

برائت ذمه

مادۀ۵:

برائت ذمه حالت اصلی است. شخص تا زمانی که به حکم قطعــی محکمــۀ با صــلاحیت محکــوم علیــه قــرار نگرفته باشــد؛ بــی گنــاه شــناخته می‌شود.

تســاوی اشــخاص در برابــر قانون

مادۀ۶:

مظنــون، مــتهم و محکــوم بــدون نظرداشت تعلقات ملیتی، نژادی، زبانی، قبیله ای، دینی یــا مــذهبی، عقیــدۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تحصيل، شغل، نسب، شتمني، ټولنيز موقف، د استوګنې او مېشتېدو د ځای د تعلقاتو له په پام کې نيولو پرته د قانون په وړاندې له بشپړې تساوي څخه برخمن دي.

سیاسی، جنس، تحصیل، شغل، نسب، دارایی، موقف اجتماعی، محل سکونت و اقامت در برابرقانون از تساوی کامل برخوردار می‌باشند.

د جرم او جزا قانونيت او صالحه محکمه

قانونیت جرم و جزا ومحکمه صالحه

۷ ماده:

مادهٔ۷:

(۱) هېڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي، خو د هغه قانون په حکم چې د هغه له ارتکاب څخه دمخه، نافذ شوی وي.

(۱) هیچ عملی جرم شمرده نمی‌شود، مگر به حکم قانونی که قبل از ارتکاب آن، نافذ گردیده باشد.

(۲) هېڅ جزا تطبيق کېدای نشي، خو دا چې پدې قانون کې تصريح شوې وي.

(۲) هیچ جزایی را نمی‌توان تطبیق نمود، مگر این که در این قانون تصریح شده باشد.

(۳) هېڅ شخص مجازات کېدای نشي، خو د واکمنې محکمې په حکم، د هغه قانون له حکمونو سره سم چې د اتهام وړ فعل له ارتکاب دمخه، نافذ شوی وي.

(۳) هیچ شخصی را نمی توان مجازات نمود، مگر به حکم محکمهٔ ذیصلاح، مطابق به احکام قانونی که قبل از ارتکاب فعل مورد اتهام، نافذگردیده باشد.

(۴) پر مرتکب باندې مجازات پدې قانون کې د نورو درج شوو شرايطو او احوالو په پام کې نيولو سره، له ارتکابي

(۴) مجازات بالای مرتکب با نظر داشت سایر شرایط و احوال مندرج در این قانون، متناسب با جرم ارتکابی

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرم سره متناسب تطبيقېږي.

د جزا له قانون څخه بهر د جرم او جزا د محدودې نه پراخېدل

۸ ماده:

(۱) د قياس پر بنسټ د جرم تشخيص او د جزا ټاکل جواز نلري.

(۲) د هغه عمل جرم ګڼل او د هر ډول جزا تطبيق چې په دې قانون کې جرم ندی پېژندل شوی، او د هغه لپاره جزا ټاکل شوې نه وي، جواز نلري.

د جرم او جزا شخصي والی

۹ ماده:

جرم شخصي عمل دی او پر هغه مترتبه جزا بل شخص ته سرايت نه کوي.

جزايي مسؤوليت

۱۰ ماده:

جزايي مسؤوليت او د جزا تطبيق هغه شخص ته متوجه کېږي چې په آزاده اراده او د عقل او ادراک د صحت په حالت کې، د جرمي عمل مرتکب شي.

تطبیق می‌گردد.

عدم گسترش محدوده جرم و جزا خارج از قانون جزا

مادۀ۸:

(۱) تشخیص جرم و تعیین جزا به اساس قیاس جواز ندارد.

(۲) جرم شمردن و تطبیق هر نوع جزا برعملی که در این قانون جرم شناخته نشده و برای آن جزا معین نشده باشد، جواز ندارد.

شخصی بودن جرم و جزا

مادۀ ۹:

جرم عمل شخصی است و جزای مترتب بر آن به شخص دیگری سرایت نمی‌کند.

مسؤولیت جزایی

مادۀ۱۰:

مسؤولیت جزایی و تطبیق جزا به شخصی متوجه می‌گردد که با ارادۀ آزاد و در حالت صحت عقل و ادراک، عمل جرمی را مرتکب شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قانون له حکمونو څخه بې خبري

۱۱ ماده:

د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه پېژندل کېږي.

د انساني کرامت د اصل رعايت

۱۲ ماده:

(۱) د انساني کرامت د مخالفې جـــزا ټاکل جواز نلري.

(۲) پر مرتکب د جزا تطبيق د انساني کرامت په رعايتولو سره صورت مومي.

د بيا محاکمې منع

۱۳ ماده:

(۱) هغه شخص چې يوځل د يوه جرم د ارتکاب په خاطر، په کورنيو (داخلی) محکمو کې محاکمه شوی وي او پـــر هغه باندې حکم صادر شـــوی وي، د نويو دلايلو د راپيدا کېدو په دليـــل د هماغه جرم د ارتکاب په خـــاطر بيـــا محاکمه کېدای نشي.

(۲) هغه شخص چې يوځل د يوه جرم د ارتکاب په خاطر د بهرني دولـــت يـــا بين المللي محکمو کې محاکمه شوی

بی خبری از احکام قانون

مادۀ ۱۱:

بی خبری از احکام قانون عذر شناخته نمی‌شود.

رعایت اصل کرامت انسانی

مادۀ۱۲:

(۱) تعیین جزای مخـــالف کرامـــت انسانی جواز ندارد.

(۲) تطبیق جزا بر مرتکب بارعایـــت کرامت انسانی صورت می‌گیرد.

منع محاکمۀ مجدد

مادۀ ۱۳:

(۱) شخصی که یکبار بخاطر ارتکاب یک جرم در محاکم داخلـــی مـــورد محاکمه قرار گرفته و بالای وی حکم صادر شده باشد، به دلیل بروز دلایل جدید بخاطر ارتکـــاب همـــان جـــرم نمی‌توان مجدداً وی را مورد محاکمه قرار داد.

(۲) شخصی که یکبار بخاطر ارتکاب یک جرم در محاکم دولت خارجی یا بین المللی مورد محاکمه قرار گرفته و

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او پر هغه باندې قطعي حکم صادر شوی وي، په کورنيو محکمو کې د هماغه جرم په اړوند بيا محاکمه کېداي نشي.

د اصل مال ردول او د زيان جبران

۱۴ ماده:

(۱) هغه شخص چې د دې قانون له حکمونو سره سم مجازات کېږي، که يې د جرم له لارې کوم مال لاس ته راوړی وي، مالک ته د عين مال په ردولو او که مال موجود نه وي د هغه د مثل يا بيې په رد محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د جرم د ارتکاب له امله يې زيان اړولی وي، پر تاکلو قانوني مجازاتو سربېره، د مادي او معنوي وارد شوي زيان پر جبران هم محکومېږي. دغه حکم په هغو مواردو کې چې قانون په صريح ډول د زيان په جبران حکم نه وي کړی، هم تطبيقېږي.

بالای وی حکم قطعی صادر شده باشد، مجدداً در رابطه به همان جرم در محاکم داخلی مورد محاکمه قرار گرفته نمی‌تواند.

رد اصل مال و جبران خساره

مادۀ ۱۴:

(۱) شخصی که مطابق احکام اين قانون مجازات می‌شود، اگر از طريق جرم، مالی را به دست آورده باشد، به رد عين مال و اگر مال موجود نباشد، به رد مثل يا قيمت آن، به مالک محکوم می‌گردد.

(۲) شخصی که به اثر ارتکاب جرم خساره يی را وارد ساخته باشد، علاوه بر مجازات معينه قانونی، به جبران خسارۀ وارده اعم از مادی ومعنوی، نيز محکوم می‌گردد. اين حکم درمواردی نيز تطبيق ميشود که قانون صريحاً به جبران خساره حکم نکرده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) د وارد شوي زيان د اندازې تثبيت او د هغه جبران د اړوندې برخې د هغه اهل خبره په واسطه صورت مومي چې د واکمنې محکمې په واسطه تاکل شوی وي.

(۳) تثبیت اندازۀ خساره وارده و جبران آن توسط اهل خبره عرصه مربوطه که توسط محکمۀ ذیصلاح تعیین می شود، صورت می گیرد.

د استرداد حق یا د تعویض غوښتنه

حق استرداد یا مطالبه تعویض

۱۵ ماده:

مادۀ ۱۵:

د دې قانون حکمونه د استرداد حق یا د حق العبد د مدعي په واسطه د تعویض غوښتنه نه اخلالوي.

احکام این قانون حق استرداد یا مطالبۀ تعویض توسط مدعی حق العبد را اخلال نمی‌کند.

درېیم فصل

د مکان، زمان او اشخاصو له لحاظه د قانون د تطبیق ساحه

فصل سوم

ساحۀ تطبیق قانون از حیث مکان، زمان و اشخاص

د مکان له لحاظه د قانون تطبیق

تطبیق قانون از حیث مکان

۱۶ ماده:

مادۀ ۱۶:

(۱) د دې قانون حکمونه د افغانستان پر هر تبعه، بې تابعیته شخص یا هر بهرني تبعه باندې چې د هېواد په قلمرو کې د جرم مرتکب شي، تطبیقېږي.

(۱) احکام این قانون بر هر تبعۀ افغانستان، شخص بدون تابعیت یا هر تبعۀ خارجی که در قلمرو کشور مرتکب جرم شود، تطبیق می‌گردد.

(۲) د افغانستان قلمرو لاندې مکانونو ته شامل دی:

(۲) قلمرو افغانستان شامل مکان های ذیل می‌باشد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د هېواد د سرحدونو (پولو) دننه د ځمکې سطحه او عمق او هوايي فضاء.

۲- کورنۍ اوبه.

۳- سرحدي سيندونه او جهيلونه تر هغې سرحدي کرښې (خط) پورې چې له بين المللي سندونو او د افغانستان د اسلامي جمهوريت او ګاونډيو دولتونو تر منځ له معاهدو سره سم ټاکل شوې ده.

۴- د هېواد د قلمرو د ننه يا له هغه څخه بهر افغاني بېړۍ (کښتۍ) او الوتکې، خو دا چې له بين المللي سندونو سره سم د بهرنۍ هېواد د قلمرو تابع وګڼل شي.

۵- هغه الوتکې او بېړۍ چې د هېواد له قلمرو څخه بهر د افغانستان اسلامي جمهوريت تر بيرغ لاندې راځي (قرار مومي)، خو دا چې له بين المللي سندونو سره سم د بهرني هېواد تابع وګڼل شي.

(۳) جرم د افغانستان په قلمرو کې هغه وخت ارتکاب شوی حساب‌ېږي چې

۱- سطح و عمق زمين و فضای هوايی داخل سرحدات کشور.

۲- آب های داخلی.

۳- دريا ها وجهيل های سرحدی الی خط مرزی که مطابق اسناد بين المللی و معاهدات ميان جمهوری اسلامی افغانستان و دول همسايه تعيين گرديده است.

۴- طيارات و کشتی های افغانی در داخل قلمرو کشور يا در خارج آن، مگر اين که طبق اسناد بين المللی تابع قلمرو کشور خارجی شمرده شوند.

۵- طيارات و کشتی‌هايی که زير بيرق جمهوری اسلامی افغانستان در خارج از قلمرو کشور قرار می‌گيرند، مگر اين که طبق اسناد بين المللی تابع کشور خارجی شمرده شوند.

(۳) جرم زمانی در قلمرو افغانستان ارتکاب يافته محسوب می

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرمي عمل يا د هغه جرمـــي پايلـــه د افغانستان په قلمرو کې واقـــع شـــوی وي.

(۴) هغه شخص چې د هېواد له قلمرو څخه بهر د هغه عمل مرتکب شي چې د هغه له امله فاعل، د هغه جرم شریک یا معاون وپېژندل شي چې کلاً یا قسماً په افغانستان کې واقع شـــوی وي، د افغانستان په محکموکې تر محـــاکمې لاندې نیول کېږي.

د زمان له لحاظه د قانون تطبیق

۱۷ ماده:

(۱) د جرم مرتکب د هغه قانون پـــر موجب مجازات کېږي چې د جرم لـــه ارتکاب څخه د مخه نافذ شـــوی وي، خو دا چې د قطعي حکم له صادرېدو د مخه داسې نوی قانون وضع شي چې د تورن په ګټه وي.

(۲) قانون په لاندې حالاتو کې د تورن په ګټه ګڼل کېږي:

۱- د مجازاتو اقل حد يې کم کـــړی وي.

شود که عمل جرمی یا نتیجهٔ جرمی آن در قلمـــرو افغانســـتان واقـــع شـــده باشد.

(۴) شخصی که در خـــارج قلمـــرو کشور مرتکب عملی گردد که به اثر آن فاعل، شریک یا معـــاون جرمـــی شناخته شود که کـــلاً یـــا قســـماً در افغانستان واقع شده باشد، درمحـــاکم افغانســـتان مـــورد محاکمـــه قـــرار می‌گیرد.

تطبیق قانون از حیث زمان

مادهٔ ۱۷:

(۱) مرتکب جرم به موجب قـــانونی مجازات می‌گردد که قبل از ارتکـــاب جرم نافذ شده باشد، مگر این که قبل از صدور حکم قطعی قانون جدیـــدی وضع گـــردد کـــه بـــه نفـــع مـــتهم باشد.

(۲) قانون در حالات ذیل به نفع متهم دانسته می شود:

۱- حد اقل مجازات را کمتر ساخته باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د اقل حد په ساتلو سره؛ د مجازاتو اکثرحدېې کم کړی وي.

۳- مجازاتو ټپټې درجې ته تنزیل موندلی وي.

۴- مخففه حالتونه یې زیات کړي وي.

۵- مشدده حالات یې کم کړي وي.

۶- نور هغه موارد چې په نوي قانون کې د تورن په ګټه توجیه شي.

(۳) که چېرې دقطعي حکم له صادرېدلو دمخه یا وروسته، داسې قانون نافذ شي چې پر موجب یې هغه عمل چې تورن د هغه په ارتکاب په جزا محکوم شوی دی، د مجازاتو وړ ونه ګڼي، د حکم تنفیذ درول (توقف) کېږي او پر هغه مرتب جزایي آثار له منځه ځي.

تقویم

۱۸ ماده:

پدې قانون کې درج شوې مودې (میعادونه) د هجري شمسي تقویم پر

۲- با حفظ حد اقل؛ حد اکثر مجازات را کمتر ساخته باشد.

۳- مجازات به درجهٔ پائین تر تنزیل یافته باشد.

۴- حالات مخففه را بیش تر ساخته باشد.

۵- حالات مشدده را کم تر ساخته باشد.

۶- سایر مواردی که در قانون جدید به نفع متهم توجیه گردد.

(۳) هرگاه قبل یا بعد از صدور حکم قطعی، قانونی نافذ گردد که به موجب آن عملی را که متهم به ارتکاب آن محکوم به جزا گردیده است، قابل مجازات نداند، تنفیذ حکم متوقف و آثار جزایی مرتب به آن از بین می‌رود.

تقویم

مادهٔ ۱۸:

میعاد های مندرج این قانون به اساس تقویم هجری شمسی، محاسبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنسټ، محاسبه کېږي.

مؤقت قانون د نفاذ پای

۱۹ ماده:

هغه شخص چې د مؤقت قانون پر اساس چې نفاذ يې په ټاکلې نېټه پای ته رسېږي ديوه عمل د ارتکاب په سبب؛ په جزا محکوم شي، د مؤقت قانون د نفاذ د نېټې پای د محاکمې د بهير او پر محکوم عليه د جزا د تطبيق خنډ نه کېږي، خو داچې مؤقت قانون بل ډول حکم کړی وي.

د اشخاصو له لحاظه د قانون تطبيق

۲۰ ماده:

(۱) ددې قانون حکمونه پر هغه شخص باندې چې د هېواد له قلمرو څخه بهر له لاندې جرمونو څخه د يوه مرتکب شي، تطبيقېږي:

۱- د افغانستان اسلامي جمهوريت يا د بهرني دولت د کورنۍ او بهرني امنيت پر خلاف جرمونه.

۲- د دې قانون له ۴۳۶ څخه تر ۴۴۳ مادو کې د درج شوو رسمي

می‌گردد.

ختم نفاذ قانون مؤقت

مادۀ ۱۹:

شخصی که به سبب ارتکاب عملی به اساس قانون مؤقت که نفاذ آن به تاریخ معین خاتمه می‌یابد؛ محکوم به جزا گردد، ختم تاریخ نفاذ قانون مؤقت مانع سیرمحاکمه و تطبیق جزا بر محکوم علیه نمی‌گردد، مگر این که قانون مؤقت طور دیگری حکم نموده باشد.

تطبیق قانون از حیث اشخاص

مادۀ ۲۰:

(۱) احکام این قانون بالای شخصی که در خارج قلمرو کشور مرتکب یکی از جرایم ذیل شود، تطبیق می‌گردد:

۱- جرایم علیه امنیت داخلی وخارجی جمهوری اسلامی افغانستان یا دولت خارجی.

۲- تزویر اسناد رسمی مندرج مواد ۴۳۶ تا ۴۴۳ این قانون یا داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندونو تزوير يا افغانستان ته د نومورو تزوير شوو شيانو داخلول (راوړل).

۳- ددې قانون په ۲۸۴ ماده کې درج د بانکنوټ، فلزي سکو او بها لرونکو سندونو جعل يا افغانستان ته د هغوی داخلول.

۴- د دولتي نښانونو يا مډالونو جعل يا افغانستان ته د جعل شوو نښانونو يا مډالونو داخلول.

(۲) د دې قانون حکمونه پر هغه شخص باندې چې د هېواد په قلمرو کې د ننه، استوګنه لري او د هغه د استرداد په هکله غوښتنه، د تورنو، محکومينو او عدلي همکارۍ له قانون سره سم، د واکمنو مراجعو لخوا ردشوي وي، هم تطبيقېږي.

د ملګرو ملتونو، بين المللي سازمانونو دکارکوونکي او د هېوادونو د سياسي استازي په واسطه د جرم ارتکاب

۲۱ ماده:

که چېرې د ملګرو ملتونوکارکوونکی

ساختن اشیای تزویر شدهٔ مذکور به داخل افغانستان.

۳- جعل بانک نوت، سکه های فلزی و اسناد بهادار مندرج مادهٔ ۲۸۴ این قانون یا داخل ساختن آنها به افغانستان.

۴- جعل نشان ها یا مدال های دولتی یا داخل ساختن نشان ها یا مدال های جعل شده به افغانستان.

(۲) احکام این قانون بالای شخصی که در داخل قلمرو کشور، سکونت داشته و مطالبه استرداد در مورد وی مطابق قانون استرداد متهمین، محکومین و همکاری عدلی از طرف مراجع ذیصلاح رد گردیده باشد، نیز تطبیق می گردد.

ارتکاب جرم توسط کارکن ملل متحد، سازمان های بین المللی و نمایندهٔ سیاسی کشور ها

مادهٔ ۲۱:

هرگاه کارکن ملل متحد یا کارکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د نورو بین المللي سازمانونو کار کوونکی یا دبهرني دولت سیاسي استازی د داسې جرم مرتکب شي چې د دې قانون حکمونه پر هغه باندې د تطبیق وړ وي، له هغوی سره د بین الدول له معاهدو او بین المللي میثاقونو سره سم، چې د نومورو کارکوونکو او استازو موقف، امتیازونه او مصونیتونه تنظیموي او د افغانستان اسلامي جمهوریت هغو ته ملحق شوی دی، چلند صورت مومي.

سازمان‌های بین المللی دیگر یا نمایندۀ سیاسی دولت خارجی مرتکب جرمی گردد که احکام این قانون بالای وی قابل تطبیق باشد با آنها مطابق معاهدات بین الدول و میثاق های بین المللی که موقف، امتیازات و مصونیت های کارکنان و نمایندگان متذکره را تنظیم می‌نماید و جمهوری اسلامی افغانستان به آن ملحق گردیده است، رفتار صورت می‌گیرد.

د هېواد له قلمرو څخه بهر د دولت د مؤظف په واسطه یا د هغه پر خلاف د جرم ارتکاب

ارتکاب جرم توسط مؤظف دولت یا علیه وی در خارج قلمرو کشور

۲۲ ماده:

(۱) که چېرې د دولت کورنی یا بهرنی مؤظف چې د افغانستان د دولت لخوا د عامه خدمتونو په اجراء مؤظف شوی وي، د دندې د اجراء پروخت یا د هغې د اجراء په سبب د هېواد له قلمرو څخه بهر د جرم مرتکب شي، ددې قانون حکمونه پر هغه باندې تطبیقېږي.

مادۀ ۲۲:

(۱) هرگاه مؤظف دولت اعم از داخلی یا خارجی که از طرف دولت افغانستان به اجرای خدمات عامه توظیف گردیده باشد، حین اجرای وظیفه یا به سبب اجرای آن در خارج قلمرو کشور مرتکب جرم شود، احکام این قانون بالای وی تطبیق می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) که چېرې بل شخص ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي شخص پر خلاف د دندې د اجراء پروخت او یا د هغې د اجراء په سبب، د جرم مرتکب شي، د دې قانون حکمونه پر هغه باندې تطبیقېږي.

(۲) هرگاه شخص دیگری علیه شخص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در اثنای اجرای وظیفه و یا به سبب اجرای آن، مرتکب جرم گردد، احکام این قانون بالای وی تطبیق می‌گردد.

د افغانستان د ګټې (منفعت) یا تبعه پر خلاف د جرم ارتکاب

ارتکاب جرم علیه منفعت یا تبعهٔ افغانستان

۲۳ ماده:

هغه شخص چې د هېواد له قلمرو څخه بهر د افغانستان د تبعه یا ګټې پر خلاف، د جرم مرتکب شي؛ ددې قانون حکمونه وربانديې تطبیقېږي.

مادهٔ۲۳:

شخصی که در خارج قلمرو کشور علیه تبعه یا منفعت افغانستان، مرتکب جرم شود؛ احکام این قانون بالایش تطبیق می‌گردد.

د هېواد له قلمرو څخه بهر د افغانستان د تبعه په واسطه د جرم ارتکاب

ارتکاب جرم توسط تبعهٔ افغانستان در خارج قلمرو کشور

۲۴ ماده:

که چېرې د افغانستان تبعه د هېواد له قلمرو څخه بهر د داسې عمل مرتکب شي چې ددې قانون له حکمونو سره سم، جرم پېژندل شوی وي، هېواد ته د راستنېدو په صورت کې د دې قانون له

مادهٔ ۲۴:

(۱) هرگاه تبعهٔ افغانستان در خارج قلمرو کشور مرتکب عملی گردد که طبق احکام این قانون جرم شناخته شده باشد، در صورت بازگشت به کشور طبق احکام این قانون مجازات

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمونو سره سم، مجازات کېږي، پدې شرط چې نومورې عمل د جرم د ارتکاب د محل هېواد د قانون پربنسټ، د مجازاتو وړ وي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص ثابته کړي چې د بهرني دولت محکمې د منسوبه جرم په اړه، هغه بري الذمه ګڼلی او یا دا چې هغه، په قطعي حکم سره، په جزا محکوم او مجازات پرې تطبیق شوي دي یا دا چې جزايي دعوي د قطعي حکم له صادرېدو د مخه یاد محکوم بها مجازات د جرم د ارتکاب د محل د قانون پر موجب، ساقط شوي وي؛ د هغه پر خلاف جزايي دعوي نه اقامه کېږي.

می گردد، مشروط بر این که عمل مذکور به اساس قانون کشور محل ارتکاب جرم، قابل مجازات باشد.

(۲) هرگاه شخص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده ثابت نماید که محکمهٔ دولت خارجی به ارتباط جرم منسوبه، وی را بری الذمه دانسته و یا این که وی به حکم قطعی، به جزا محکوم و مجازات بر وی تطبیق شده است یا این که دعوای جزایی قبل از صدور حکم قطعی یا مجازات محکوم بها به موجب قانون محل ارتکاب جرم، ساقط گردیده باشد؛ دعوای جزایی علیه وی اقامه نمی‌گردد.

د استرداد په صورت کې د توقیف او حبس د مودې محاسبه

محاسبه مدت توقیف وحبس در صورت استرداد

۲۵مادې:

که چېرې تورن یا محکوم علیه له هېواد څخه بهر محاکمه یا په جزا محکوم شوی وي، افغانستان ته د استرداد،

مادهٔ۲۵:

هرگاه متهم یا محکوم علیه در خارج کشور محاکمه یا محکوم به جزا گردیده باشد، در صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتقال يا راستنېدو په صورت کې، لـــه هېواد څخه بهر د توقيف او حبس تېره شوې موده د هغه د محکوم بها په موده کې محاسبه کېږي.

نړيوال واک

۲۶ماده:

هغه جرمونه چې له بين المللي سندونو سره سم جرم پېژندل شوي وي، د هغه مرتکب، په افغانستان کې د پيدا کېدو په صورت کې د هېواد د قوانينـــو لـــه حکمونو سره سم ترعدلي تعقيب لاندې نيول کېږي، پدې شرط چې دغه ډول اعمال په دې قانون کې جرم پېژنـــدل شوي وي او پر هغو باندې مجـــازات ټاکل شوي او نور سرزميني شخصي يا ذاتي واکونه د تطبيق وړ نه وي.

استرداد يا انتقال يـــا بازگشـــت بـــه افغانستان، مدت توقيف و حبس سپری شده در خارج از کشـــور در مـــدت محکوم بهای وی محاسبه می‌شود.

صلاحيت جهانی

مادۀ ۲۶:

جرايمی که مطابق اسناد بين المللـــی جرم شناخته شده باشد، مرتکب آن در صورت يافت شـــدن در افغانســـتان مطابق احکام قوانين کشور مورد تعقيب عدلی قرار داده می شود، مشروط بر اينکه اين گونه اعمال در اين قـــانون جرم شناخته شده وبـــرآن مجـــازات معـــين وســـاير صـــلاحيت هـــای سرزمينی، شخصی يا ذاتی قابل تطبيق نباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه يم باب

جرمونه

لومړی فصل

د مجازاتو د خفت او شدت له نظره د جرمونو مفهوم او ډولونه

د جرم مفهوم

۲۷ ماده:

جرم، د هغه عمل ارتکاب یا له هغه عمل څخه ډډه کول دي چې ددې قانون له حکمونو سره سم، جرم پېژندل شوی وي، عناصر يې مشخص او د هغه لپاره مجازات یا تأميني تدبيرونه تاکل شوي وي.

د مجازاتو د خفت او شدت له نظره د جرم ډولونه

۲۸ماده:

جرمونه د مجازاتو د خفت او شدت له لحاظه په قباحت، جنحه او جنایت وېشل کېږي.

باب دوم

جرایم

فصل اول

مفهوم و انواع جرایم از نظر خفت و شدت مجازات

مفهوم جرم

مادۀ ۲۷:

جرم، ارتکاب عمل یا امتناع از عملی است که مطابق احکام این قانون جرم شناخته شده، عناصرآن مشخص و برای آن مجازات یا تدابیر تأمینی تعیین گردیده باشد.

انواع جرم از نظر خفت و شدت مجازات

مادۀ ۲۸:

جرایم از لحاظ خفت وشدت مجازات به قباحت، جنحه و جنایت تقسیم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قباحت

۲۹ماده:

قباحت، هغه جرم دی چې د هغه لپاره پدې قانون کې تر دېرشو زرو افغانیو پورې نغدي جزا ټاکل شوې وي.

جنحه

۳۰ ماده:

جنحه، هغه جرم دی چې د هغه جزا پدې قانون کې د حبس بدیل، نغدي جزا، قصیر حبس یا متوسط حبس ټاکل شوي وي.

جنایت

۳۱ ماده:

جنایت، هغه جرم دی چې د هغه جزا پدې قانون کې طویل حبس، ۲ درجه دوام حبس، ۱ درجه دوام حبس او یا اعدام ټاکل شوې وي.

قباحت

مادۀ ۲۹:

قباحت، جرمی است که برای آن در این قانون جزای نقدی تا سی هزار افغانی تعیین شده باشد.

جنحه

مادۀ ۳۰:

جنحه، جرمی است که جزای آن در این قانون بدیل حبس، جزای نقدی، حبس قصیر یا حبس متوسط تعیین شده باشد.

جنایت

مادۀ ۳۱:

جنایت، جرمی است که جزای آن در این قانون حبس طویل، حبس دوام درجه ۲، حبس دوام درجه ۱ و یا اعدام تعیین شده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه يم فصل

د جرم عناصر

لومړۍ برخه

د جرم قانونی عنصر

د جرم د قانوني عنصر مفهوم

۳۲ ماده:

(۱) د جرم قانوني عنصر پدې قانون کې د جرمي عمل او د هغه د تاکلې جزا له تصريح څخه عبارت دی.

(۲) د جرم او جزا د قانونيت اصل ددې قانون په ۷ ماده کې تصريح شوی دی.

دوه يمه برخه

د جرم مادي عنصر

د جرم د مادي عنصر مفهوم

۳۳ ماده:

د جرم مادي عنصر د قانون د مخالف عمل له ارتکاب يا د هغه عمل د اجراء له ډډې کولو څخه عبارت دی چې قانون په هغه حکم کړی دی پداسې ډول چې ارتکاب يا ډډه کول په جرمي

فصل دوم

عناصر جرم

قسمت اول

عنصر قانونی جرم

مفهوم عنصر قانونی جرم

مادۀ ۳۲:

(۱) عنصر قانونی جرم عبارت از تصریح عمل جرمی و جزای معین آن در این قانون می‌باشد.

(۲) اصل قانونیت جرم وجزا در مادۀ ۷ این قانون تصریح گردیده است.

قسمت دوم

عنصر مادی جرم

مفهوم عنصر مادی جرم

مادۀ ۳۳:

عنصر مادی جرم عبارت است از ارتکاب عمل مخالف قانون یا امتناع از اجرای عملی که قانون به آن حکم نموده است به نحوی که ارتکاب یا امتناع منجر به نتیجۀ جرمی گردیده و

(c) ketabton.com: The Digital Library

پايلې تمام شي او د عمل او پايلې ترمنځ د سببيت اړيکه موجوده وي.

د قانون مخالف عمل او د قانوني عمل له اجراء څخه ډډه کول

۳۴ ماده:

(۱) د قانون مخالف عمل، د داسې فعل اجراء ده چې ارتکاب يا د هغه پيلول د قانون په واسطه منع او جرم پېژندل شوی وي.

(۲) د قانوني عمل له اجراء څخه ډډه کول، هغه فعل دی چې قانون پر هغه حکم کړی يا د هغه مکلفيت نه ايفا کول دي چې قانون شخص د هغه په اجراء ملزم کړی وي.

د جرم پايله

۳۵ ماده:

د جرم پايله د جرمي عمل له محصول څخه عبارت ده چې د جرمي فعل د ارتکاب يا د قانوني فعل له اجراء څخه د ډډې کولو له امله را منځته کېږي.

رابطهٔ سببیت میان عمل و نتیجه موجود باشد.

عمل مخالف قانون و امتناع از اجرای عمل قانونی

مادهٔ ۳۴:

(۱) عمل مخالف قانون، اجرای فعلی است که ارتکاب یا شروع به آن توسط قانون منع و جرم شناخته شده باشد.

(۲) امتناع از اجرای عمل قانونی، فعلی است که قانون به آن حکم نموده یا عدم ایفای مکلفیتی است که قانون شخص را ملزم به اجرای آن نموده باشد.

نتیجهٔ جرم

مادهٔ ۳۵:

نتیجهٔ جرم عبارت از محصول عمل جرمی است که از اثر ارتکاب فعل جرمی یا امتناع از اجرای فعل قانونی به وجود می‌آید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سببيت اړيکه

۳۶ ماده:

د سببيت اړيکه د جرمي عمل او د هغه د پايلې ترمنځ د متعارفې اړيکې له شتون څخه عبارت ده.

د عمل او پايلې ترمنځ اړيکه

۳۷ ماده:

(۱) شخص له هغه جرم څخه چې د هغه د جرمي عمل پايله نه وي، مسؤول نه پيژندل کېږي.

(۲) هغه شخص چې د هغه جرمي عمل د دمخه علتونو يا له فعل سره يوځای او يا له وروستيو علتونو څخه د يوه په اعتبار د پايلې په احداث کې سهيم شوی وي، مسؤول پيژندل کېږي.

که څه هم چې شخص د پايلې په احداث کې د خپل جرمي عمل په اغېزمنتوب، علم و نلري.

(۳) که چېرې د شخص عمل په يوازيتوب سره د جرم په احداث کې کافي وشمېرل شي، موصوف له خپل جرمي عمل څخه مسؤول پيژندل کېږي.

رابطهٔ سببیت

مادهٔ ۳۶:

رابطهٔ سببیت عبارت از موجودیت رابطهٔ متعارف میان عمل جرمی و نتیجهٔ آن می‌باشد.

رابطه میان عمل و نتیجه

مادهٔ ۳۷:

(۱) شخص از جرمی که نتیجه عمل جرمی وی نباشد، مسؤول شناخته نمی‌شود.

(۲) شخصی که عمل جرمی وی در احداث نتیجه به اعتبار یکی از علل قبلی یا توأم با فعل و یا علل بعدی، سهیم شده باشد، مسؤول شناخته می‌شود.

گرچه شخص به مؤثریت عمل جرمی خود در احداث نتیجه، علم نداشته باشد.

(۳) هرگاه عمل شخص به تنهایی در احداث نتیجهٔ جرم کافی شمرده شود، موصوف از عمل جرمی خود مسؤول شناخته می‌شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپيمه برخه

د جرم معنوي عنصر

د جرم د معنوي عنصر مفهوم

۳۸ ماده:

د جرم معنوي عنصر له جرمي قصد، په جرم او د هغه پر پايلې يا جرمي خطا له علم او خبرتيا څخه عبارت دی.

جرمي قصد

۳۹ ماده:

(۱) جرمي قصد د هغه فعل ارتکاب ته د فاعل د ارادې له سوق څخه عبارت دی چې جرم منځته راوړي، پداسې ډول چې د تر نظر لاندې جرم د پايلې په وقوع يا د بل جرم د پايلې په وقوع تمام شي.

(۲) جرمي قصد د آني، له دمخه اصرار سره يو ځای، ټاکلي او نا ټاکلي قصد ته شاملېږي.

له د مخه اصرار سره يوځای قصد

۴۰ ماده:

قصد هغه وخت له دمخه اصرار سره

قسمت سوم

عنصر معنوی جرم

مفهوم عنصر معنوی جرم

مادۀ ۳۸:

عنصر معنوی جرم عبارت است از قصد جرمی، علم و آگاهی به جرم ونتیجۀ آن یا خطای جرمی.

قصد جرمی

مادۀ ۳۹:

(۱) قصد جرمی عبارت است از سوق ارادۀ فاعل به ارتکاب فعلی که جرم را به وجود می‌آورد، به نحوی که منجر به وقوع نتیجۀ جرم مورد نظر و یا وقوع نتیجۀ جرم دیگری شود.

(۲) قصد جرمی شامل قصدآنی، توأم با اصرار قبلی، معین و غیر معین می‌باشد.

قصد توأم با اصرار قبلی

مادۀ ۴۰:

قصد زمانی توأم با اصرار قبلی شمرده

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوځای ګڼل کېږي چې مرتکب د جرم له ارتکاب څخه مخکې، د هغه د اجراء لپاره برنامه جوړه کړې وي. له دمخه اصرار سره یوځای قصد شونی دی ټاکلي شخص یا نا ټاکلي شخص ته متوجه وي.

می‌شود که مرتکب قبل از ارتکاب جرم، برای اجرای آن برنامه ریزی نموده باشد. قصد توأم با اصرار قبلی ممکن است متوجه شخص معین یا غیر معین باشد.

آني قصد

۴۱ ماده:

قصد هغه وخت آني ګڼل کېږي چې شخص د دمخه تصمیم له نیولو پرته، د بهرنیو عواملو تر اغېزې لاندې یا د آني غضب او هیجاناتو په پایله کې، په ارادې سره، د جرمي عمل مرتکب شي.

قصد آنی

مادۀ ۴۱:

قصد زمانی آنی پنداشته می‌شود که شخص بدون اتخاذ تصمیم قبلی، تحت تأثیر عوامل خارجی یا در نتیجۀ غضب آنی و هیجانات، با اراده، مرتکب عمل جرمی گردد.

ټاکلی قصد

۴۲ ماده:

قصد هغه وخت ټاکلی ګڼل کېږي چې د مرتکب اراده معینې پایلې ته متوجه وي. د جرم فاعل د خپل عمل مشخصې او معینې پایلې وړاندوینه کړې وي.

قصد معین

مادۀ ۴۲:

قصد زمانی معین پنداشته می‌شود که ارادۀ مرتکب متوجه نتیجۀ معین باشد. فاعل جرم نتیجۀ مشخص و معین عمل خود را پیش بینی نموده باشد.

نا ټاکلی قصد

۴۳ ماده:

قصد هغه وخت نا ټاکلی پېژندل کېږي

قصد غیر معین

مادۀ ۴۳:

قصد زمانی غیر معین پنداشته می‌شود

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مرتکب اراده معينې پايلې ته متوجه نه وي. مرتکب، د ټاکلي عمل يا ټاکلي پايلې قصد و نلري.

عمدي جرم

۴۴ ماده:

(۱) جرم هغه وخت عمدي پېژندل کېږي چې د هغه د مرتکب سره جرمي قصد محقق وي.

(۲) جرم په لاندې حالتونوکې هم عمدي پېژندل کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې مرتکب د عمل په اجراء يا له قانوني مکلفيت څخه له ډډې کولو او د هغو له پايلو څخه خبر وي خو بيا هم دقانون د مخالف عمل په ارتکاب يا له قانوني مکلفيت څخه په ډډې کولو يې اقدام کړی وي.

۲- په هغه صورت کې چې شخص د قانون يا موافقه ليک پر موجب، د دندې په ترسره کولو مکلفيت ولري او د هغو له ترسره کولو څخه قصداً ډډه وکړي په داسې ډول چې د هغه ډډه کول د

که ارادۀ مرتکب متوجه نتيجه معين نباشد. مرتکب، قصد عمل معين يا نتيجه معين را نداشته باشد.

جرم عمدی

مادۀ ۴۴:

(۱) جرم وقتی عمدی شناخته می شود که قصد جرمی نزد مرتکب آن محقق باشد.

(۲) جرم در حالات ذيل نيز عمدی شناخته می شود:

۱- در صورتی که مرتکب به اجرای عمل يا امتناع از مکلفيت قانونی و نتايج آن آگاهی داشته ولی با آنهم به ارتکاب عمل مخالف قانون يا امتناع از مکلفيت قانونی اقدام نموده باشد.

۲- در صورتی که شخص به موجب قانون يا موافقت‌نامه، به انجام وظيفه مکلفيت داشته و از ايفای آن قصداً امتناع ورزد، به نحوی که امتناع وی منجر به وقوع

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرم په واقع کېدو تمام شي.

خطا یا غیر عمدي جرم

۴۵ ماده:

جرم هغه وخت غیر عمدي یــا خطــا پېژندل کېږي چې د اهـــــمال، بــې احتیاطی، غفلت یا د قوانینو او مقرراتو د نه رعایت له امله یې صورت موندلی وي او فاعل د خپل عمل پایلې پېشبیني کړې نه وي.

جرمي انګېزه

۴۶ ماده:

جرمي انګېزه د جرم د معنوي عنصر په اړوند اغېزه نلري، یوزاې د مجازاتو د اقل حد او اکثر حد په تــاکلو کــې اغېزمنه ګڼل کېږي.

درېیم فصل

په جرم پیل او د هغه حالتونه

په جرم پیل

۴۷ ماده:

په جرم پیل د جنایــت یــا جنحــې د ارتکاب په قصد د عمل په اجراء لــه جرم گردد.

جرم خطا یا غیرعمدی

مادۀ ۴۵:

جرم زمانی غیر عمدی یا خطا شناخته می شود کــه بــه اثــر اهـــــمال، بی احتیاطی، غفلت یا عــدم رعایــت قوانین و مقررات صورت گرفته و فاعل نتایج عمل خود را پیش بینی نه نموده باشد.

انگیزۀ جرمی

مادۀ ۴۶:

انگیزۀ جرمی در رابطه به عنصر معنوی جرم تأثیر نداشته، صــرف در تعیــین حداقل و حد اکثر مجــازات مــؤثر دانسته می‌شود.

فصل سوم

شروع به جرم و حالات آن

شروع به جرم

مادۀ ۴۷:

شــروع بــه جــرم عبــارت اســت از آغاز به اجرای عمل به قصد ارتکاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

پيلولو څخه عبارت دی پداسې ډول چې د هغه آثار د فاعل له ارادې څخه د بهر اسبابو په پام سره متوقف يا خنثي شوي وي.

جنایت یا جنحه به نحوی که نظر به اسباب خارج از ارادهٔ فاعل آثار آن، متوقف یا خنثی شده باشد.

د جرم په ارتکاب کې د تفکر او تصميم پراوونه

مراحل تفکر و تصمیم در ارتکاب جرم

۴۸ ماده:

د جرم په ارتکاب د تفکر اړوند حالات يا مجرد تصميم په جرم پيل نه ګڼل کېږي.

مادهٔ ۴۸:

حالات مربوط به تفکر یا مجرد تصمیم به ارتکاب جرم، شروع به جرم شناخته نمی‌شود.

د تجهيزاتي وسايلو برابرول او د مقدماتي اعمالو تر سره کول

تهیهٔ وسایل تجهیزاتی و انجام اعمال مقدماتی

۴۹ ماده:

(۱) د تجهيزاتي وسايلو برابرول او د مقدماتي اعمالو تر سره کول د جرم د ارتکاب په منظور د وسايلو او آلاتو له برابرولو يا د زمينې له مساعدولو څخه عبارت دي.

(۲) د تجهيزاتي وسايلو برابرول او د مقدماتي اعمالو تر سره کول، جرم نه پيژندل کېږي، خو دا چې د تجهيزاتي وسايلو برابرول او د مقدماتي اعمالو تر

مادهٔ ۴۹:

(۱) تهیهٔ وسایل تجهیزاتی و انجام اعمال مقدماتی عبارت اند از فراهم آوری وسایل و آلات یا مساعد ساختن زمینه بمنظور ارتکاب جرم.

(۲) تهیهٔ وسایل تجهیزاتی و انجام اعمال مقدماتی، جرم شناخته نمی‌شود، مگر این که تهیه وسایل تجهیزاتی و انجام اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره کول په خپل ذات کې جرم ګڼل شوی وي.

عقيم يا مستحيل جرمونه

۵۰ ماده:

د هغه جنايت يا جنحې د ارتکاب په قصد د عمل ترسره کول چې پايله يې د جرم په موضوع يا د وسايلو استعمال پورې د اړوندو عواملو له رهګذره عقيمه يا مستحيله وي، په جرم د پيل په حکم کې ګڼل کېږي، پدې شرط چې د جرمي پايلې په احداث کې د مرتکب باور له تېرو تنې يا مطلق جهالت څخه را پيدا شوی نه وي.

ارادي انصراف

۵۱ ماده:

هغه شخص چې په آزاده اراده د جرمي عمل له ارتکاب څخه انصراف وکړي، جزايي مسؤوليت نلري.

په جنايت د پيل مجازات

۵۲ ماده:

په جنايت پيل کوونکی په لاندې مجازاتو محکومېږي، خو دا چې پدې مقدماتی به ذات خود جرم شناخته شده باشد.

جرایم عقیم یا مستحیل

مادۀ ۵۰:

اجرای عمل به قصد ارتکاب جنایت یا جنحه ای که نتیجۀ آن از رهگذر عوامل مربوط به موضوع جرم یا استعمال وسایل، عقیم یا مستحیل باشد، در حکم شروع به جرم شناخته می‌شود، مشروط بر این که باور مرتکب در احداث نتیجۀ جرمی ناشی از اشتباه یا جهالت مطلق نباشد.

انصراف ارادی

مادۀ ۵۱:

شخصی که به ارادۀ آزاد از ارتکاب عمل جرمی انصراف نماید، مسؤولیت جزایی ندارد.

مجازات شروع به جنایت

مادۀ ۵۲:

شروع کننده به جنایت به مجازات ذیل محکوم می‌گردد، مگر این که در این

(c) ketabton.com: The Digital Library

قانون کې بل ډول تصریح شوي وي:

۱- په هغو مواردو کې چې د اصل جرم جزا اعدام وي، په ۲ درجه دوام حبس.

۲- په هغو مواردوکې چې داصل جرم جزا ۱ درجه دوام حبس وي، په طویل حبس.

۳- په هغو مواردوکې چې داصل جرم جزا ۲ درجه دوام حبس وي، په متوسط حبس.

۴- په هغو مواردوکې چې داصل جرم جزا طویل حبس وي، په قصیر حبس.

په جنحې د پیل مجازات

۵۳ ماده:

په جنحې د پیل کوونکي مجازات د هغې جزا چې په قانون کې د اصل جرم لپاره پیښبیني شوې ده، د اقل حد له یو پر څلورمې زیاته نه وي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول تصریح شوي وي.

قانون طور دیگری تصریح شده باشد:

۱- در مواردی که جزای اصل جرم، اعدام باشد، به حبس دوام درجه۲.

۲- در مواردی که جزای اصل جرم، حبس دوام درجه۱باشد، به حبس طویل.

۳- در مواردی که جزای اصل جرم، حبس دوام درجه۲ باشد، به حبس متوسط.

۴- در مواردی که جزای اصل جرم، حبس طویل باشد، به حبس قصیر.

مجازات شروع به جنحه

مادۀ۵۳:

مجازات شروع کننده به جنحه از یک چهارم حد اقل جزایی که در قانون برای اصل جرم پیش بینی شده است، بیشتر نمی‌باشد، مگر این که در این قانون طور دیگری تصریح شده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جرم پيل کې د جزا د تناسب رعايت

۵۴ ماده:

محکمه مکلفه ده ترڅو په جرم د پيل د جزا په ټاکلو کې، د فعل د ټولنيز خطر ماهيت او اندازه، د فاعل شخصيت او هغه عوامل په پام کې ونيسي چې د جرم د نه ختمېدو سبب شوی دی.

په قباحت پيل

۵۵ ماده:

په قباحت پيل جرم ندی، مرتکب يې نه مجازات کېږي.

په جرم پيل کې د تبعي، تکميلي جزاګانو او تأميني تدبيرونو رعايت

۵۶ ماده:

په جرم د پيل په مجازاتو د شخص د محکوميت پر وخت په تبعي، تکميلي مجازاتو او تأميني تدبيرونو پورې متعلق خاص حکمونه چې د تام جرم په هکله پېښبيني شوي دي، په جرم دپيل د جزا په هکله هم تطبيقېږي.

رعایت تناسب جزا در شروع به جرم

مادۀ۵۴:

محکمه مکلف است تا در تعیین جزای شروع به جرم، ماهیت و اندازۀ خطر اجتماعی فعل، شخصیت فاعل و عواملی را در نظر بگیرد که سبب عدم اتمام جرم گردیده است.

شروع به قباحت

مادۀ ۵۵:

شروع به قباحت جرم نبوده، مرتکب آن، مجازات نمی گردد.

رعایت جزاهای تبعی، تکمیلی و تدابیر تأمینی در شروع به جرم

مادۀ۵۶:

حین محکومیت شخص به مجازات شروع به جرم، احکام خاص متعلق به جزاهای تبعی، تکمیلی و تدابیر تأمینی که در مورد جرم تام پیش بینی شده است، در مورد جزای شروع به جرم نیز تطبیق می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم فصل

د جرم فاعل، شريک او معاون

د جرم فاعل

۵۷ ماده:

(۱) فاعل، هغه شخص دی چې په يوازيتوب يا د نورو په ګډون د جرم د مادي عمل مرتکب شوی وي.

(۲) فاعل د مرتکبه جرم په ټاکلې جزا محکومېږي.

د جرم شريک

۵۸ ماده:

(۱) شريک، هغه شخص دی چې د جرم له مادي اعمالو څخه د يوه يا څو عملونو په ارتکاب کې، آګاهانه او په مستقيم ډول له فاعل يا نورو فاعلينو سره سهيم (برخوال) وي.

(۲) شريک د هغه جرم په مجازاتو چې ګډون يې پکې کړی دی، محکومېږي.

فصل چهارم

فاعل، شريک و معاون جرم

فاعل جرم

مادهٔ۵۷:

(۱) فاعل، شخصی است که عمل مادی جرم را به تنهایی یا به اشتراک دیگران مرتکب شده باشد.

(۲) فاعل به جزای معینهٔ جرم مرتکبه، محکوم می‌گردد.

شریک جرم

مادهٔ۵۸:

(۱) شریک، شخصی است که در ارتکاب یک یا چند عمل از اعمال مادی جرم، آگاهانه و به طور مستقیم با فاعل یا فاعلین دیگر سهیم باشد.

(۲) شریک به مجازات جرمی که در آن اشتراک نموده است، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جرم معاون

۵۹ ماده:

(۱) په جرم کې معاونت د سببیت په شکل په مجرمانه عمل کې د دخالت په معني دی، پداسې ډول چې معاون د جرم د مادي عمل په ارتکاب کې مستقیم دخالت ونلري.

(۲) شخص له لاندې حالتونو څخه په یوۀ کې د جرم معاون پېژندل کېږي:

۱- شخص د جرم ارتکاب ته تحریک، تهدید، تطمیع، یا وهڅوي یا په دسېسې یا فریب یا له قدرت څخه په ناوړې ګټې اخیستنې سره د جرم د وقوع موجب شي.

۲- د جرم په ارتکاب له بل شخص سره موافقه وکړي او جرم د همدې موافقې له امله منځته راشي.

۳- د جرم له فاعل سره په یو ډول نه یو ډول د جرم د ارتکاب په تجهیزاتي یا تسهیلاتي اعمالو کې په هغو د علم په لرلو سره، مرسته وکړي او جرم د همدې مرستې له امله منځته راشي.

معاون جرم

مادۀ ۵۹:

(۱) معاونت درجرم به معنی دخالت در عمل مجرمانه به شکل سببیت است طوریکه معاون در ارتکاب عمل مادی جرم دخالت مستقیم نداشته باشد.

(۲) شخص در یکی از حالات آتی معاون جرم شناخته می شود:

۱- به ارتکاب جرم شخص را تحریک، تهدید، تطمیع یا تشویق نماید یا با دسیسه یا فریب یا سوء استفاده از قدرت موجب وقوع جرم گردد.

۲- به ارتکاب جرم با شخص دیگری موافقت نماید و جرم به اثر همین موافقت بوجود آید.

۳- فاعل جرم را به نحوی از انحاء در اعمال تجهیزاتی یا تسهیلاتی ارتکاب جرم با داشتن علم به آن، کمک نماید و جرم در اثر همین کمک به وجود آید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) معاون د مرتکبه جرم له مجازاتو څخه په یوه ټیټه درجه جزا محکومېږي. خو داچې پدې قانون کې بل ډول حکم شوی وي.

(۳) معاون به جزای یک درجه پائین تر از مجازات جرم مرتکبه محکوم می گردد. مگر این که در این قانون طور دیگری حکم شده باشد.

سازمان ورکوونکی

سازمانده

۶۰ ماده:

مادۀ ۶۰:

(۱) سازمان ورکوونکی هغه شخص دی چې جرمي سازمان موندل شوې ډله جوړه، رهبري، هدایت یا سازماندهي کړي.

(۱) سازمانده شخصی است که گروه سازمان یافتۀ جرمی را تشکیل، رهبری، هدایت یا سازماندهی نماید.

(۲) سازمان ورکوونکی د مرتکبه جرم د اکثرحد په یو نیم چند مجازاتو محکومېږي. پدې شرط چې د حبس موده له دېرشو کلونو څخه تجاوز ونکړي.

(۲) سازمانده به یک و نیم چند حد اکثر مجازات جرم مرتکبه محکوم می گردد. مشروط بر این که مدت حبس از سی سال تجاوز ننماید.

جرمي سازمان موندل شوې ډله

گروه سازمان یافتۀ جرمی

۶۱ ماده:

مادۀ ۶۱:

(۱) جرمي سازمان شوې ډله د دریو تنو یا زیاتو له هغۀ منسجم تشکل څخه عبارت ده چې په منظمه توګه د جنایت یا جنحې د یوۀ یا څو جرمونو د ارتکاب په موخه، د مستقیم یا غیرمستقیم

(۱) گروه سازمان یافتۀ جرمی عبارت است از تشکل منسجم سه نفر یا بیش از آن، که به صورت منظم به هدف ارتکاب یک یا چند جرم جنایت یا جنحه، جهت حصول مستقیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

منفعت د ترلاسه کولو لپاره، فعالیت وکړي.

(۲) د سازمان موندل شوو جرمونو مرتکبین د مرتکبه جرم په اکثر حد مجازاتو، محکومېږي.

د اباحت د اسبابو رعایت او د شریک یا معاون په هکله د مسؤولیت خنډونه

۶۲ ماده:

(۱) که چېرې فاعل د اباحت د اسبابو د شتون په دلیل مجازات نشي، شریک او معاون هم نه مجازات کېږي.

(۲) په هغو مواردوکې چې د جرم فاعل د جزایی مسؤولیت د خنډونو د شتون په دلیل مجازات نشي دغه امر د جرم د شریک او معاون د مجازاتو خنډ نه کېږي.

د جرم غیر متوقعه پایله

۶۳ ماده:

که چېرې د جرم فاعل او شریک د داسې عمل مرتکب شي چې د هغۀ د پایلې د واقع کېدو قصد ونلري، د هغۀ یا غیر مستقیم منفعت فعالیت نماید.

(۲) مرتکبین جرایم سازمان یافته به حد اکثر مجازات جرم مرتکبه، محکوم می‌گردند.

رعایت اسباب اباحت و موانع مسؤولیت در مورد شریک یا معاون

مادۀ۶۲:

(۱) هرگاه فاعل به دلیل موجودیت اسباب اباحت مجازات نشود، شریک و معاون نیز مجازات نمی‌گردد.

(۲) در مواردی که فاعل جرم به دلیل وجود موانع مسؤولیت جزایی مجازات نشود این امر مانع مجازات شریک و معاون جرم نمی‌گردد.

نتیجۀ غیر متوقعۀ جرم

مادۀ۶۳:

هرگاه فاعل و شریک جرم عملی را مرتکب گردند که قصد وقوع نتیجۀ آن را نداشته باشند، به جزای جرمی که

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرم په جزا چې واقع شوی دی محکومېږي، پدې شرط چې نومورې جرم د پېښبني وړ وي او د هغوی د عمل پايله وي.

واقع شده است محکوم می‌گردند، مشروط بر این که جرم مذکور قابل پیش بینی بوده و نتیجهٔ عمل آنها باشد.

د جرم يا جزا د وصف بدلون

تغییر وصف جرم یا جزا

۶۴ ماده:

مادهٔ۶۴:

که چېرې د جرمي عمل د ارتکاب په وخت کې، داسې مادي حالات پېښ شي چې د هغو له امله د جرم يا جزا وصف بدلون ومومي، د هغو پايلې پر ټولو فاعلينو، شريکانو او معاونانو تطبيقېږي، پدې شرط چې نومورې حالات د هغوی د ټولو د عمل په پايله کې منځته راغلي وي.

هرگاه در اثنای ارتکاب عمل جرمی، حالات مادی رخ دهد که از اثر آن وصف جرم یا جزا تغییر نماید، نتایج آن بالای همه فاعلین، شرکا و معاونین تطبیق می‌گردد، مشروط بر این که حالات مذکور در نتیجهٔ عمل همه آنها به وجود آمده باشد.

د جرم يا جزا د وصف په بدلون کې د خاص حالت راڅرګندېدل

بروز حالت خاص در تغییر وصف جرم یا جزا

۶۵ ماده:

مادهٔ۶۵:

(۱) که چېرې له شريکانو يا معاونانو څخه د يوۀ په هکله خاص حالات شتون ومومي چې د هغۀ په اړه د جرم په وصف کې د بدلون موجب شي، د هغو پايلې پر نورو شريکانو يا معاونانو اغېزه

(۱) هرگاه در مورد یکی از شرکا یا معاونین حالات خاصی موجود شود که موجب تغییر وصف جرم در مورد وی گردد، نتایج آن به سایر شرکاء یا معاونین، تأثیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نلري.

(۲) په شريک يا معاون باندې د خاصو حالاتو پايلې هغۀ وخت اغېزناکې دي چې پرهغو خبرتيا ولري.

(۳) که چېرې داسې خاص حالات شتون ومومي چې له شريکانو او معاونينو څخه د يوۀ په هکله د جزا د بدلون موجب شي، د هغو پايلې پر نورو شريکانو او معاونانو اغېزه نه اچوي.

د فاعل په قصد کې بدلون

٦٦ ماده:

که چېرې د فاعل قصد يا د هغۀ د علم څرنګوالي ته په پام سره، د جرم په وصف کې بدلون راشي، نور شريکان، معاونان او فاعلين د جرم ارتکاب ته د هغوی د قصد او د علم له څرنګوالي سره سم، مجازات کېږي.

د فاعلينو تعدد او مشدده حالت

٦٧ ماده:

که چېرې دغه قانون د فاعلينو تعدد د جرم مشدده حالت وګڼي، د جرم په ارتکاب کې د شريک شتون د تعدد په ندارد.

(۲) نتايج حالات خاص بر شريک يا معاون زمانی مؤثر می‌باشد که به آن آگاهی داشته باشد.

(۳) هرگاه حالات خاصی موجود شود که موجب تغيير جزا در مورد يکی از شرکاء يا معاونين گردد، نتايج آن بر ساير شرکاء يا معاونين، تأثير وارد نمی‌کند.

تغيير در قصد فاعل

مادۀ٦٦:

هرگاه نظر به قصد فاعل يا چگونگی علم وی، در وصف جرم تغيير وارد گردد، ساير شرکا، معاونين و فاعلين مطابق قصد و چگونگی علم شان به ارتکاب جرم، مجازات می‌گردند.

تعدد فاعلين و حالت مشدده

مادۀ٦٧:

هرگاه اين قانون تعدد فاعلين را حالت مشددۀ جرم بداند، موجوديت شريک در ارتکاب جرم در حکم تعدد

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم کې پېژندل کېږي.

شناخته می‌شود.

د منفردې یا تضامني نغدي جزا تطبیق

تطبیق جزای نقدی منفرد یا تضامنی

۶۸ ماده:

مادهٔ۶۸:

(۱) که چېرې څو تنه فاعلین او شریکان د واحد جرم د ارتکاب له لحاظه، په واحد حکم سره په نغدي جزا محکوم شي، دغه حکم له هغوی څخه پر هر یوهٔ منفرداً تطبیقېږي.

(۱) هرگاه چند نفر فاعل و شریک از لحاظ ارتکاب جرم واحد، به حکم واحد به جزای نقدی محکوم شوند، این حکم بر هر کدام آنها منفرداً تطبیق می‌شود.

(۲) که چېرې په نغدي جزا حکم د هغې مالي کتې (مفاد) معادل وي چې د جرم د ارتکاب له لارې ترلاسه شوې یا د هغې د استحصال توقع کېدی شوه، حکم پرهغو محکومینو چې په واحد حکم په نغدي جزا محکوم شوي دي، په تضامني توګه تطبیقېږي، خو داچې قانون بلډول تصریح کړي وي.

(۲) هرگاه حکم به جزای نقدی معادل مفاد مالی باشد که از رهگذر ارتکاب جرم حاصل گردیده یا توقع استحصال آن برده می‌شد، حکم بالای محکومینی که به حکم واحد به جزای نقدی محکوم شده اند، به طور تضامنی تطبیق می گردد، مگر این که قانون طور دیگری تصریح نموده باشد.

د جرم له ارتکاب څخه انصراف

انصراف از ارتکاب جرم

۶۹ ماده:

مادهٔ۶۹:

که چېرې فاعل، شریک، سازمانوونکی یا معاون د واقع کېدو په حال کې جرم له ارتکاب څخه په خپله رضا انصراف

هر گاه فاعل، شریک، سازمانده یا معاون از ارتکاب جرم در حال وقوع به رضای خود انصراف و امتناع ورزد،

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ډډه وکړي، تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي، پدې شرط چې د واقع کېدو په حال کې جرم په هکله د جرم د کشف ادارو ته خبر ورکړي يا فاعل داسې عمل ته اړ کړي چې د هغـــۀ د جرمي عمل د ترسره کولو خنډ شي.

پنځم فصل

په جرم کې اتفاق

په جرم کې اتفاق

۷۰ ماده:

په جرم کې اتفاق د جنحې يا جنايت د ارتکاب په منظور د دوو يا له دوو څخه د زياتو اشخاصو له منظم او پرله پسې اتحاد څخه عبارت دی.

په جرم کې د اتفـــاق د مرتکـــب مجازات

۷۱ ماده:

په جنحه کې د اتفاق مرتکب په قصير حبس او په جنايت کې په متوسط حبس محکومېږي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول پېشبيني شوي وي.

۹- د ښوونې او روزنې، د کورنۍ او ټولنيز معاشرت د آدابو په زده کولو او هغوی د پابندی الزام.

محلات معين.

۳- ملزم ساختن به اشتراک درجلسات مشورتی ماهانه يا کمتر از آن.

۴- حرفه آموزی يا گذراندن دوره های آموزشی ومهارتی.

۵- مساعدت به مجنی عليه درجهت رفع يا کاهش آثار زيان بار مادی يا معنوی ناشی از جرم و کسب رضايت مجنی عليه.

۶- حاضری دادن به دفترپوليس يا مرجعی که محکمه تعيين می‌نمايد.

۷- ترک معاشرت با اشخاصی که محکمه معاشرت با آنها را برای محکوم عليه مضر تشخيص می‌دهد.

۸- منع اشتغال به کارهای معينی که زمينه ارتکاب جرم را فراهم نمايد.

۹- الزام به فراگيری تعليم وتربيه، آداب معاشرت خانوادگی واجتماعی وپابندی به آن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- د رواني، رفتاري او جسماني اختلالاتو درملنې ته اقدام.

د محکوم علیه لخوا د محکمې د حکم نه رعایت

۱۵۹ ماده:

(۱) که چېرې محکوم علیه د محکمې حکم رعایت نکړي، محکمه کولای شي د لومړي ځل لپاره تر یونیم چنده د هغهٔ د مراقبت دوره تمدید کړي.

(۲) که چېرې محکوم علیه د محکمې د حکم له اجراء څخه د دوه یم ځل لپاره ډډه وکړي، د حکم صادروونکې محکمه، مراقبت لغو او د مراقبت د دورې پاتې موده په تنفیذي حبس بدلوي.

د مراقبت د دورې راتیټول

۱۶۰ ماده:

که چېرې د محکوم علیه وضعیت، د هغهٔ د رفتار د اصلاح ښودونکی وي، محکمه کولای شي یوازې د یوځل لپاره د مراقبت دوره زیات نه زیات د هغې تر نیمایي پورې راتیټه کړي یا له ځینو

۱۰- اقدام به درمان اختلال‌های روانی، رفتاری وجسمانی.

عدم رعایت حکم محکمه از طرف محکوم علیه

مادهٔ ۱۵۹:

(۱) هرگاه محکوم علیه حکم محکمه را رعایت نه نماید، محکمه می تواند برای بار اول تا یک‌ونیم چند، دورهٔ مراقبت وی را تمدید نماید.

(۲) هرگاه محکوم علیه از اجرای فیصله محکمه برای بار دوم خود داری نماید، محکمهٔ صادر کننده حکم، مراقبت را لغو و مدت باقی مانده دوره مراقبت را به حبس تنفیذی تبدیل می نماید.

کاهش دوره مراقبت

مادهٔ ۱۶۰:

هرگاه وضعیت محکوم علیه نشان دهنده اصلاح رفتار وی باشد، محکمه می‌تواند صرف برای یک بار دورهٔ مراقبت را حد اکثر تا نصف آن کاهش داده یا از برخی دساتیر صادر شدهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو صادرشوو دساتيرو څخه تپره شي.

پر محکوم عليه د مراقبت او نظارت څرنګوالی

۱۶۱ ماده:

(۱) محکمه د مرتکبه جرم ډول او د محکوم عليه شخصيت ته په پام سره پر محکوم عليه د مراقبت او نظارت څرنګوالی مشخصوي.

(۲) محکوم عليه مکلف دی د شغل، دايمي ميشت ځای له بدلون او په بل ځای کې له خپل ځای پرځای کېدو څخه د حکم له تطبيق څخه نظارت کوونکې مرجع ته خبر ورکړي.

دیگر صرف نظر کند.

چگونگی مراقبت و نظارت بر محکوم علیه

مادۀ ۱۶۱:

(۱) محکمه با نظر داشت نوع جرم مرتکبه وشخصیت محکوم علیه، چگونگی مراقبت ونظارت برمحکوم علیه را مشخص می‌نماید.

(۲) محکوم علیه مکلف است از تغییر شغل، محل اقامت دایمی وجابجایی خود درمحل دیگر، مرجع نظارت کننده از تطبیق حکم را اطلاع دهد.

درېيمه فرع

د عامه خدمتونو ترسره کول

عامه خدمتونه

۱۶۲ ماده:

(۱) عامه خدمتونه له هغۀ کار څخه عبارت دي چې د جرم مرتکب د ټولنې په ګټه د هغو په ترسره کولو، د مزد په قسمي ترلاسه کولو يا له هغۀ څخه پرته،

فرع سوم

انجام خدمات عامه

خدمات عامه

مادۀ ۱۶۲:

(۱) خدمات عامه عبارت ازکاری است که مرتکب جرم به انجام آن به نفع جامعه با دریافت قسمی مزد و یا بدون آن، محکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکومېږي.

(۲) محکمه د جرم مرتکب د جرم ډول، سن، جنس، جسمي يا رواني توانمني، شغل، مهارت او د هغه اقتصادي او ټولنيزې وضع ته په کتو سره، د عامه خدمتونو په ترسره کولو مکلفوي.

(۳) د عامه خدمتونو د مجازاتو په ټاکلو کې، د محکوم عليه د رضايت اخيستل حتمي دي.

(۴) له ۱۵ کلونو لاندې شخص، د عامه خدمتونو په ترسره کولو محکومېداي نشي.

(۵) محکمه د عامه خدمتونو ميزان، د مرتکبه جرم د شدت او خفت د درجې او د مرتکب د شخصيت په تناسب ټاکي.

د عامه خدمتونو د ترسره کولو ساعتونو ميزان

۱۶۳ ماده:

د عامه خدمتونو د اندازې مجموع په ساعت سره ټاکل کېږي او د عامه

می گردد.

(۲) محکمه مرتکب جرم را با نظر داشت نوع جرم، سن، جنس، توانایی جسمی یا روانی، شغل، مهارت و وضع اقتصادی و اجتماعی وی، مکلف به انجام خدمات عامه می‌سازد.

(۳) در تعیین مجازات خدمات عامه، اخذ رضایت محکوم علیه حتمی می باشد.

(۴) شخص زیر ۱۵ سال، به انجام خدمات عامه، محکوم شده نمی‌تواند.

(۵) محکمه میزان خدمات عامه را با تناسب درجه شدت و خفت جرم مرتکبه و شخصیت مرتکب تعیین می نماید.

میزان ساعات انجام خدمات عامه

مادۀ۱۶۳:

مجموع اندازه خدمات عامه به ساعت تعیین می گردد و میزان ساعات انجام

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمتونو د ترسره کولــو د ســاعتونو میزان په یوه شپه ورځ کې اقل حد ۴ ساعته او اکثر حد ۸ ساعته دی.

د عا مه خدمتونو د ترسره کولو پر وخت د کار د شرایطو او ضوابطو رعایت

۱۶۴ماده:

محکمه مکلفه ده په عامه خــدمتونو د حکم پر وخت، د ښــځو او تنکیــو ځوانانو د کار په ځانګړو شرایطو پورې اړوند قوانین او مقــررات، د کــار د روغتیا دسختو، ثقیلو او روغتیا تــه د مضرو کارونو ضوابط رعایت کړي.

د عامه خدمتونو تعلیق یا تبدیل

۱۶۵ ماده:

محکمه کولی شي د محکــوم علیــه، اړوند مدافع وکیل یــا څارنـــوال د غوښتنې پربنســټ د محکــوم علیــه جسماني وضع او د صحي خــدمتونو اړتیا یا کورنیو ستونزو ته په کتو سره د عامه خدمتونو ترسره کول د محکومیت د دورې په اوږدو کې په مؤقته توګــه

خدمات عامه حــداقل ۴ ســاعت و حداکثر ۸ ساعت در یک شــبانه روز می‌باشد.

رعایـــت شـــرایط و ضـــوابط کـــار حـــین انجـــام خـــدمات عامه

مادۀ۱۶۴:

محکمـــه مکلـــف اســـت حـــین حکم بــه خــدمات عامــه قــوانین ومقررات مربوط بــه شــرایط ویــژه کار زنـــان و نوجوانـــان، بهداشـــت کـــار، ضـــوابط کارهـــای دشـــوار، ثقیل ومضر صحت را رعایت نماید.

تعلیق یا تبدیل خدمات عامه

مادۀ ۱۶۵:

محکمه می‌تواند به اســاس تقاضــای محکوم علیه، وکیل مدافع یا څارنوال مربوطه، نظر بــه وضــع جســمانی ونیاز به خدمات صحی یا مشــکلات خـــانوادگی محکـــوم علیـــه، انجام خدمات عامه را به طور مؤقــت حــداکثر تــا ســه مــاه درطــول

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات نه زيات تر دريو مياشتو تعليق کړي يا هغه د حبس د بديل پر نورو جزاګانو تبديل کړي.

د عامه خدمتو له ترسره کولو څخه ډډه کول

۱۶۶ ماده:

که چېرې محکوم عليه له مؤجه عذر پرته، د عامه خدمتونو له ترسره کولو يا د کار د ترسره کولو لپاره له ټاکلو شرايطو څخه تخلف وکړي، لومړی ځل زيات نه زيات تر ۸۰ ساعتونو پورې د هغۀ د عامه خدمتونو د ترسره کولو په ساعتونو کې زياتېږي، د تکرار په صورت کې، محکمه کولی شي د اړوند څارنوال د وړانديز پربنسټ د هغۀ د عامه خدمتونو پاتې موده په حبس بدله کړي.

پدې صورت کې محکوم عليه له پاتې ساعتونو څخه د هرو ۸ ساعتونو په وړاندې يوه شپه او ورځ زنداني کېږي.

دورۀ محکوميت، تعليق کرده يا آن را به سايرجزا های بديل حبس تبديل نمايد.

خود داری از انجام خدمات عامه

مادۀ ۱۶۶:

هرگاه محکوم عليه بدون عذر مؤجه، از انجام خدمات عامه يا از شرايط مقرر برای انجام کار تخلف ورزد، بار اول حد اکثر تا۸۰ ساعت، در ساعت های انجام خدمات عامه وی افزود می گردد، در صورت تکرار، محکمه می‌تواند به اساس پيشنهاد څارنوال مربوطه، مدت خدمات عامه باقيمانده وی را به حبس تبديل نمايد.

در اين صورت محکوم عليه در برابر هر ۸ ساعت از ساعات باقيمانده يک شبانه روز زندانی می‌شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورمه فرع
له ټولنيزو حقوقو څخه
محروميت

د حبس د بديل په توګه له ټولنيزو حقوقو څخه د محروميت موارد

۱۶۷ ماده:

محکمه کولای شي پدې فصل کې د درج شوو شرايطو په رعايت سره هغه محکوم عليه چې د قصير حبس د جزا مستوجب وي، د ټاکلې مودې لپاره د حبس د بديلې جزا په توګه په لاندې توګه د ټولنيز حق له يوۀ يا له يوۀ څخه له زياتو محروم کړي:

۱- د يوې رتبې يا درجې راتيټول.

۲- د يوۀ کال لپاره د معاش ديوه پردرېيمه کسر.

۳- ارتکابي جرم ته په کتو سره له دولتي مشاغلو او په غير دولتي عمومي مؤسسو او بنسټونو کې له شپږو مياشتو څخه تر دووکلونو پورې د خدمت مؤقت انفصال.

فرع چهارم
محرومیت از حقوق
اجتماعی

موارد محرومیت از حقوق اجتماعی منحیث بدیل حبس

مادۀ ۱۶۷:

محکمه می‌تواند با رعایت شرایط مندرج در این فصل، محکوم علیه را که مستوجب جزای حبس قصیر باشد، برای مدت معین از یک یا بیش از یک حق اجتماعی منحیث جزای بدیل حبس قرار ذیل، محروم کند:

۱- تنزیل یک رتبه یا درجه.

۲- کسر یک سوم معاش برای یک سال.

۳- انفصال مؤقت از مشاغل دولتی و خدمت در مؤسسه ها ونهادهای عمومی غیر دولتی با توجه به جرم ارتکابی از شش ماه تا دوسال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په شغل یا کسب یا ټاکلې حرفه له بوختېدو څخه تر یوۀ کاله پورې منع په هغۀ صورت کې چې جرم د هغۀ په شغل پورې اړوند وي.

۴- منع از اشتغال به شغل یا کسب یا حرفه معین در صورتی که جرم مربوط به شغل وی باشد، تا یک سال.

۵- له یوۀ څخه تر دریو کلونو پورې د ټاکلي شغل د فعالیت د جواز له ترلاسه کولو محرومیت.

۵- محرومیت ازدریافت جواز فعالیت شغل معین از یک تا سه سال.

۶- د سوداګریزو شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مؤسس هیئت او مدیره هیئت کې له غړیتوب څخه محرومیت او یا له عامل مدیریت څخه تر یوۀ کاله پورې محرومیت.

۶- محرومیت از عضویت درهیئت مؤسس وهیئت مدیره شرکت‌های تجارتی، بانک‌ها ومؤسسه ها یا محرومیت از مدیریت عامل تا یک سال.

۷- له دولتي ادارو یا غیر دولتي مؤسسو سره له معاملې یا په مزایده او مناقصه کې له ګډون څخه له یوۀ څخه تر پنځو کلونو پورې محرومیت.

۷- محرومیت از معامله با ادارات دولتی یا مؤسسه های غیر دولتی یا شرکت درمزایده ومناقصه ازیک تا پنج سال.

۸- له چلونې څخه محرومیت، له شپږو میاشتو څخه تر دریو کلونو پورې.

۸- محرومیت از رانندگی از شش ماه تا سه سال.

۹- د ټاکلو حسابونو بندول (مسدودول) یا د جاري حساب له پرانیستلو څخه محرومیت یا د بانکونو او نورو مالي مؤسسو د آسانتیاوو او اعتباراتو له ترلاسه کولو څخه له یوۀ

۹- مسدود کردن حساب‌های معین یا محرومیت از افتتاح حساب جاری ویا محرومیت ازدریافت تسهیلات واعتبارات بانک‌ها وسایر مؤسسه های مالی از یک تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه تر دريو کلونو پورې محروميت.

۱۰- د وسلې لرونکو مجازو افرادو د وسلې له کړځولو څخه تر دوو کلونو پورې محروميت.

۱۱- له هېواده د بهرنيو اتباعو اېستل (اخراج) او له يوهٔ څخه تر پنځو کلونو پورې افغانستان ته دهغوی د بيا دننه کېدو منع.

۱۲- له شپږو مياشتو څخه تر يوهٔ کاله پورې له هېواده د افغاني اتباعو د وتلو منع.

سه سال.

۱۰- محرومیت از حمل سلاح برای افراد مجاز دارندهٔ سلاح تا دوسال.

۱۱- اخراج اتباع خارجی ازکشور ومنع ورود مجدد آنها به افغانستان ازیک تا پنج سال.

۱۲- منع خروج اتباع افغانی از کشور از شش ماه تا یک سال.

پنځمه فرع
په کورکې حبس
د بديل په توګه په کورکې حبس

فرع پنجم
حبس درمنزل
حبس در منزل منحیث بدیل

۱۶۸ ماده:

(۱) محکمه کولای شي پدې فصل کې د درج شوو شرايطو په رعايت سره هغه محکوم عليه چې تر پنځو کلونو پورې د حبس د جزا مستوجب وي، په کورکې د حبس په تبرولو حکم وکړي.

(۲) په کور کې په حبس محکوم نشي کولای له کوره ووځي، خو د ضروري

مادهٔ۱۶۸:

(۱) محکمه می تواند با رعایت شرایط مندرج این فصل، محکوم علیه را که مستوجب جزای حبس تا پنج سال باشد به سپری نمودن حبس در منزل حکم نماید.

(۲) محکوم به حبس در منزل نمی تواند از منزل خارج شود، مگر به

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارو د ترسره کولو لپاره د واکمنـــې محکمې په اجازه.

(۳) په کور کې د حبس موده له شپږو میاشتو څخه تر دووکلونو پورې ده.

(۴) په کورکې د محکوم علیه حضور، د هغې الکترونیکي وسیلې له لارې چې د حبس د بدیل د جزاګانو پر تطبیق د نظارت په مرکز کې شتون لري یـــا د ټولنیز مرستندوی په واسطه،کنترولېږي.

(۵) که چېرې محکوم علیه په کور کې د حبس شرایط چې د مخه د محکمې په حکم کې تصریح شوي دي، رعایت نکړي، د بدیل حبس د جزا پاتې موده په تنفیذي حبس بدلېږي.

اجازهٔ محکمهٔ ذیصلاح، غرض انجـــام امور ضروری.

(۳) مدت حبس درمنزل از شش ماه تا دوسال می‌باشد.

(۴) حضور محکوم علیه درمنـــزل، از طریق وسیله الکترونیکی که در مرکز نظارت بر تطبیق جزاهای بدیل حـــبس وجود دارد یا توسط مددگار اجتماعی، کنترول می‌گردد.

(۵) هرگاه محکوم علیه شرایط حبس درمنزل را که قبلاً درحکم محکمـــه تصریح شده است رعایت نکند، مدت باقیماندهٔ جزای بدیل حبس به حـــبس تنفیذی تبدیل می‌گردد.

څلورمه برخه

د اعدام جزا

قسمت چهارم

جزای اعدام

اعدام

۱۶۹ ماده:

اعدام د واکمنې محکمې له حکم او د جمهور رئیس له منظوری ورروســـته د قانون پربنسټ د حقیقـــي شـــخص د حیات له ازالې څخه عبارت دی.

اعدام

مادهٔ۱۶۹:

اعدام عبارت از ازاله حیات شـــخص حقیقی است به اساس قانون بعـــد از حکم محکمهٔ ذیصلاح ومنظوری رئیس جمهور.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اعدام د جزا موارد

۱۷۰ ماده:

د اعدام د جزا موارد په لاندې ډول دي، خو دا چې پدې قانون کې بل ډول تصريح شوي وي:

۱- د نسل وژنې، د بشريت ضد، جنګي د دولت پرخلاف د تجاوز، ترور او چاودنې، اختطاف او برمته کولو يا قطاع الطريقۍ جرمونه چې د هغو ارتکاب د شخص يا اشخاصو د مرګ سبب شي.

۲- عمد قتل په هغو مواردو کې چې پدې قانون کې پېشبيني شوي دي.

۳- هغه جرمونه چې په پايله کې يې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت ځمکه ټوله د بهرني دولت تر حاکميت لاندې ورکول شي يا د هېواد ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا يا خپلواکۍ ته زيان ورسېږي.

۴- پر ښځه باندې ډله ييز جنسي تېری.

۵- پر نارينه باندې ډله ييز جنسي

موارد جزای اعدام

مادۀ ۱۷۰:

موارد جزای اعدام قرار ذیل است، مگر اینکه در این قانون طوری دیگری تصریح گردیده باشد:

۱- جرایم نسل کشی، ضد بشری، جنگی، تجاوز علیه دولت، ترور و انفجار، اختطاف وگروگان گیری یا قطاع الطریقی که ارتکاب آن سبب مرگ شخص یا اشخاص شود.

۲- قتل عمد در مواردی که در این قانون پیش بینی گردیده است.

۳- جرایمی که در نتیجۀ آن اراضی دولت جمهوری اسلامی افغانستان تماماً تحت حاکمیت دولت خارجی قرار داده شود یا به حاکمیت ملی، تمامیت ارضی یا استقلال کشور صدمه وارد گردد.

۴- تجاوز جنسی گروهی بر زن.

۵- تجاوز جنسی گروهی بر مرد

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبری، چې د مجني علیه د مړینې لامل شي.

درېیم فصل

تبعي جزاګانې

تبعي جزا

۱۷۱ ماده:

تبعي جزا هغه مجازات دي چې له اصلي جزا څخه په تبعیت سره پر محکوم علیه د قانون په حکم تطبیقېږي، پرته لــدې چې د محکمې په حکم کې پر هغــې تصریح شوې وي.

د تبعي جزا ډول

۱۷۲ ماده:

هغه شخص چې له لسوکلونو څخــه د زیات حبس په جزا یا د دې قــانون د دوه یم کتاب په لومړي او دوه یم باب کې په درج شوو جرمونو کې له لســو کلونو څخه په لږ حبس محکوم شي، له لاندې حقوقو او امتیازونو څخه هــم محرومېږي، خو دا چې دقــانون یــا محکمې په حکم اعادهٔ حیثیت شــوی وي:

کــه باعــث مــرګ مجنــی علیــه گردد.

فصل سوم

جزاهای تبعی

جزای تبعی

مادهٔ ۱۷۱:

جزای تبعی مجازاتی است که به تبعیت از جزای اصلی بالای محکوم علیه به حکم قانون تطبیق می‌گردد، بدون این که در حکم محکمه به آن تصریح شده باشد.

نوعیت جزای تبعی

مادهٔ ۱۷۲:

شخصی‌که به جزای حبس بــیش ازده ســال یــا بــه حــبس کمتــر از ده ســال در جــرایم منــدرج باب اول و دوم کتاب دوم این قانون محکــوم گــردد، از حقــوق و امتیازات ذیل نیز محروم می‌شــود، مگراین‌کــه بــه حکــم قــانون یــا محکمــه اعــادهٔ حیثیــت شــده باشد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- په دولتي دري کونو قواوو او نورو دولتي بنسټونو کې خدمت.
۲- په ټاکنيزو عهدو کې نوماند کېدل.
۳- له نښانونو، مډالونو او دولتي افتخاري القابو څخه استفاده.
۴- د اداري او مالي فساد د جرم د ارتکاب په سبب د محکوميت په صورت کې د شرکتونو، بانکونو او مؤسسو په مديره هيئت کې غړيتوب.
۵- له ادارو، تصديو، دولتي او مختلطو مؤسسو سره د قرارداد عقد يا د مالي جرمونو د ارتکاب په صورت کې د دولت لخوا د امتياز ترلاسه کول.

د تبعي جزاګانو نور ډولونه

۱۷۳ ماده:

د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې درج شوی شخص د محکوميت په موده کې له لا ندې حقوقو او امتيازونو څخه هم محرومېږي:
۱- په معاملو او دعواوو کې وصايت، وکالت او قيموميت.

۱- خدمت در قوای سه گانه دولتی و سایر نهاد های دولتی.
۲- کاندید شدن در عهده های انتخابی.
۳- استفاده ازنشان‌ها، مدال‌ها و القاب افتخاری دولتی.
۴- عضویت در هیئت مدیرهٔ شرکت‌ها، بانک‌ها و مؤسسه ها در صورت محکومیت به سبب ارتکاب جرایم فساد اداری ومالی.
۵- عقد قرارداد با ادارات، تصدی‌ها، مؤسسه های دولتی و مختلط یا کسب امتیاز از طرف دولت، در صورت ارتکاب جرایم مالی.

سایر انواع جزا های تبعی

مادهٔ ۱۷۳:

شخص مندرج مادهٔ ۱۷۲ این قانون در مدت محکومیت از حقوق و امتیازات ذیل نیز محروم می‌گردد:
۱- وصایت، وکالت و قیمومیت در معاملات و دعاوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په عقودو او معاملو کې شهادت.
۳- د مالونو او املاکو مستقیمه اداره د وقف او وصیت په استثني.

د تبعي جزا اغېزه

۱۷۴ ماده:

که چېرې محکوم علیه دحکم د صادرېدو تر وخته د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې له درج شوو حقوقو او امتیازونو څخه برخمن وي، د حکم له قطعیت وروسته، له هغو څخه محرومېږي.

په مالونو کې له اداري او تصرف څخه د محرومیت رفع

۱۷۵ ماده:

(۱) د ضرورت په حالت کې د مالونو اداري او په هغو کې له تصرف څخه محرومیت د محکمې په اجازه مؤقتاً لرې کېدی شي.
(۲) د هغهٔ تعهد صحت (سموالی) او نه صحت چې محکوم علیه د محکمې له اجازې پرته متقبل شوی وي، د اړوندې محکمې په اجازې پورې موقوف دی.

۲- شهادت در عقود و معاملات.
۳- ادارهٔ مستقیم اموال و املاک به استثنای وقف و وصیت.

تأثیر جزای تبعی

مادهٔ ۱۷۴:

هرگاه محکوم علیه تا زمان صدور حکم از حقوق و امتیازات مندرج مادهٔ ۱۷۲ این قانون مستفید باشد، بعد از قطعیت حکم، از آن محروم می‌گردد.

رفع محرومیت از اداره و تصرف در اموال

مادهٔ ۱۷۵:

(۱) محرومیت از اداره و تصرف در اموال در حالت ضرورت به اجازهٔ محکمه موقتاً مرفوع شده می‌تواند.
(۲) صحت و عدم صحت تعهدی که محکوم علیه بدون اجازهٔ محکمه متقبل شده باشد، موقوف به اجازهٔ محکمه مربوط می‌باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قيم لخوا د محکوم عليه د مالونو اداره

۱۷۶ ماده:

(۱) محکمه کولی شي له لسو کلونو څخه په زيات حبس د محکوم عليه د غوښتنې پراساس، د هغۀ د مالونو د اداري او سرپرستي لپاره قيم وټاکي.

(۲) محکمه قيم د بالمال ضمانت په ورکولو مکلف کوي او د دې دندې په وړاندې هغۀ ته مناسب اجرت ټاکي.

(۳) د قيم تصرفات د هغۀ تر اداري لاندې مالونو په هکله د هغې محکمې د نظارت تابع دي چې قيم يې ټاکلی دی.

(۴) د قيم تر اداري لاندې مالونه د مجازاتو له تطبيق يا د قيموميت د موعد له تېرېدو وروسته بنا پر هر سبب چې وي، نومورې محکوم عليه ته مستردېږي.

(۵) قيم مکلف دی په تر قيموميت لاندې مالونو پورې اړوند صورت

ادارۀ اموال محکوم عليه از طرف قيم

مادۀ ۱۷۶:

(۱) محکمه می‌تواند به اساس مطالبۀ محکوم عليه به حبس بيش از ده سال، برای اداره و سرپرستی اموال وی قيم تعيين نمايد.

(۲) محکمه قيم را به دادن ضمانت بالمال مکلف نموده و اجرت مناسب را در برابر اين وظيفه برای وی تعيين می‌نمايد.

(۳) تصرفات قيم در مورد اموال تحت ادارۀ وی تابع نظارت محکمه ای می‌باشد که قيم را تعيين نموده است.

(۴) اموال تحت ادارۀ قيم بعد از تطبيق مجازات يا انقضای موعد قيموميت، بنابر هر سببی که باشد، به محکوم عليه مذکور مسترد می‌شود.

(۵) قيم مکلف است تا صورت حساب مربوط به اموال تحت قيموميت را به

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب محکوم علیه ته ورکړي.

په اعدام د محکوم د مالونو اداره

۱۷۷ ماده:

(۱) هغه شخص چې د اعدام په جزا محکومېږي، د حکم د تنفیذ تر وخته، د دې قانون په ۱۷۲ ماده کې له درج شوو حقوقو او امتیازونو څخه محرومېږي.

(۲) په اعدام د محکوم شخص حقوقي تصرف د وقف او وصیت په استثني باطل ګڼل کېږي، محکمه کولی شي د هغهٔ د غوښتنې پراساس، د مالونو د سرپرستی او اداري لپاره قیم وټاکي.

څلورم فصل

تکمیلي جزاګانې او د هغو ډولونه

تکمیلي جزا

۱۷۸ ماده:

(۱) تکمیلي جزا هغه مجازات دی چې پر اصلي جزا بر سېره د محکمې په حکم کې تصریح شوې وي.

محکوم علیه ارایه نماید.

اداره اموال محکوم به اعدام

مادهٔ۱۷۷:

(۱) شخصی که به جزای اعدام محکوم می گردد، تا زمان تنفیذ حکم از حقوق و امتیازات مندرج مادهٔ ۱۷۲ این قانون محروم می گردد.

(۲) تصرف حقوقی شخص محکوم به اعدام به استثنای وقف و وصیت، باطل شمرده شده، محکمه می‌تواند به اساس مطالبهٔ وی برای سرپرستی و ادارهٔ اموال وی قیم تعیین نماید.

فصل چهارم

جزاهای تکمیلی و انواع آن

جزای تکمیلی

مادهٔ۱۷۸:

(۱) جزای تکمیلی مجازاتی است که علاوه بر جزای اصلی در حکم محکمه تصریح گردیده باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) تکميلي جزا ګاني په لاندې توګه دي:

۱- د دې قانون د ۱۷۲ مادې په ۳، ۴ او۵ اجزاوو او د ۱۷۳ مادې په ۱، ۲ او۳ اجزاووکې له درج شوو حقوقو اوامتيازونو څخه محروميت.

۲- د مالونو مصادره.

۳- د حکم خپرول.

له حقوقو څخه د محکوم عليه محروميت

۱۷۹ ماده:

(۱) محکمه کولي شي تر لسوکلونو پورې د طويل حبس يا متوسط حبس د حکم پروخت د جرم پر اصلي جزا بر سېره، محکوم عليه د دې قانون د ۱۷۲ مادې په ۳، ۴ او ۵ اجزاوو کې له درج شوو حقوقو او امتيازونو څخه هم محروم کړي.

(۲) تکميلي جزا د اصلي جزا له تنفيذ يا د هغې له انقضاء وروسته په هر سبب چې وي، تنفيذېږي.

(۳) محکمه کولی شي په هغۀ صورت

(۲) جزاهای تکميلی قرار ذيل می باشد:

۱- محروميت از حقوق و امتيازات مندرج اجزای ۳، ۴و ۵ مادۀ ۱۷۲ و اجزای ۱، ۲ و ۳ مادۀ ۱۷۳ اين قانون.

۲- مصادره اموال.

۳- نشر حکم.

محروميت محکوم عليه از حقوق

مادۀ۱۷۹:

(۱) محکمه می‌تواند هنگام حکم به حبس طويل تا ده سال يا حبس متوسط علاوه بر جزای اصلی جرم، محکوم عليه را از حقوق و امتيازات مندرج اجزای ۳، ۴ و ۵ مادۀ ۱۷۲ اين قانون، نيز محروم سازد.

(۲) جزای تکميلی بعد از تنفيذ جزای اصلی يا انقضای آن به هر سببی که باشد، تنفيذ می‌گردد.

(۳) محکمه می‌تواند در صورتی که در

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې پدې قانون کې تصريح شوي وي، محکوم عليه له ځينو نورو حقوقو او امتيازونو څخه هم محروم کړي.

د مالونو مصادره

۱۸۰ ماده:

(۱) مصادره د محکوم عليه د منقولو يا غير منقولو مالونو او نورو جرمي شيانو له جبري او بلا عوضه اخيستلو څخه عبارت ده چې د قانون له حکمونو او د واکمنې محکمې له فيصلې سره سم، د هغو ملکيت دولت ته انتقالېږي.

(۲) مصادره يوازې په هغو مواردو کې چې په قانون کې پېښبيني شوي دي، حکم کېدی شي.

د محکوم عليه د اړتيا وړ ملکيت نه مصادره

۱۸۱ ماده:

(۱) د محکوم عليه ملکيت چې د هغۀ او د هغۀ د کورنۍ داعاشې، اباتې او د معيشت د تأمين د نورو لګښتونو (مصارفو) لپاره د اړتيا وړ وي، نشي مصادره کېدی.

این قانون تصریح گردیده باشد، محکوم علیه را از بعضی حقوق و امتیازات دیگر نیز محروم سازد.

مصادره اموال

مادۀ ۱۸۰:

(۱) مصادره عبارت است از اخذ جبری و بلاعوض اموال منقول یا غیر منقول محکوم علیه یا سایر اشیای جرمی می باشد که مطابق احکام قانون و فیصله محکمۀ ذیصلاح ملکیت آن به دولت انتقال می‌یابد.

(۲) مصادره صرف در مواردی که در قانون، پیش‌بینی شده است، حکم شده می‌تواند.

عدم مصادره ملکیت مورد نیاز محکوم علیه

مادۀ ۱۸۱:

(۱) ملکیت محکوم علیه که برای اعاشه، اباته و سایر مصارف تأمین معیشت وی و خانواده اش مورد نیاز باشد، مصادره شده نمی‌تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی د ملکیت فهرست، د جلا تقنیني سند په واسطه تثبیتېږي.

(۲) فهرست ملکیت مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، توسط سند تقنینی جداگانه تثبیت می‌گردد.

د ثالثو اشخاصو د مصادرې او حقوقو موارد

موارد مصادره و حقوق اشخاص ثالث

۱۸۲ ماده:

مادهٔ ۱۸۲:

(۱) محکمه د هغو پیسو او شیانو چې د جرم له ارتکاب څخه لاس ته راغلي، د جرم په ارتکاب کې استعمال شوي، د جرم په ارتکاب کې د استعمال په قصد برابر شوي یا له جرم څخه د را پیدا شوو عوایدو یا هغو شیانو چې په خپل ذات کې جرم دی، په مصادرې حکم کوي.

(۱) محکمه به مصادرهٔ پول و اشیائی که از ارتکاب جرم به دست آمده، در ارتکاب جرم استعمال گردیده، به قصد استعمال در ارتکاب جرم تهیه شده یا عواید ناشی از جرم یا اشیائی که به ذات خود جرم بوده، حکم می‌نماید.

(۲) په مصادرې حکم، د ثالثو اشخاصو حقوق چې د حسن نیت خاوندان وي نه اخلالوي.

(۲) حکم به مصادره، حقوق اشخاص ثالث را که صاحب حسن نیت باشند، اخلال نمی‌کند.

د حکم د خپرولو موارد

موارد نشر حکم

۱۸۳ ماده:

مادهٔ ۱۸۳:

(۱) محکمه کولی شي، په ټولیزو رسنیو کې د حکم خپرول د تکمیلي جزا په توګه په فیصله کې تصریح کړي.

(۱) محکمه می‌تواند، نشرحکم را در رسانه‌های همگانی به حیث جزای تکمیلی در فیصله تصریح نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) حکم د فیصلې د قطعیت تروختــه پورې نشي خپرېدی.

(۲) حکم تا زمان قطعیت فیصله نشر شده نمی‌تواند.

دغه اقدام د علني محاکمې د جوړولو او د تولیزو رسنیو له لارې د قضیې د جریان د خپرولو خنډ نه ګرځي.

این اقدام مانع برگزاری محاکمهٔ علنی و نشر جریان قضیه از طرف رسانه‌های همگانی شده نمی‌تواند.

(۳) د جنسي تجاوز، قذف، توهین او بښنځلو په جرمونو کې، د مجني علیه موافقت، د حکم په افشاء او خپرولــو کې حتمي دی.

(۳) در جرایم تجاوز جنسی، قــذف، توهین و دشنام، موافقت مجنی علیه در افشــاء و نشــر حکــم حتمــی است.

(۴) که چېرې د قــذف، تــوهین او بښنځلو جرم د رسنیو له لارې صورت مونډلی وي، محکمه د دې مــادې د (۲ او ۳) فقرو د حکم په رعایت سره د هماغې رسنۍ په واسطه د هغــۀ پــه خپرولو حکم کوي.

(۴) هرگــاه جــرم قــذف، تــوهین و دشنام از طریق رسانه‌هــا صــورت گرفته باشد، محکمه به نشــر آن بــا رعایت حکم فقرهٔ های (۲ و ۳) ایــن ماده توســط همــان رســانه حکــم می‌نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم فصل
تأميني تدبيرونه
لومړۍ برخه
د تأميني تدبيرونو عمومي حکمونه

تأميني تدبيرونه

۱۸۴ ماده:

تأميني تدبيرونه له هغو اقداماتو څخه عبارت دي چې د ذيصلاح محکمې لخوا د تورن يا محکوم د تربيت يا اصلاح، له ټولنيز ژوندانه سره د هغۀ د بيا انطباق يا د تورن يا محکوم د خطرناک والي حالت ته په پام سره، د جرم له پېښېدو او تکرار څخه د مخنيوي لپاره نيول کېږي او په فيصله کې ذکر کېږي.

د تأميني تدبيرونو موارد

۱۸۵ ماده:

(۱) محکمه هغه وخت د دې قانون په پېښبيني شوو تأميني تدبيرونو حکم کوي چې ثابته شي محکوم عليه د

فصل پنجم
تدابير تأمینی
قسمت اول
احکام عمومی تدابير تأمینی

تدابير تأمینی

مادۀ۱۸۴:

تدابير تأمینی عبارت از اقداماتی است که از طرف محکمۀ ذیصلاح، جهت تربیت یا اصلاح متهم یا محکوم، انطباق مجدد وی به حیات اجتماعی یا جلوگیری از وقوع و تکرار جرم با نظرداشت حالت خطرناک بودن متهم یا محکوم اتخاذ و در فیصله ذکر می‌گردد.

موارد تدابير تأمینی

مادۀ۱۸۵:

(۱) محکمه وقتی به تدابیر تأمینی پیش بینی شده این قانون حکم می‌نماید که ثابت گردد محکوم علیه مرتکب عملی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې عمل مرتکب شوی دی چې د قانون په حکم جرم پېژندل شوی او د تورن یا محکوم حالت، د ټولنې ګټو او مصالحو ته خطر وګڼل شي.

(۲) د تورن یا محکوم حالت هغه وخت د ټولنې د ګټو او مصالحو پر خلاف ګڼل کېږي چې په حال او تېر (ګذشته) کې د هغهٔ له رویې څخه او یا د جرم د ارتکاب له حالاتو اوعلتونو څخه د جرم د واقع کېدو قوي احتمال متصور وي.

(۳) محکمه مکلفه ده یوزاې د دې قانون په پېښبینې شوو حالاتو او شرایطو کې په تأميني تدبیرونو حکم و کړي.

د تأميني تدبیرونو ډولونه

۱۸۶ ماده:

تأميني تدبیرونه په لاندې توګه دي:

۱- د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه.

۲- د آزادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه.

۳- د حقوقو سلبوونکي تدبیرونه.

۴- مالي او اقتصادي تدبیرونه.

گردیده است که به حکم قانون جرم شناخته شده و حالت متهم یا محکوم علیه، برمنافع و مصالح اجتماع، خطر پنداشته شود.

(۲) حالت متهم یا محکوم علیه وقتی علیه منافع و مصالح اجتماع خطر پنداشته می شود که از رویهٔ وی در حال و گذشته و یا از حالات و علل ارتکاب جرم، احتمال قوی وقوع جرم متصور باشد.

(۳) محکمه مکلف است صرف در حالات و شرایط پیشبینی شده این قانون به تدابیر تأمینی حکم کند.

انواع تدابیر تأمینی

مادهٔ۱۸۶:

تدابیر تأمینی قرار ذیل می باشد:

۱- تدابیر سلب کنندهٔ آزادی.

۲- تدابیر تحدید کنندهٔ آزادی.

۳- تدابیر سلب کنندهٔ حقوق.

۴- تدابیر مالی و اقتصادی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه یمه برخه

د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه

د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه

۱۸۷ ماده:

د آزادۍ سلبوونکي تدبیرونه، د رواني صحت په مرکزونو کې په روانې مرضونو د مصاب شخص په حجز محکومیت دی.

په رواني مرضونو د مصاب محکوم علیه حجز

۱۸۸ ماده:

محکمه کولی شي د څارنوال یا په رواني مرضونو د مصاب شخص د قانوني نماینده د وړاندیز پر بنسټ، د اهل خبره له تصدیق وروسته، د رواني صحت په مؤسسو کې چې په دې منظور یې تخصیص موندلی په روانې مرضونو د مصاب محکوم علیه په حجز حکم وکړي.

قسمت دوم

تدابیر سلب کنندۀ آزادی

تدابیر سلب کنندۀ آزادی

مادۀ۱۸۷:

تدابیر سلب کنندۀ آزادی، محکومیت شخص مصاب به امراض روانی به حجز در مراکز صحت روانی است.

حجز محکوم علیه مصاب به امراض روانی

مادۀ۱۸۸:

محکمه می‌تواند به اساس پیشنهاد څارنوال یا نماینده قانونی شخص مصاب به امراض روانی،بعد از تصدیق نظر اهل خبره، به حجز محکوم علیه مصاب به امراض روانی در مؤسسۀ صحت روانی که به این منظور تخصیص یافته است، حکم نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حجز د مودې تمديد

۱۸۹ ماده:

(۱) محکمه کولی شي د څارنوال یا په رواني مرضونو د مصاب شخص د قانوني نماینده په غوښتنه او د رواني صحت د اړوندې مؤسسې په تصدیق، د حجز موده د طبي متخصص هیئت غوښتنې ته په پام سره، تمدید کړي.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې در ج د حجز مودې تمدید یا ختم د خپلواک طبی متخصص هیئت په واسطه چې له دریو تنو څخه لږ نه وي، صورت مومي.

د رپوټ په وړاندې کولو د رواني صحت د مؤسسې مکلفیت

۱۹۰ ماده:

(۱) د رواني صحت اړونده مؤسسه مکلفه ده په حجز د محکوم د صحي وضع رپوټ په هرو دریو میاشتو کې واکمنې محکمې ته وړاندې کړي.

(۲) محکمه کولی شي د وړاندې شوي صحي رپوټ پر اساس د حجز په لغو،

تمدید مدت حجز

مادۀ۱۸۹:

(۱) محکمه می‌تواند به تقاضای څارنوال یا نمایندۀ قانونی شخص مصاب به امراض روانی و تصدیق مؤسسۀ صحت روانی مربوط، مدت حجز را نظر به تقاضای هیئت متخصص طبی تمدید نماید.

(۲) تمدید یا ختم مدت حجز مندرج فقرۀ (۱) این ماده توسط هیئت متخصص طبی مستقل که کمتر از سه نفر نباشد، صورت می‌گیرد.

مکلفیت مؤسسۀ صحت روانی به ارایه گزارش

مادۀ۱۹۰:

(۱) مؤسسۀ صحت روانی مربوط مکلف است گزارش وضع صحی محکوم به حجز را در هر سه ماه به محکمۀ ذیصلاح ارایه نماید.

(۲) محکمه می‌تواند به اساس گزارش صحی ارایه شده به لغو حجز،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم وکړي.

د محکوم اجباري درملنه

۱۹۱ ماده:

که چېرې په الکولو یا مخدرو موادو معتاد شخص د جنحې یا جنایت د جرم د ارتکاب په علت په حبس محکوم شي، محکمه کولی شي د مرتکبه جرم پر جزا برسېره، د عامې روغتیا د مؤظفې اداري، پولیسو، څارنوال یا د شخص د قانوني نماینده د وړاندیز پر بنسټ، محکوم علیه ته اجباري درملنه تجویز کړي. پدې صورت کې د درملنې موده د محکوم په حبس کې، محاسبه کېږي.

د تأميني تدبيرونو له حکمونو څخه د متخلف مجازات

۱۹۲ ماده:

هغه شخص چې پدې قانون کې د درج محکوم بها د تأميني تدبيرونو له حکمونو څخه تخلف وکړي د شپږو میاشتو په قصیر حبس یا له پنځو زرو څخه تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي

حکم نماید.

معالجه اجباری محکوم

مادۀ۱۹۱:

هرگاه شخص معتاد به الکول یا مواد مخدر به علت ارتکاب جرم جنحه یا جنایت محکوم به حبس گردد، محکمه می‌تواند علاوه بر جزای جرم مرتکبه به اساس پیشنهاد ادارۀ مؤظف صحت عامه، پولیس، څارنوال یا نمایندۀ قانونی شخص، به محکوم علیه معالجه اجباری را تجویز نماید. در این صورت مدت تداوی در حبس محکوم، محاسبه می گردد.

مجازات متخلف از احکام تدابیر تأمینی

مادۀ۱۹۲:

شخصی که از احکام تدابیر تأمینی محکوم بهای مندرج این قانون تخلف ورزد به حبس قصیر شش ماه یا جزای نقدی از پنج هزار تا بیست هزار افغانی، محکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

جزا، محکومېږي.
د ولايـــت، وصـــايت او قيمومـيـــت، مصادرې، حجـــز او اجبـــاری طبـــي تدبيرونو د سقوط په تدبيرونو پـــورې اړوند حکمونه لدې حکم څخه مستثني دي.

می‌گردد.
احکـــام مربـــوط بـــه تـــدابير سقوط ولايت، وصايت و قيموميـــت، مصـــادره، حجـــز و تـــدابير طبـــی اجبـــاری از ايـــن حکـــم مســـتثنی است.

درېيمه برخه
د آزادی تحديدوونکي تدبيرونه

په ټاکلي ځای کې لـــه ګرځېـــدو راګرځېدو څخه د محکوم عليه منع

۱۹۳ ماده:

محکمه هغه وخت په ټاکلي ځای کې د محکوم عليه په ګرځېدو را ګرځېدو د منع حکم کوي چې په هغۀ ځای کې د هغۀ شتون په قوي احتمال د جـــرم د ارتکاب د تکرار سبب شي.

په ټاکلو ځايونوکې له اوسېدو څخه د محکوم عليه منع

۱۹۴ ماده:

محکمه کولی شي د جنحې يا جنايـــت

قسمت سوم
تدابيرتحديد کنندۀ آزادی

منع محکوم عليه ازگشت وگذار در محل معين

مادۀ۱۹۳:

محکمه وقتی به منع محکـــوم عليـــه ازگشت وگذار در محل معين حکـــم می نمايد که بودن وی درآن محل بـــه احتمال قوی سبب تکرار ارتکاب جرم گردد.

منع محکوم عليه از بود و باش در محلات معين

مادۀ۱۹۴:

محکمه می‌تواند محکوم عليه به جزای

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جزا محکوم علیه پر اصلي جزا برسېره په ټاکلو ځایونو کې له اوسېدو څخه منع کړي. پدې حالت کې محکمه د محکوم علیه شخصي یا ټولنیزه وضع په پام کې نیسي.

د ازادۍ د تحدیدوونکو تدبیرونو د تطبیق میعاد

۱۹۵ ماده:

(۱) د دې قانون په ۱۹۳ او ۱۹۴ مادو کې درج د ازادۍ تحدیدوونکي تدبیرونه په لاندې توګه تطبیقېږي:

۱- په تنفیذي حبس د محکومیت په صورت کې، د محکوم بها د حبس له تېرېدو یا د مجازاتو له عفو یا مشروطې خوشې کېدنې وروسته.

۲- په تعلیقي حبس د محکومیت په صورت کې، د حکم د تنفیذ د تعلیق په اړه د محکمې د حکم له صادرېدو وروسته.

۳- د حبس په بدیل د محکومیت په صورت کې د حبس د بدیل په اړه د محکمې د حکم له قطعیت وروسته.

جنحه یا جنایت را علاوه برجزای اصلی، ازبود وباش درمحلات معین منع نماید. در این حالت محکمه وضع شخصی یا اجتماعی محکوم علیه رادرنظرمی‌گیرد.

میعاد تطبیق تدابیر تحدید کنندۀ آزادی

مادۀ۱۹۵:

(۱) تدابیر تحدید کنندۀ آزادی مندرج مواد ۱۹۳ و ۱۹۴ این قانون قرار ذیل تطبیق می‌گردد:

۱- در صورت محکومیت به حبس تنفیذی، بعد از سپری شدن حبس محکوم‌بها یا عفو مجازات یا رهایی مشروط.

۲- در صورت محکومیت به حبس تعلیقی، پس از اصدار حکم محکمه مبنی بر تعلیق تنفیذ حکم.

۳- در صورت محکومیت به بدیل حبس، پس از قطعیت حکم محکمه مبنی بر بدیل حبس.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په نغدي جزا د محکومیت په صورت کې د حکم له قطعیت وروسته.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو تدبیرونو میعاد له شپږو میاشتو څخه لږ او له دریو کلونو څخه زیاتېدی نشي.

په ټاکلو ځایونو کې د ګرځېدو راګرځېدو یا اوسېدو د منع د محکومیت لغو یا راتیټول

۱۹۶ ماده:

محکمه کولی شي د دې قانون په ۱۹۴ او ۱۹۵ مادو کې درج د محکوم علیه د ګرځېدو را ګرځېدو یا اوسېدو د منع موده د محکوم علیه په وړاندیز یا د څارنوال یا ددۀ (شخص) د مدافع وکیل یا دمحل زیست (داوسېدوځای) د مسؤول په غوښتنه لغو یا کم کړي.

۴- در صورت محکومیت به جزای نقدی پس از قطعیت حکم.

(۲) میعاد تدابیر مندرج فقرۀ (۱) این ماده از شش ماه کمتر و از سه سال بیشتر بوده نمی‌تواند.

لغو یا کاهش محکومیت منع گشت و گذار یا بود و باش در محلات معین

مادۀ۱۹۶:

محکمه می‌تواند مدت منع گشت و گذار یا بود و باش محکوم علیه مندرج مواد ۱۹۴و ۱۹۵ این قانون را به پیشنهاد محکوم علیه یا مطالبه څارنوال یا وکیل مدافع وی یا مسؤول محل زیست، لغو یا کم نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورمه برخه

د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه

د حقوقو د سلبوونکو تدبيرونو ډولونه

۱۹۷ ماده:

د حقوقو سلبوونکي تدبيرونه عبارت دي له:

۱- د ولايت، و صايت او قيموميت سقوط.

۲- په ټاکلې پيشه او حرفه له بوختېدو څخه محروميت.

د ولايت، و صايت او قيموميت اسقاط

۱۹۸ ماده:

د ولايت، وصايت او قيموميت اسقاط د نورو اشخاصو پر نفس يا مال د ولايت، وصايت او قيموميت له سلطې له پيدا شوو اعمالو د محکوم عليه له محرومولو څخه عبارت دي.

قسمت چهارم

تدابير سلب کنندۀ حقوق

انواع تدابير سلب کنندۀ حقوق

مادۀ۱۹۷:

تدابير سلب کنندۀ حقوق عبارت اند از:

۱- سقوط ولايت، وصايت و قيموميت.

۲- محروميت ازاشتغال به پيشه وحرفۀ معين.

اسقاط ولايت، وصايت و قيموميت

مادۀ۱۹۸:

اسقاط ولايت، وصايت وقيموميت عبارت است ازمحروم ساختن محکوم عليه از اعمال ناشی ازسلطه ولايت، وصايت وقيموميت برنفس يا مال سايراشخاص.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولايت، وصايت او قيموميت د اسقاط موارد

۱۹۹ ماده:

محكمه په هغو حالاتو كې چې ولـــي، وصي يا قيم د داسې جرم مرتكب شي چې د هغو په نومورو دندو پـــورې د اړوندو قـــانوني مكلفيتونـــو اجـــراء اخـــلال كړي يا د ولايت، وصايت يا قيموميت د دندې په اجراء كې د هغوی نه كفايت او توانايي ثابـــت كـــړي، د ولايت، وصايت يا قيموميت په اسقاط حكم كوي.

موارد اسقاط ولایت، وصـــایت و قیمومیت

مادۀ ۱۹۹:

محکمه درحالاتی که ولی، وصی یـــا قیم مرتکب جرمی گرددکه اجـــرای مکلفیت‌های قانونی مربوط به وظایف متذکره آنها را اخلال نمایـــد یاعـــدم کفایـــت وتوانـــایی آنهـــا را در اجرای وظیفه ولایت، وصـــایت یـــا قیمومیت ثابت ســـازد، بـــه اســـقاط ولایت، وصایت یا قیمومیـــت حکـــم می نماید.

په ټاکلې پېشه (كسب) يا حرفه له بوختېدو څخه محروميت

۲۰۰ ماده:

د صنعتي، تجارتي يا فني فعاليتونو لـــه ترسره كولو څخه د شخص د منع پـــه شمول، په پېښې او حرفې له بوختېـــدو څخه محروميت دی، پدې شرط چې په هغو بوختېدل قانوناً د يـــوې رســـمي واكمنې مرجع په اجازې پورې تړلـــي (متعلق) وي.

محرومیت از اشتغال به پیشه یـــا حرفه معین

مادۀ ۲۰۰:

محرومیـــت ازاشـــتغال بـــه پیشـــه وحرفه، شامل منع شـــخص ازانجـــام فعالیـــــت‌هـــــای صـــــنعتی، تجارتی یا فنی می‌باشد. مشروط بـــر این‌که اشتغال به آن قانوناً متعلـــق بـــه اجازه یک مرجع باصلاحیت رســـمی باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټاکلې پيشه يا حرفه له بوختېدو څخه د محروميت موارد

۲۰۱ ماده:

(۱) که چېرې شخص په پيشه يا حرفه پورې د اړوند و مکلفيتونو له اخلال څخه د راپيدا شوو جرمونو د ارتکاب په سبب، د حبس په جزا محکوم شي، محکمه کولي شي هغه پر اصلي جزا بر سېره له اړوندې پيشې يا حرفې څخه محروم کړي. د دې محروميت موده له يوې مياشتې څخه لږ او له يوۀ کالـه څخه زياتېدي نشي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج محکوم عليه په اړونده پيشه يا حرفه له بوختېدو څخه د محکوميت د مودې له ختم وروسته، د لومړني (اولي) عين جرم يا مماثل جرم د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د پنځو کلونو په ترڅ کې، دوباره مرتکب شي پر اصلي جزا برسېره په اړونده پيشه يا حرفه له بوختېدو څخه دهغۀ په محروميت حکم وکړي. ددې محروميت

موارد محروميت از اشتغال به پيشه يا حرفه معين

مادۀ ۲۰۱:

(۱) هر گاه شخص به سبب ارتکاب جرايم ناشی از اخلال مکلفيت های مربوط به پيشه يا حرفه به جزای حبس محکوم گردد، محکمه می‌تواند وی را علاوه برجزای اصلی ازاشتغال به پيشه ياحرفۀ مربوطه محروم نمايد. مدت اين محروميت از يک ماه کمتر و ازيکسال بيشتر بوده نمی‌تواند.

(۲) هرگاه محکوم عليه مندرج فقرۀ (۱) اين ماده بعد ازختم مدت محکوميت ازاشتغال به پيشه ياحرفه مربوطه طی پنج سال ازتاريخ صدورحکم قطعی عين جرم يا مماثل جرم اولی را دوباره مرتکب گردد، محکمه می‌تواند علاوه برجزای اصلی به محروميت وی ازاشتغال به پيشه ياحرفۀ مربوطه حکم نمايد. مدت اين محروميت از يک سال

(c) ketabton.com: The Digital Library

له يوه كاله څخه لږ او له دريو كلونو څخه زياتېدى نشي.

(۳) د دې مادې په (۱ او۲) فقرو كې درج محروميت، د اصلي مجازاتو له تطبيق وروسته، عملي كېږي.

د چلوني (رانندګۍ) په پيشه له بوختېدو څخه منع

۲۰۲ ماده:

كه چېرې يو شخص د ترافيكي جرم د ارتكاب په سبب په جزا محكوم شي، محكمه كولاى شي د ترافيكي جرم د تكرار په صورت كې، هغه پر اصلي جزا برسېره د چلوني له حق او د چلوني د جواز له نوي كولو څخه له دريو مياشتو څخه تر دريو كلونو پورې محروم كړي.

کمتر و از سه سال بیشتربوده نمی‌تواند.

(۳) محرومیت مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده بعد از تطبیق مجازات اصلی، عملی می‌گردد.

منع اشتغال به پیشهٔ رانندگی

مادهٔ۲۰۲:

هرگاه شخصی به سبب ارتکاب جرم ترافیکی محکوم به جزا گردد، محکمه می‌تواند در صورت تکرار جرم ترافیکی، وی راعلاوه برجزای اصلی از حق رانندگی وتجدید جواز رانندگی به مدت سه ماه تا سه سال محروم نماید.

پنځمه برخه

مالي او اقتصادي تدبيرونه

قسمت پنجم

تدابیر مالی و اقتصادی

د مالي او اقتصادي تدبيرونو ډولونه

۲۰۳ ماده:

د مالي او اقتصادي تدبيرونو ډولونه

انواع تدابیر مالی و اقتصادی

مادهٔ۲۰۳:

تدابیرمالی واقتصادی عبارت

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبارت دي له:

۱- د شيانو مصادره.

۲- د ځای (محل) بندول.

۳- د حقيقي شخص د فعاليت درول.

۴- د حکمي شخص د فعاليت درول.

اند از:

۱- مصادرهٔ اشياء.

۲- مسدود ساختن محل.

۳- متوقف ساختن فعاليت شخص حقيقی.

۴- متوقف ساختن فعاليت شخص حکمی.

د شيانو مصادره

مادهٔ۲۰۴:

۲۰۴ماده:

که چېرې ضبط شوي شيان د هغو شيانو له جملې څخه وي چې د هغو جوړول، استعمال، ساتل، واردول، صادرول، وړاندې کول، پيرل يا پلور په خپل ذات کې جرم وي، محکمه د هغو په مصادرې حکم کوي، که څه هم چې نوموړي شيان د محکوم عليه ملکيت نه وي يا تورن له محکمې څخه برائت واخلي.

هرگاه اشيای ضبط شده ازجمله اشيايی باشدکه ساختن، استعمال، نگهداری، توريد، صدور، عرضه، خريد يا فروش آن به ذات خود جرم باشد، محکمه به مصادرهٔ آن حکم می‌نمايد،گرچه اشيای مذکورملکيت محکوم عليه نباشد يا متهم ازمحکمه برائت حاصل کند.

د فعاليت د ځای بندول

مسدود ساختن محل فعاليت

مادهٔ۲۰۵:

۲۰۵ ماده:

(۱) که چېرې کوم ځای د جرم د ارتکاب په خاطر اختصاص موندلی وي،

(۱) هرگاه محلی بخاطر ارتکاب جرم اختصاص يافته باشد، محکمه علاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکمه پدې قانون کې په پېښبيني شوو جزا ګانو برسېره، له يوې مياشتې څخه تر شپږو مياشتو پورې د هغهٔ د بندولو حکم صادروي.

برجزاهای پیش‌بینی شده در این قانون، به مسدودساختن آن از یک ماه تا شش ماه، حکم می نماید.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج محکوم عليه د محکوميت د دورې له ختمېدو وروسته د قطعي حکم د صادرېدو له نېټې څخه د پنځو کلونو په ترڅ کې لومړنی جرم دوباره مرتکب شي، محکمه کولی شي پر اصلي جزا برسېره له يوهٔ څخه ترپنځو کلونو پورې د اړوند ځای په بندولو حکم کوي.

(۲) هرگاه محکوم علیه مندرج فقرهٔ (۱) این ماده بعد از ختم مدت محکومیت طی پنج سال از تاریخ صدور حکم قطعی جرم اولی را دوباره مرتکب گردد، محکمه می تواند علاوه برجزای اصلی به مسدودیت محل مربوطه از یک تا پنج سال حکم نماید.

(۳) کـه چېرې ځای د جرم د ارتکاب په خاطر اختصاص شوي نه وي خو له هغهٔ څخه د جرم د ارتکاب په منظور کار اخيستل شوی وي، محکمه پدې قانون کې پر پېښبيني شوو جزاګانو برسېره په مؤقتي توګه د هغهٔ پر بندولو حکم کوي. دغه موده له يوې مياشتې لږ او له يوهٔ کاله څخه زياتېدی نشي.

(۳) هرگاه محل بخاطر ارتکاب جرم اختصاص نیافته اما از آن بمنظور ارتکاب جرم کار گرفته شده باشد، محکمه علاوه بر جزاهای پیش‌بینی شده در این قانون به مسدود ساختن آن به صورت مؤقتی حکم می‌نماید. این مدت ازیک ماه کمتر و از یک سال بیشتربوده نمی‌تواند.

(۴) د دې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې درج شوي حکمونه، د نورو

(۴) احکام مندرج فقره های (۱، ۲ و ۳) این ماده، حقوق اشخاص

(c) ketabton.com: The Digital Library

اشخاصو حقوق چې د حسن نیت لرونکي وي نه اخلالوي.

د ځای په بندولو د محکومیت آثار

۲۰۶ ماده:

(۱) په ټاکلې کسب یا حرفه له بوختېدو څخه د شخص محرومیت هم د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په حکم کې شامل دی.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې درج د جرم د ارتکاب د ځای د بندولو په صورت کې، شخص نشي کولی د جرم د ارتکاب ځای د جرم له واقع کېدو وروسته د عین کسب او حرفې د پر مخ بیولو په منظور اقاربو یا نورو اشخاصو ته پربږدي یا يې په اجاره یا کرایه ورکړي.

(۳) د ځای مالک یا بل شخص چې د جرم د ارتکاب په ځای کې د عیني یا انتفاعي حق لرونکی وي، له جرمي عمل سره د نه ارتباط په صورت کې، تر محرومیت لاندې نه راځي.

دیگر را که دارای حسن نیت باشند، اخلال نمی نماید.

آثار محکومیت به مسدود ساختن محل

مادۀ ۲۰۶:

(۱) حکم به مسدود ساختن محل ارتکاب جرم شامل محرومیت شخص از اشتغال به پیشه یا حرفۀ معین نیز می‌باشد.

(۲) در صورت مسدود ساختن محل ارتکاب جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده، شخص نمی‌تواند محل ارتکاب جرم را بعد از وقوع جرم به اقارب یا سایر اشخاص بمنظور پیشبرد عین پیشه و حرفه واگذار یا به اجاره یا کرایه بدهد.

(۳) مالک محل یا شخص دیگریکه در محل ارتکاب جرم دارای حق عینی یا انتفاعی باشد، درصورت نداشتن ارتباط به عمل جرمی، تحت محرومیت قرار نمی‌گیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم فصل
د جزا ټاکل او د مخففه او مشددې احوالو رعايت
لومړۍ برخه
د جزا د ټاکلو عمومي حکمونه

د جزا په ټاکلو کې د اصولو او قواعدو رعايت

۲۰۷ ماده:

د محکمې لخوا د جزا ټاکل د ۲ او ۳ مادو د حکمونو او د دې قانون د حکمونو په حدودو کې د نورو عمومي اصولو او قواعدو په رعايت سره چې د جرم د ارتکاب مسؤوليت يې تصريح کړی، صورت مومي.

د جزا په ټاکلو کې د محکمې مکلفيت

۲۰۸ ماده:

محکمه مکلفه ده د جزا د ټاکلو پروخت، د جرم انګيزه او ماهيت، د

فصل ششم
تعیین جزا و رعایت احوال مخففه و مشدده
قسمت اول
احکام عمومی تعیین جزا

رعایت اصول و قواعد در تعیین جزا

مادهٔ۲۰۷:

تعیین جزا از طرف محکمه با رعایت احکام مواد۲ و ۳ و سایر اصول و قواعد عمومی در حدود احکام این قانون که مسؤولیت ارتکاب جرم را تصریح نموده، صورت می‌گیرد.

مکلفیت محکمه در تعیین جزا

مادهٔ۲۰۸:

محکمه مکلف است هنگام تعیین جزا، انگیزه و ماهیت جرم، تناسب خطر و

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارتکابي جرم د ټولنيز يا فردي خطر او زيان تناسب، د تورن شخصيت، احوال او سوابق، د جرم مخففه او مشـــدده احوال په پام کې ونيسي.

د قضايي مخففه احوالو استنباط

۲۰۹ ماده:

محکمه پدې قانون کې درج پر قانوني مخففه احوالو برسېره، په جرم او تورن پورې له اړوندې اوضاع څخه قضـــايي مخففه احوال استنباط کوي.

د جرمونو او جـــزا د خصوصـــي حکمونو د برخې د مشدده احوالو رعايت

۲۱۰ ماده:

محکمه مکلفـــه ده د جـــزا د ټـــاکلو پروخت، پدې قـــانون کـــې درج پـــر عمومي مشدده احوالو برسېره، د هـــر جرم مشدده احوال په هغه پورې لـــه مختصو حکمونو سره سم رعايت کړي.

زیان اجتماعی یا فردی جرم ارتکابی، شخصیت، احوال و ســـوابق مـــتهم، احوال مخففه و مشدده جرم را در نظر گیرد.

استنباط احـــوال مخففه قضایی

مادۀ۲۰۹:

محکمه علاوه بر احوال مخففه قانونی مندرج این قانون، احوال مخففۀ قضایی را از اوضاع مربوط به جرم و مـــتهم استنباط می‌نماید.

رعایت احوال مشـــددۀ بخـــش احکـــام خصوصـــی جـــرایم و جزا

مادۀ۲۱۰:

محکمه مکلف است حین تعیین جزا، علاوه بر احوال مشددۀ عمومی مندرج این قانون، احوال مشددۀ هـــر جـــرم رامطابق احکام مختص به آن رعایـــت نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخففه او مشدده احوالو راټولېدل

۲۱۱ ماده:

(۱) که چېرې قانوني معاذير، قضايي مخففه او مشدده احوال په يوهٔ جرم کې جمع شي، محکمه لومړی (اول) مشدده احوال، وروسته مخففه معاذير او په آخر کې قضايي مخففه احوال رعايتوي.

(۲) که چېرې مشدده احوال، د مخففه احوالو او قانوني معاذيرو معادل وي، محکمه کولی شي ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوو حالاتو ته له پام پرته، د جرم په پېښېنې شوې اصلي جزا حکم وکړي.

(۳) که چېرې مشدده يا مخففه احوال يا قانوني معاذير د متفاوتو اثراتو لرونکي وي، محکمه کولی شي د عدالت د تأمين په منظور، له هغوی څخه تر ټولو ځواکمن ته ترجيح ورکړي.

اجتماع احوال مخففه و مشدده

مادهٔ ۲۱۱:

(۱) هرگاه معاذير قانونی، احوال مخففه و مشددهٔ قضايی دريک جرم جمع شود، محکمه اولاً احوال مشدده، بعداً معاذير مخففه و اخيراً احوال مخففه قضايی را رعايت می‌نمايد.

(۲) هرگاه احوال مشدده معادل احوال مخففه و معاذير قانونی باشد، محکمه می‌تواند بدون نظرداشت حالات مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، به جزای اصلی پيش بينی شده جرم، حکم نمايد.

(۳) هرگاه احوال مشدده يامخففه يا معاذير قانونی دارای اثرات متفاوت باشد، محکمه می‌تواند بمنظورتأمين عدالت، قوی ترين آن را ترجيح دهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه يمه برخه

قانوني معاذير او قضايي مخففه احوال

قانوني معاذير

۲۱۲ ماده:

(۱) قانوني معاذير هغه حالات او موارد دي چې د معافيت، د جزا د تخفيف او يا له جزا څخه د تبرئې موجب کېږي. د جزا د معافيت، تخفيف او تبرئه کوونکي موارد، پدې قانون کې تصريح کېږي.

(۲) محکمه مکلفه ده په خپل حکم کې تبرئه کوونکي معاذير تصريح کړي.

(۳) له جزا څخه تبرئه کوونکي معاذير د جزايي مسؤوليت خنډ کېږي.

(۴)تبرئه کوونکي معاذير د اصلي، تبعي او تکميلي جزا دصادربدو خنډ کېږي.

د جزايي مسؤوليت مخففه احوال او د هغه ډولونه

۲۱۳ ماده:

(۱) دجزايي مسؤوليت مخففه احوال له

قسمت دوم

معاذير قانونی و احوال مخففهٔ قضايی

معاذير قانونی

مادهٔ ۲۱۲:

(۱) معاذير قانونی، حالات و مواردی است که موجب معافيت، تخفيف جزا و يا تبرئه از جزا می گردد. موارد معافيت، تخفيف و تبرئه کننده جزا در اين قانون تصريح می گردد.

(۲) محکمه مکلف است در حکم خود معاذير تبرئه کننده را تصريح نمايد.

(۳) معاذير تبرئه کننده از جزا مانع مسؤوليت جزايی می گردد.

(۴) معاذير تبرئه کننده مانع صدور جزای اصلی، تبعی و تکميلی می گردد.

احوال مخففه مسئوولیت جزايی و انواع آن

مادهٔ۲۱۳:

(۱) احوال مخففهٔ مسؤوليت جزايی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو حالاتو او اوضاع څخه عبارت دي چې د هغو د يوه يا څو مواردو موجوديت د مرتکب د جزا د تخفيف لامل کېږي.

(۲) د جزايي مسؤوليت مخففه احوال په لاندې توګه دي:

۱- د شريفانه انګيزې پر اساس د جرم ارتکاب.

۲- د روحي قوي هيجان له امله د جرم آني ارتکاب چې د مجني عليه يا ثالث شخص د غير قانوني او تحريکوونکي عمل زېږنده وي.

۳- د مشروع دفاع پروخت د جرم ارتکاب په هغۀ صورت کې چې د مشروع دفاع له حدود څخه تجاوز صورت موندلی وي.

۴- د تهديد يا له مادي اومعنوي قدرت څخه د راپيدا شوي اجبار يا وظيفوي اجبار له امله دجرم ارتکاب په هغۀ صورت کې چې د اکراه، د دندې د اجراء او د امر د تعميل د شرايطو له حدودو څخه، تجاوز صورت موندلی وي.

عبارت از حالات و اوضاعی می‌باشد که موجودیت یک یا چند مورد آن باعث تخفیف جزای مرتکب می‌گردد.

(۲) احوال مخففۀ مسؤولیت جزایی قرار ذیل می باشد:

۱- ارتکاب جرم به اساس انگیزه شریفانه.

۲- ارتکاب آنی جرم از اثر هیجان قوی روحی که زاده عمل غیر قانونی و تحریک آمیز مجنی علیه یا شخص ثالث باشد.

۳- ارتکاب جرم هنگام دفاع مشروع درصورتی که از حدود دفاع مشروع تجاوز صورت گرفته باشد.

۴- ارتکاب جرم از اثر تهدید یا اجبار ناشی از قدرت مادی و معنوی یا اجبار وظیفوی در صورتی که از حدود شرایط اکراه، ایفای وظیفه و تعمیل امر، تجاوز صورت گرفته باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د ترسره شوي جرم له عواقبو څخه دمخنيوي لپاره د مرتکب کوښښ.

۶- له جرم څخه درامنځته شوي وارده زيان داوطلبانه جبران يا د ضرر رفع.

۷- د لومړي ځل لپاره د جرم ارتکاب.

۸- د جرم په ارتکاب د تورن اعتراف يا اقرار او د هغهٔ د جدي ندامت څرګندول پداسې ډول چې د قضيې د واقعيت په تثبيت يا د جرمي شريکانو يا معاونانو په معرفي يا توقيف يا نيونه کې، مرسته وکړي.

۹- د حاملې يا شيدې خوړونکي طفل لرونکې ښځې په واسطه د جرم ارتکاب.

۱۰- د مجني عليه ابراء.

۱۱- د سن کبر د نارينه لپاره د اويا سن بشپړېدل او د ښځې لپاره د پنځه شپېته سن بشپړېدل.

۱۲- پدې قانون کې درج نور حالات او يا هغه حالات چې محکمه يې په جرم او تورن پورې له اړوندې اوضاع او احوالو څخه استنباط کوي.

۵- کوشش مرتکب برای جلوگیری از عواقب جرم انجام یافته.

۶- جبران داوطلبانه خساره وارده یا رفع ضرر ناشی از جرم.

۷- ارتکاب جرم برای بار اول.

۸- اعتراف یا اقرار متهم به ارتکاب جرم و ابراز ندامت جدی وی به نحوی که در تثبیت واقعیت قضیه یا معرفی یا بازداشت یا گرفتاری شرکا یا معاونین جرمی، مساعدت نماید.

۹- ارتکاب جرم توسط زن حامله و یا دارای طفل شیرخوار.

۱۰- ابرای مجنی علیه.

۱۱- کبر سن برای مرد اکمال سن هفتاد و برای زن اکمال سن شصت وپنج.

۱۲- سایر حالات مندرج این قانون و یا حالاتی که محکمه از اوضاع و احوال مربوط به جرم و متهم استنباط می کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنايت د جزا په تاکلوکې د مخففه احوالو آثار

۲۱۴ ماده:

که چېرې د جنايت په جرم کې د جزايي مسؤوليت له مخففه احوالو څخه يو يا څو حالته شتون ومومي، د هغۀ جزا په لاندې ډول تخفيف مومي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا اعدام وي، ۱درجه دوام حبس ته.

۲- په هغه صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا ۱ درجه دوام حبس وي، ۲ درجه دوام حبس ته.

۳- په هغۀ صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا ۲ درجه دوام حبس وي، طويل حبس ته.

۴- په هغه صورت کې چې د ارتکابي جرم جزا، طويل حبس وي، متوسط حبس ته.

آثار احوال مخففه در تعیین جزای جنایت

مادۀ۲۱۴:

هرگاه یک یا چند حالت از احوال مخففه مسؤولیت جزایی در جرم جنایت موجودگردد، جزای آن به شکل ذیل تخفیف می یابد:

۱- در صورتی که جزای جرم ارتکابی اعدام باشد، به حبس دوام درجه ۱.

۲- در صورتی که جزای جرم، حبس دوام درجه ۱ باشد، به حبس دوام درجه ۲.

۳- در صورتی که جزای جرم ارتکابی، حبس دوام درجه ۲ باشد، به حبس طویل.

۴- در صورتی که جزای جرم ارتکابی، حبس طویل باشد، به حبس متوسط.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جنحې د جزا په ټاکلو کــې د مخففه احوالو آثار

۲۱۵ ماده:

که چېرې د جنحې په جرم کې د جزايي مسؤوليت له مخففه احوالو څخه يو يا څو حالته شتون ومومي، محکمــه پــه لاندې ترتيب سره د جزا په تخفيــف حکم کوي:

۱- په هغۀ صورت کې چې پېشــبيني شوې جزا متوسط حبس وي او اقل حد ولري، له اقل حد څخه لږ ته.

۲- په هغۀ صورت کې چې پېشــبيني شوې جزا د قصير حبس اکثر حد وي، د دريو مياشتو حبس ته.

۳- په هغۀ صورت کې چې حــبس او نغدي جزا په پېشبيني شوې جزا کــې شامل وي، له هغوی څخه په يوې.

۴- په هغۀ صورت کې چې په قــانون کې پېشبيني شوې جزا حبس يا نغــدي جزا وي، په نغدي جزا.

آثار احوال مخففه در تعیین جزای جنحه

مادۀ۲۱۵:

هرگاه یک یا چند حالت از احــــوال مخففۀ مسؤولیت جزایــی در جــرم جنحه موجود گردد، محکمه به تخفیف جــزا بــه ترتیــب ذیــل حکــم می نماید:

۱- در صورتی که جزای پیش بینــی شده حبس متوسط بوده و حــد اقــل داشته باشد، به کمتر از حد اقل.

۲- در صورتی که جزای پیش بینــی شده حد اکثر حبس قصیر باشد، بــه حبس سه ماه.

۳- در صورتی که جزای پیش بینــی شده شامل حبس و جزای نقدی باشد، به یکی از آن.

۴- در صورتی که جزای پیش بینــی شده در قانون حبس یا جزای نقــدی باشد، به جزای نقدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حکم کې د جزا د تخفيف د دلايلو ذکر

۲۱۶ ماده:

(۱) که چېرې محکمه د جزايي مسؤوليت د مخففه احوالو د شتون په سبب د جزا په تخفيف حکم وکړي، هغه حالات دې د خپل حکم په اسبابو او دلايلو کې تصريح کړي چې پر موجب يې جزا ته تخفيف ورکړل شوی دی.

(۲) که چېرې تورن يا د هغهٔ مدافع وکيل د جزايي مسؤوليت د مخففه دلايلو پر شتون استناد وکړي، په هغهٔ صورت کې چې د محکمې د منلو وړ ونه ګرځي، محکمه مکلفه ده، د هغو د رد دلايل په فيصله کې ذکر کړي.

ذکر دلايل تخفيف جزا در حکم

مادهٔ۲۱۶:

(۱) هرگاه محکمه به سبب موجوديت احوال مخففهٔ مسؤوليت جزايی به تخفيف جزا حکم نمايد، حالاتی را که به موجب آن جزا تخفيف داده شده، در اسباب و دلايل حکم خود تصريح می نمايد.

(۲) هرگاه متهم يا وکيل مدافع وی به موجوديت دلايل مخففه مسؤوليت جزايی، استناد نمايد، در صورتی که مورد قبول محکمه واقع نشود، محکمه مکلف است، دلايل رد آن را در فيصله ذکر نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپيمه برخه

د جزايي مسؤوليت عمومي

مشدده احوال او د هغو ډولونه

د جزايي مسؤوليت عمومي مشدده احوال

۲۱۷ ماده:

د جزايي مسؤوليت عمومي مشدده احوال له هغو احوالو او اوضاع څخه عبارت دي چې د هغو شتون د مرتکب د جزا د شدت سبب کېږي.

د مشدده حالاتو ډولونه

۲۱۸ ماده:

د جزايي مسؤوليت عمومي مشدده احوال عبارت دي له:

۱- په دني يا منحطه انګيزه د جرم ارتکاب.

۲- د مجني عليه له جسمي يا رواني کمزورتيا څخه په ګټې اخيستنې د جرم ارتکاب.

۳- په وحشيانه ډول د جرم ارتکاب يا

قسمت سوم

احوال مشددهٔ عمومی

مسئوولیت جزایی و انواع آن

احوال مشددهٔ عمومی مسئوولیت جزایی

مادهٔ۲۱۷:

احوال مشدده عمومی مسؤولیت جزایی، عبارت از احوال و اوضاعی است که موجودیت آن سبب شدت جزای مرتکب می‌گردد.

انواع حالات مشدده

مادهٔ۲۱۸:

احوال مشدده عمومی مسؤولیت جزایی عبارت اند از:

۱- ارتکاب جرم با انگیزهٔ دنی یا منحط.

۲- ارتکاب جرم با استفاده ازناتوانی جسمی یا روانی مجنی علیه.

۳- ارتکاب جرم طور وحشیانه یا مثله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمجني عليه مثله کول.

۴- له دندې، موقف اويا نفوذ څخه په ګټې اخيستنې سره د عامه خدمتونو د مؤظف لخوا د جرم ارتکاب.

۵- د هغۀ شخص لخوا د جرم ارتکاب چې د مجني عليه د جسمي، روانـي، ازادی د تمامیت پـه سـاتنه او د مال ساتنې ته مؤظف وي.

۶- د مجني عليه د اقتصادي حالت له ضعف څخه په ګټې اخيستنې سـره د جرم ارتکاب.

۷- د هغۀ شخص په واسطه د جـرم ارتکاب چې د جرم د ترسره کولو پـه قصد يې مخدر يا مسکر توکي استعمال کړي وي.

۸- د نژادي، قومي، ديني، مـذهبي، جنسيتي، سمتي تعصباتو، ټولنيز موقف يا سياسي فکـر پـه سـبب د جـرم ارتکاب.

۹- نور هغه حالات چې پدې قانون کې پېشبيني شوي دي.

نمودن مجنی علیه.

۴- ارتکاب جرم از طـرف مؤظـف خدمات عامه با اسـتفاده از وظیفـه، موقف ویا نفوذ.

۵- ارتکاب جرم از طرف شخصی که مؤظف به حفظ تمامیـت جسـمی، روانی، آزادی و نگهداری مال مجنی علیه باشد.

۶- ارتکـاب جـرم بـا اسـتفاده از ضـعف حالـت اقتصـادی مجنی علیه.

۷- ارتکاب جرم توسط شخصی کـه مواد مخدر یا مسـکر را بـه قصـد انجـام جـرم اسـتعمال نمـوده باشد.

۸- ارتکاب جرم به سبب تعصـبات نژادی، قومی، دینی، مذهبی، جنسیتی، سمتی، موقف اجتماعی یـا اندیشـه سیاسی.

۹- سایر حالات که در ایـن قـانون پیشبینی گردیده است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په عمومي مشدده احوالوکي د جزا تشديد

۲۱۹ ماده:

که چېرې په جرم کې، مشدده عمومي احوال شتون ولري، محکمه په دې قانون کې درج شوې جزا ته په پام، په لاندې ترتيب سره حکم کوي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د جرم جزا، ۱ درجه دوام حبس وي د ۱ درجې دوام حبس په اکثر حد مجازاتو.

۲- په هغۀ صورت کې چې د جرم جزا، ۲ درجه دوام حبس وي، په ۱ درجه دوام حبس.

۳- په هغۀ صورت کې چې د جرم جزا طويل يا متوسط حبس وي، د نومورې جزا له اکثر حد څخه په زياته جزا، پدې شرط چې د مجازاتو مجموع د اصلي مجازاتو د اکثر حد له يونيم چند څخه تجاوز ونکړي.

۴- په هغۀ صورت کې چې د جرم جزا، قصير حبس وي د قصير حبس په اکثر حد.

تشديد جزا در احوال مشددۀ عمومی

مادۀ۲۱۹:

هرگاه در جرم، احوال مشددۀ عمومی موجود باشد، محکمه با نظر داشت جزای پیش بینی شدۀ مندرج در این قانون، به ترتیب ذیل حکم می نماید:

۱- در صورتی که جزای جرم، حبس دوام درجه۱ باشد، به حد اکثر مجازات حبس دوام درجه۱.

۲- درصورتی که جزای جرم، حبس دوام درجه۲ باشد، به حبس دوام درجه۱.

۳- درصورتی که جزای جرم، حبس طویل یا متوسط باشد، به بیش از حد اکثر جزای مذکور مشروط بر این که مجموع مجازات از یک و نیم چند حد اکثر مجازات اصلی تجاوز نکند.

۴- در صورتی که جزای جرم، حبس قصیر باشد به حد اکثر حبس قصیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حکم کې د جزا د تشديد دليل

۲۲۰ ماده:

که چېرې محکمه د عمومي مشـــدده احوالو د شتون په سبب د جـــزا پـــه تشديد حکم وکړي، مکلفـــه ده هغـــه حالات چې پر موجب يې جزا تشـــديد شوېده، د خپل حکم په اسبابو او دلايلو کې تصريح کړي.

اووم فصل

د حکم د تنفيذ تعليق

د حکم د تنفيذ د تعليق مفهوم

۲۲۱ ماده:

د حکم د تنفيذ تعليق هغه حالـــت دی چې محکمه پر تورن د حکم تطبيق په هغو جرمونو کې چـــې د هغـــو جـــزا ترپنځوکلونو پورې حبس وي، پـــدې فصل کې درج د حکم د تنفيذ د تعليق له اسبابو څخه د يوۀ شتون ته په پـــام سره، تر پنځو کلونو مـــودې پـــورې تعليقوي.

دلیل تشدید جزا در حکم

مادۀ ۲۲۰:

هرگاه محکمه به سبب موجوديـــت احوال مشدده عمومی به تشديد جـــزا حکم نمايد، مکلف است حالاتی را که به موجب آن جزا تشديد گرديده، در اسباب و دلايل حکم خـــود تصـــريح نمايد.

فصل هفتم

تعليق تنفيذ حکم

مفهوم تعليق تنفيذ حکم

مادۀ ۲۲۱:

تعليق تنفيذ حکم حالتی اســـت کـــه محکمه، تطبيـــق حکـــم را بـــالای متهم در جرايمی که جزای آن حبس تا پنج سال باشد، با نظرداشت موجوديت يکـــــی از اســـــباب تعليـــــق تنفيذ حکم مندرج ايـــن فصـــل، تـــا مـــــدت پـــــنج ســـــال تعليـــــق می‌نمايد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نغدي جزا د حکم د تنفيذ تعليق

۲۲۲ ماده:

(۱) که چېرې شخص د قباحت يا جنحې د جرم د ارتکاب له امله، تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکوم شوی وي، محکمه کولی شي د هغۀ نغدي جزا تر پنځو کلونو پورې تعليق کړي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شخص، په داوطلبانه توګه، نغدي جزا، په ټاکلي وخت ورکړي، د هغه جرمي سابقه زايلېږي.

تعلیق تنفیذ حکم جزای نقدی

مادۀ ۲۲۲:

(۱) هرگاه شخص به اثر ارتکاب جرم قباحت یا جنحه به جزای نقدی تا شصت هزار افغانی، محکوم گردیده باشد، محکمه می‌تواند جزای نقدی وی را تا پنج سال تعلیق نماید.

(۲) هرگاه شخص مندرج فقرۀ (۱) این ماده، به صورت داوطلبانه جزای نقدی را در میعاد معینه تأدیه نماید، سابقه جرمی وی زایل می‌گردد.

د حکم د تنفيذ د تعليق احوال

۲۲۳ ماده:

(۱) محکمه کولی شي له لاندې حالاتو څخه په يوۀ کې د حکم تنفيذ تعليق کړي:

۱- جرم له سهل انګاری او غفلت يا د دندې په اجراء کې له اهمال يا د قانون په فهم کې له خطا څخه رامنځته شوی وي.

۲- د ترافيکي جرم تورن، له مصدوم

احوال تعلیق تنفیذ حکم

مادۀ۲۲۳:

(۱) محکمه می تواند در یکی از حالات ذیل تنفیذ حکم را تعلیق نماید:

۱- جرم ناشی ازسهل انگاری وغفلت یا اهمال در اجرای وظیفه یا خطا در فهم قانون باشد.

۲- متهم جرم ترافیکی، مصدوم را

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره مرسته او ياري (همكاري) كړې وي او تبنتبدلی نه وي.

۳- مرتكب د مخه په جزا محكوم شوی نه وي.

۴- محكمه وموي چې تورن جرمي سابقه نلري او خپله يې اړوندو مراجعو ته خبر ورکړی يا يې ځان تسليم کړی او رفتار يې په راتلونکې کې له قانون څخه د هغه د اطاعت بنکارندوی وي.

۵- د حق العبد مدعي ابراء کړې وي يا تورن په خپل رضايت رسبدلی زيان جبران کړی وي.

۶- په هغۀ صورت کې چې جرم د متعلم يا محصل يا حامله بنځې يا له ۱۸ څخه تر ۲۰ کالو تر منځ شخص په واسطه ارتكاب شوی وي، پدې شرط چې متكرر مجرم نه وي.

۷- د محكمې په تشخيص د جرم او مرتكب اوضاع او احوالو ته په پام سره نور احوال.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د ارتكاب له امله مجني عليه ته کوم ضرر رسبدلی وي، د

کمک ویاری نموده وفرار نکرده باشد.

۳- مرتكب، قبلاً محكوم به جزا نشده باشد.

۴- محكمه دريابد كه متهم سابقۀ جرمی نداشته وخود به مراجع مربوط اطلاع يا خود را تسليم نموده و رفتار وی نمايانگراطاعت وی از قانون درآينده باشد.

۵- مدعی حق العبد ابراء نموده يا متهم به رضايت خود خسارۀ وارده راجبران نموده باشد.

۶- در صورتی كه جرم توسط متعلم يا محصل يا زن حامله يا شخص بين ۱۸ تا ۲۰ سال ارتكاب يافته باشد، مشروط بر اين‌كه مجرم متكرر نباشد.

۷- ساير احوال نظر به اوضاع و احوال جرم و مرتكب به تشخيص محكمه.

(۲) هرگاه از اثر ارتكاب جرم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده ضرری بر مجنی عليه وارد گرديده باشد، تعليق تنفيذ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم د تنفیذ تعلیق، د زیان په جبران یا د هغه په رضایت باندې مشروط دي.

(۳) محکمه مکلفه ده د حکم د تنفیذ د تعلیق د صادربدو پر وخت، د محکوم علیه اخلاق، مدني حالت، شخصیت، د اصلاح او تربیت شونتیا په پام کې ونیسي.

(۴) د داخلي او بهرني امنیت، تروریستي، د تروریزم د تمویل، مخدرو موادو، جنسي تجاوز، اختطاف، اداري او مالي فساد، نسل وژني، بشري ضد، جنګي او د دولت پرخلاف د تجاوز د جرمونو مجازات نشي تعلیقبدلای.

د جزا د تنفیذ د تعلیق د دلیل ذکر

۲۲۴ ماده:

محکمه مکلفه ده په خپل حکم کې د جزا د تنفیذ د تعلیق دلیل ذکر کړي.

د جزا د تعلیق د مودې کمول د هغې له بشپړېدو د مخه

۲۲۵ ماده:

محکمه کولی شي د هغه محکوم علیه

حکم مشروط به جبران خساره یا رضایت وی می‌باشد.

(۳) محکمه مکلف است حین اصدار حکم تعلیق تنفیذ، اخلاق، حالت مدنی، شخصیت، امکان اصلاح و تربیت محکوم علیه را در نظر گیرد.

(۴) مجازات جرایم علیه امنیت داخلی وخارجی، تروریستی، تمویل تروریزم، مواد مخدر، تجاوز جنسی، اختطاف، فساد اداری ومالی، نسل کشی، ضد بشری، جنگی و تجاوز علیه دولت، تعلیق شده نمی تواند.

ذکر دلیل تعلیق تنفیذ جزا

مادۀ۲۲۴:

محکمه مکلف است درحکم خود دلیل تعلیق تنفیذ جزا را ذکرنماید.

کاهش مدت تعلیق جزا قبل از اکمال آن

مادۀ۲۲۵:

محکمه می‌تواند مدت تعلیق تنفیذ حکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هکله د حکم د تنفيذ د تعليق موده، چې د صادقانه او مناسب چلند په اجراء سره د خپل حال اصلاح ثابته کړي، د هغې له بشپړېدو د مخه د اړوند څارنوال، مدافع وکيل، ټولنيزو سازمانونو، دولتي ادارو، تعليمي او تحصيلي مؤسسو او دولتي تصديو په وړاندیز کمه کړي.

د تنفيذ د تعليق موده

۲۲۶ ماده:

(۱) د حکم د تنفيذ د تعليق موده، پنځه کاله ده.

(۲) د تنفيذ د تعليق موده، د حکم د قطعيت له نېټې څخه محاسبه کېږي.

را قبل از اکمال آن درمورد محکوم علیه که با اجرای رفتار صادقانه ومناسب، اصلاح حال خود را ثابت سازد، به پیشنهاد څارنوال مربوط، وکیل مدافع، سازمان‌های اجتماعی، اداره های دولتی، مؤسسه های تعلیمی وتحصیلی وتصدی‌های دولتی کمتر سازد.

مدت تعلیق تنفیذ

مادۀ۲۲۶:

(۱) مدت تعلیق تنفیذ حکم، پنج سال می باشد.

(۲) مدت تعلیق تنفیذ ازتاریخ قطعیت حکم، محاسبه می‌گردد.

د تکميلي جزاګانو او تأميني تدبيرونو تعليق

۲۲۷ ماده:

محکمه کولي شي د تکميلي، تبعي جزا ګانو او تأميني تدبيرونو د تنفيذ په تعليق هم حکم وکړي.

تعلیق جزاهای تکمیلی وتدابیر تأمینی

مادۀ۲۲۷:

محکمه می‌تواند به تعلیق تنفیذ جزاهای تکمیلی، تبعی و تدابیرتأمینی نیزحکم نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر تأميني تدبيرونو د تعليق د مودي د ختمېدو اغېزه

۲۲۸ ماده:

د جزا د تنفيذ د تعليق د مودي د ختمېدو يا د جزا د تنفيذ د تعليق د لغو کېدو د حکم د نه صادرېدو په صورت کې، په تکميلي جزا يا تأميني تدبيرونو پورې اړوند حکم هم له منځه ځي داسې ګڼل کېږي چې اصلاً کوم حکم صادر شوی ندی.

د تأميني تدبيرونو تعليق

۲۲۹ ماده:

(۱) محکمه کولی شي د تأميني تدبيرونو په هکله د حکم له صادرېدو وروسته، د محکوم عليه، د هغۀ د مدافع وکيل يا نورو اړوندو اشخاصو د غوښتنې پر بنسټ، ددې قانون د پېښبيني شوو تأميني تدبيرونو په تعليق، تعديل يا لغو حکم صادر کړي د حکمي شخص مصادره او انحلال لدې حکم څخه مستثني دي.

(۲) که چېرې د تأميني تدبيرونو د

تأثيرختم مدت تعليق بر تدابير تأميني

مادۀ۲۲۸:

درصورت ختم مدت تعليق تنفيذ يا عدم اصدارحکم الغای تعليق تنفيذ جزا، حکم مربوط به جزای تکميلی يا تدابير تأمينی نيز ازبين رفته چنان پنداشته می‌شود که اصلاً حکمی صادر نگرديده است.

تعليق تدابير تأميني

مادۀ۲۲۹:

(۱) محکمه می‌تواند بعد ازصدور حکم درمورد تدابير تأمينی، به اساس مطالبه محکوم عليه، وکيل مدافع وی يا ساير اشخاص ذيربط به تعليق، تعديل يا لغوتدابير تأمينی پيش بينی شده اين قانون حکم صادرنمايد. مصادره وانحلال شخص حکمی ازاين حکم مستثنی می‌باشد.

(۲) هرگاه مطالبه مبنی برتعليق، تعديل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعلیق، تعدیل یا لغو په اړه غوښتنه د محکمې لخوا و نه منل شي، د غوښتنې نوي کول د یوۀ کال له تېرېدو د مخه صورت نشي موندلی.

یا لغوتدابیرتأمینی ازطرف محکمه پذیرفته نشود، تجدید مطالبه قبل ازمرور یک سال صورت گرفته نمی‌تواند.

د حکم د تنفیذ د تعلیق د لغو کېدو حالات

حالات تعلیق تنفیذ حکم

۲۳۰ ماده:

د حکم د تنفیذ تعلیق له لاندې احوالو څخه په یوۀ کې لغو کېږي:

۱- په هغۀ حالت کې چې محکوم علیه د جزا د تنفیذ د تعلیق د مودې په ترڅ کې، د مماثل یا لا سخت جرم مرتکب شي.

۲- په هغۀ حالت کې چې د تعلیق د مودې په ترڅ کې ثابته شي چې شخص د تنفیذ د تعلیق د حکم له صادرېدو د مخه د جنحې یا جنایت په جزا محکوم شوی او محکمه له هغه څخه خبره نه ده.

مادۀ ۲۳۰:

تعلیق تنفیذ حکم دریکی ازاحوال ذیل لغو می‌گردد:

۱- درحالتی که محکوم علیه درخلال مدت تعلیق تنفیذ جزا مرتکب جرم مماثل یا شدیدتر گردد.

۲- درحالتی که طی مدت تعلیق ثابت شود که شخص قبل از صدور حکم تعلیق تنفیذ به جزای جنحه یاجنایت محکوم گردیده ومحکمه ازآن اطلاع نداشته است.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تنفيذ د تعليق د لغو کولو واکمنه محکمه

۲۳۱ ماده:

(۱) د تنفيذ د تعليق لغو کول د هغې محکمې لخوا صورت مومي چې د تنفيذ د تعليق حکم يې صادر کړی دی.

(۲) که چېرې د تنفيذ د تعليق د لغو کېدلو سبب هغه جزا وي چې د تنفيذ له تعليق وروسته پر هغې حکم شوی، پدې حالت کې د تعليق د لغو کولو حکم هغه محکمه صادروي چې په نومورې جزا يې حکم کړی دی، اعم لدې چې د حکم صادرېدل خپله د محکمې په صوابديد يا د څارنوال په غوښتنه وي.

د حکم د تعليق د لغو کېدلو اغېزه

۲۳۲ ماده:

د حکم د تنفيذ د تعليق لغو کېدل، د تکميلي جزاګانو يا تأميني تدبيرونو په شمول د محکوم بها دجزا د اعادې مستلزمه ده.

محکمهٔ ذیصلاح الغای تعلیق تنفیذ

مادهٔ۲۳۱:

(۱) الغای تعلیق تنفیذ از طرف محکمه ای صورت می‌گیردکه حکم تعلیق تنفیذ را صادر نموده است.

(۲) هرگاه سبب الغای تعلیق تنفیذ جزای باشد که بعد از تعلیق تنفیذ به آن حکم گردیده، در این حالت حکم الغای تعلیق را محکمه ای صادرمی‌نمایدکه به جزای متذکره حکم نموده است، اعم از این که صدورحکم نظربه صوابدید خود محکمه یامطالبه څارنوال باشد.

تأثیر الغای تعلیق حکم

مادهٔ۲۳۲:

الغای تعلیق تنفیذ حکم، مستلزم اعاده جزای محکوم بها به شمول جزاهای تکمیلی یا تدابیرتأمینی می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تعليق په موده کې د جرم ارتکاب

۲۳۳ ماده:

که چېرې محکوم علیه د حکم د تنفیذ د تعلیق په موده کې د بل مماثل یا لاشدید جرم مرتکب شي، محکمه د حکم د تنفیذ د تعلیق له لغو کولو وروسته، د نوي جرم پر جزا برسېره، د دمخه حکم شوې جزا هم پر هغې ورزیاتوي.

ارتکاب جرم در مدت تعلیق

مادهٔ۲۳۳:

هرگاه محکوم علیه طی مدت تعلیق تنفیذ حکم، مرتکب جرم مماثل یا شدید تر دیگری گردد، محکمه بعد از الغای تعلیق تنفیذ حکم، علاوه برجزای جرم جدید، جزای حکم شدهٔ قبلی را نیز برآن افزود می‌نماید.

د تعليق د مودې ختم او د هغهٔ آثار

۲۳۴ ماده:

که چېرې محکوم علیه د حکم د تنفیذ د تعلیق په موده کې، د جرم مرتکب نشي، د حکم آثار له منځه ځې داسې ګڼل کېږي چې اصلاً حکم صادر شوی نه وي.

ختم مدت تعلیق و آثار آن

مادهٔ۲۳۴:

هرگاه محکوم علیه طی مدت تعلیق تنفیذ حکم، مرتکب جرم نگردد، آثارحکم ازبین رفته چنان پنداشته می شود که اصلاً حکم صادرنگردیده باشد.

د حکم د تنفیذ ساده تعلیق

۲۳۵ ماده:

پدې فصل کې په مندرجو حالاتو کې، که چېرې د حبس د محکوم بها موده تریوهٔ کاله پورې وي، محکوم علیه له هېڅ ډول شرایطو پرته د حکم د تنفیذ

تعلیق سادهٔ تنفیذ حکم

مادهٔ۲۳۵:

در حالات مندرج این فصل، هرگاه مدت محکوم بهای حبس تا یک سال باشد، محکوم علیه بدون هیچ نوع شرایطی از تعلیق تنفیذ حکم مستفید

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تعليق څخه برخمن کېږي.

د حکم د تنفيذ مشروط تعليق

۲۳۶ ماده:

(۱) پدې فصل کې په مندرجو حالاتو کې، که چېرې د حبس د محکوم بهاء موده له يوۀ کاله څخه زياته وي، محکمه کولای شي د حکم د تنفيذ د تعليق په موده کې مرتکب له لاندې مواردو څخه د يوۀ يا څو مواردو په تر سره کولو مکلف کړي:

۱- د پوليسو له اجازې پرته د استوګنې د ځای له ښاره بهرته سفر ونکړي.

۲- په هره اونۍ يا هره مياشت کې د پوليسو دفتر ته حاضري ورکړي.

۳- د ناريه او جارحه وسلې له ګرځولو څخه ډډه وکړي.

۴- له چلوني (رانندګۍ) څخه په هغې مودې کې چې محکمه يې ټاکي، ډډه وکړي.

۵- کورنيو، ټولنيزو او اخلاقي مسؤوليتونو ته پابند وي.

۶- په هغو اعمالو چې د مجني عليه د

می‌گردد.

تعلیق مشروط تنفیذ حکم

مادۀ۲۳۶:

(۱) در حالات مندرج این فصل، هرگاه مدت محکوم بهای حبس بیشتر از یک سال باشد، محکمه می تواند مرتکب را به انجام یک یا چند مورد از موارد ذیل درمدت تعلیق تنفیذ حکم، مکلف سازد:

۱- بدون اجازه پولیس، خارج ازشهر محل سکونت سفرنکند.

۲- درهرهفته یا هر ماه به دفتر پولیس حاضری دهد.

۳- ازحمل سلاح ناریه وجارحه خود داری نماید.

۴- از رانندگی طی مدتی که محکمه تعیین میکند، خودداری نماید.

۵- به مسؤولیت های فامیلی،اجتماعی واخلاقی پابند باشد.

۶- به اعمالی که موجب اذیت مجنی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اذيت موجب کېږي لاس پورې نکړي.

۷- نور هغه موارد چې محکمه د هغو رعايت لازم ګڼي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی محکوم عليه له ټاکلو شرايطو څخه تخلف وکړي، د حکم د تنفيذ تعليق لغو او مجازات پر هغهٔ باندې تنفيذېږي.

عليه می‌گردد، مبادرت نورزد.

۷- ساير مواردی که محکمه رعايت آن را لازم می‌داند.

(۲) هرگاه محکوم عليه مندرج فقرهٔ (۱)این ماده ازشرايط معينه تخلف نمايد، تعليق تنفيذ حکم لغو و مجازات بالای وی تنفيذ می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه يم کتاب

جرمونه او جزاګانې

لومړی باب

د دولت، امنیت او عامه مصونیت په وړاندې جرمونه

لومړی فصل

د کورنۍ او بهرنۍ امنیت په وړاندې جرمونه

اصطلاحګانې

۲۳۷ ماده:

په دې فصل کې راتلونکې اصطلاحګانې د لاندې مفاهیمو لپاره کارېږي:

۱- د هېواد نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرار: عبارت دي له مکتوب، لیکنه، سند، رسم، نقشه، انځور، دیاګرام (نمودار)، پیته، (کسته) فلم، مایکروفلم، دیجیتلي سند، سایبري سند، شفاهي وینا او نور هغه وسایل دي چې:

- د نظامي یا دفاعي چارو اړوند د دفاعي، نظامي، سیاسي، دیپلوماتیک،

کتاب دوم

جرایم و جزا ها

باب اول

جرایم علیه دولت، امنیت و مصونیت عامه

فصل اول

جرایم علیه امنیت داخلی و خارجی

اصطلاحات

مادۀ ۲۳۷:

اصطلاحات آتی در این فصل، دارای مفاهیم ذیل می‌باشد:

۱- اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی کشور: عبارت است از مکتوب، نوشته، سند، رسم، نقشه، تصویر، نمودار، کست، فلم، مایکرو فلم، سند دیجیتلی، سند سایبری، گفتار شفاهی و سایر وسایلی است که:

- حاوی اطلاعات دفاعی، نظامی، سیاسی، دیپلوماتیک، اقتصادی و

(c) ketabton.com: The Digital Library

اقتصادي او صناعتي اطلاعاتو لرونكي وي او د هېواد د مصلحت پر بنـــاء د اړوند عامه خدمتونو له مؤظف څخـــه پرته، نور كسان هغو ته د لاسرسي حق ونلري.

د نظـــامي جوړښتونو(تشـــكيلاتو) او سوقياتو، جنګي وســـايلو، نظـــامي او ستراتيژيكي چـــارو اړونـــد وي او د واكمنو مقاماتو له خوا د هغو د خپرېدو تحريري اجازه صادره شوې نه وي.

– د هغو تدابيرو او اجراآتو اړوند وي چې په دې فصل كـــې د درج شـــوو جرمونو د كشف يا د هغو له مرتكبينو څخه د تحقيق لپاره تر لاس لاندې نيول كېږي او د واكمنو مقاماتو له تحريري اجازې پرته د هغوي افشاء كول منـــع وي.

۲– د جنګ حالـــت: د افغانســـتان د اسلامي جمهوري دولـــت او بهرنـــي دولت، د بهرنيو دولتونـــو د نظـــامي ټولنو(اتحاديو) او د دولت د مخـــالفې وسله والې ډلې د نظـــامي ځواكونـــو ترمنځ د بالفعل خصومت يا تصادم لـــه

صناعتی مربوط به امور نظامی يا دفاعی بوده و بنابر مصلحت كشور غيـــر از مؤظف خدمات عامۀ مربوط، ديگران حـــق دسترســـی بـــه آن را نداشـــته باشند.

– به تشكيلات و ســـوقيات نظـــامی، وســـايل جنگـــی، امـــور نظـــامی و ستراتيژيكی مربوط بوده و از طـــرف مقامات ذيصلاح به نشـــر آن اجـــازۀ تحريری صادر نشده باشد.

– بـــه تـــدابير و اجراآتـــی مربـــوط بـــوده كـــه بـــرای كشـــف جـــرايم منـــدرج ايـــن فصـــل يـــا تحقيـــق از مـــرتكبين آن اتخـــاذ مـــی‌گـــردد و افشـــای آنهـــا بـــدون اجـــازۀ تحريری مقامات ذيصـــلاح ممنـــوع باشد.

۲– حالت جنگ: عبارت از حالـــت خصومت يا تصادم بالفعل ميان نيـــرو هـــای نظـــامی دولـــت جمهـــوری اســـلامی افغانســـتان و دولـــت خـــارجی، اتحاديـــه هـــای نظـــامی دولت های خارجی و گـــروه مســـلح

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت څخه عبارت دی.

ملي خيانت

۲۳۸ ماده:

که چېرې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت تبعه له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، د هغه عمل ملي خيانت ګڼل کېږي:

۱- هغه عمل چې د هغو په پایله کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت ټوله یا یوۀ برخه ځمکه د بهرني دولت یا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مخالفو وسله والوځواکونو تر حاکمیت لاندې راشي یا دهېواد خپلواکي په خطرکې واچوي.

۲- هغه عمل چې د هغه په پایله کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت د دولت تر حاکمیت لاندې ټوله یا یوۀ برخه ځمکه د هغه له اداري بهر شي.

۳- دښمن ته د تر امر لاندې ځواکونو تسلیمول.

۴- د دښمن د مساعدت په منظور دښمن ته د تأسیساتو، د وسلې او مخالف دولت، می‌باشد.

خیانت ملی

مادۀ ۲۳۸:

هرگاه تبعۀ دولت جمهوری اسلامی افغانستان مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، عمل وی خیانت ملی شمرده می شود:

۱- عملی که در نتیجه آن اراضی دولت جمهوری اسلامی افغانستان تماماً یا قسماً تحت حاکمیت دولت خارجی یا نیرو های مسلح مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان قرار گیرد یا استقلال کشور را به مخاطره اندازد.

۲- عملی که در نتیجه آن تمام یا قسمتی از اراضی تحت حاکمیت دولت جمهوری اسلامی افغانستان از اداره آن خارج شود.

۳- تسلیمی نیرو های تحت امر به دشمن.

۴- واگذاری تأسیسات، دیپوی اسلحه ومهمات، وسایط نظامی، ذخایر مواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهماتو د ديپو، نظامي وسايطو، د ارتزاقي توکو د زېرمو يا په نظامي ځواکونو پورې د اړوندو استحکاماتو پرېښودل، يا هېواد ته د دښمن د ننوتلو د آسانتياوو برابرول.

۵- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان يا ډلې يا د هغوی ګمارل شوو ته د تسليمي په منظور د هېواد د نظامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو ځخه ډکو معلوماتو راټولول.

٦- د افغانستان د اسلامي جمهوريت له دولت سره د جګړې په حال کې بهرني دولت يا دافغانستان د اسلامي جمهوريت له دولت سره د جګړې يا وسله والې شخړې په حال کې د وسله والو ځواکونو لپاره داشخاصو ګمارل (استخدام)، د مالونو يا نظامي تجهيزاتو برابرول.

۷- د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په وړاندې د نظامي ځواکونو وسله وال قيام.

۸- د هېواد د نظامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو ځخه ډکو سندونو غلا کول،

ارتزاقی یا استحکامات متعلق به نیرو های نظامی به دشمن بمنظور مساعدت آنها، یا فراهم سازی تسهیلات برای ورود دشمن به کشور.

۵ – جمع آوری معلومات حاوی اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی کشور، بمنظور تسلیم دهی آن به دولت خارجی، سازمان یا گروه ضد دولتی یا گماشتگان آنها.

٦– استخدام اشخاص، تهیه اموال یا تجهیزات نظامی برای دولت خارجی در حال جنگ با دولت جمهوری اسلامی افغانستان یا نیرو های مسلح در حال جنگ یا منازعه مسلحانه با دولت جمهوری اسلامی افغانستان.

۷– قیام مسلحانه نیرو های نظامی علیه دولت جمهوری اسلامی افغانستان.

۸– سرقت، تلف یا تزویر اسناد حاوی اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلف کول یا تزویرول.

۹- د افغانستان له اسلامي جمهوریت سره د جګړې یا وسله والې شخړې په حال کې د بهرني دولت له وسله والو ځواکونو یا وسله والې ډلې سره یو ځای کېدل.

۱۰- د دولتي قدرت د اخیستلو په منظور د افغانستان اسلامي جمهوري دولت په وړاندې وسله وال قیام یا توطئه.

۱۱- بهرنیو اشخاصو یا دولت یا هغه شخص ته چې د هغوی په ګټه کار کوي یا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت مخالفو وسله والو ډلو ته د هېواد د نظامي، دفاعي یا امنیتي اسرارو افشاء کول.

۱۲- مسؤولو مراجعو ته له هغو معلوماتو څخه نه خبرتیا چې موخه یې ددې مادې په ۱ تر ۸ جزونو کې د درج شوو جرمونو ارتکاب وي او شخص د قانون په حکم د هغو په کشف مؤظف یا په بل ډول د هغو په افشاء کولو مکلف وي.

کشور.

۹- پیوستن به قوای مسلح دولت خارجی یا گروه مسلح در حال جنگ یا منازعه مسلحانه با جمهوری اسلامی افغانستان.

۱۰- قیام مسلحانه یا توطئه علیه دولت جمهوری اسلامی افغانستان بمنظور گرفتن قدرت دولتی.

۱۱- افشای اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی کشور به اشخاص یا دولت خارجی یا شخصی که به نفع آنها کار می کند یا به گروه های مسلح مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان.

۱۲- عدم اطلاع از معلوماتی که هدف آن ارتکاب جرایم مندرج اجزای ۱ تا ۸ این ماده بوده و شخص به حکم قانون به کشف آن مؤظف و یا به نحوی دیگری به افشای آن مکلف باشد، به مراجع مسؤول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملي خيانت د جرم مجازات

۲۳۹ ماده:

د ملي خيانت د جرم مرتکب له احوالو سره سم په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- د ۲۳۸ مادې په ۱تر ۹ جزونو کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په صورت کې، په ۲درجه دوام حبس.

۲- د ۲۳۸ مادې په ۱۰تر ۱۲ جزونو کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په صورت کې، په طويل حبس.

جاسوسي

۲۴۰ ماده:

(۱) که چېرې د بهرني دولت تبعه يا له تابعيت پرته شخص، له لاندې اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي، د هغه عمل جاسوسي ګڼل کېږي:

۱- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان يا ډلې يا د هغوی ګمارل شوو ته د هېواد د نظامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو تسليمول.

۲- بهرني دولت، د دولت ضد سازمان يا ډلې يا د هغوی ګمارل شوو ته د

مجازات جرم خیانت ملی

مادۀ ۲۳۹:

مرتکب جرم خیانت ملی حسب احوال به مجازات ذیل محکوم می‌گردد:

۱- در صورت ارتکاب جرایم مندرج اجزای ۱ تا ۹ مادۀ ۲۳۸، به حبس دوام درجه۲.

۲- در صورت ارتکاب جرایم مندرج اجزای ۱۰ تا ۱۲ مادۀ ۲۳۸، به حبس طویل.

جاسوسی

مادۀ ۲۴۰:

(۱) هرگاه تبعۀ دولت خارجی یا شخص بدون تابعیت، مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، عمل وی جاسوسی شمرده می‌شود:

۱- تسلیم دهی اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی کشور، به دولت خارجی، سازمان یا گروه ضد دولتی یا گماشتگان آنها.

۲- سرقت یا جمع آوری معلومات حاوی اسرار نظامی، دفاعی یا امنیتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

تسليمولو په منظور د هېواد د نظامي، دفاعي يا امنيتي اسرارو څخه ډکو معلوماتو غلا يا راټولول.

۳- د بهرني دولت د اطلاعاتو او استخباراتو په دستور د معلوماتو راټولول يا تسليمول چې له هغوی څخه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په وړاندې ناوړه ګټه پورته کړای شي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مرتکب په ۲درجه دوام حبس محکومېږي.

د جاسوسۍ د جرم مشدده حالت

۲۴۱ ماده:

که چېرې ددې قانون په ۲۴۰ ماده کې درج شوی جرم له بهرني دولت يا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مخالفې وسله والې ډلې سره د جنګ يا وسله والې شخړې په وخت کې ارتکاب شي يا په مړينه تمام شي، مرتکب په ۱درجه دوام حبس محکومېږي.

کشور، بمنظور تسليم دهی آن به دولت خارجی، سازمان يا گروه ضد دولتی يا گماشتگان آنها.

۳- جمع آوری يا تسليم دهی معلومات به دستور اطلاعات و استخبارات دولت خارجی که از آن عليه دولت جمهوری اسلامی افغانستان سوء استفاده به عمل آمده بتواند.

(۲) مرتکب جرم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد.

حالت مشددۀ جرم جاسوسی

مادۀ۲۴۱:

هرگاه جرم مندرج مادۀ ۲۴۰ اين قانون در زمان جنگ يا منازعه مسلحانه با دولت خارجی يا گروه مسلح مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان ارتکاب يابد يا منجر به مرگ شود، مرتکب به حبس دوام درجه۱ محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عامه خدمتونود مؤظف غفلت يا بې احتياطي

۲۴۲ ماده:

که چېرې ددې قانون په ۲۳۸ او ۲۴۰ مادو کې درج شوي جرمونه د عامه خدمتونو د مؤظف د غفلت يا بې احتياطي له امله صورت مونډلی وي، نومورې مؤظف د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

تبليغ يا توطئه

۲۴۳ماده:

(۱) هغه شخص چې د جنګ په وخت کې د دروغو يا مغرضانه خبرونو، اعلاميو او اظهاراتو په خپرولو سره، عمداً په شفاهي يا ليکلي صورت يا په هره بله وسيله، له دښمن څخه د ملاتړ په منظور تبليغ يا توطئه وکړي، په داسې ډول چې د هېواد دفاعي قدرت يا د نظامي ځواکونو نظامي عملياتو ته زيان ورسوي يا د ګډوډۍ يا د خلکو د روحيې د کمزورې کېدو لامل شي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس

غفلت یا بی احتیاطی مؤظف خدمات عامه

مادۀ ۲۴۲:

هرگاه جرایم مندرج مواد ۲۳۸ و ۲۴۰ این قانون به اثر غفلت یا بی احتیاطی مؤظف خدمات عامه صورت گرفته باشد، مؤظف مذکور به حداکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

تبلیغ یا توطئه

مادۀ ۲۴۳:

(۱) شخصی که در زمان جنگ با نشر اخبار، اعلامیه ها، اظهارات دروغ یا مغرضانه عمداً به صورت شفاهی یا تحریری یا به هر وسیلۀ دیگری بمنظور حمایت از دشمن تبلیغ یا توطئه نماید به نحویکه به قدرت دفاعی کشور یا عملیات نظامی نیرو های نظامی ضرر رساند یا سبب هرج و مرج یا تضعیف روحیۀ مردم گردد، به حبس طویل تا ده سال، محکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکومیږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د افغانستان اسلامي جمهوريت له دولت سره د جنګ په حالت کې بهرني دولت يا د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له مخالفو وسله والو ځواکونو سره د مخابراتي يا نورو الکترونيکي وسايلو د اړيکې په وسيله ارتکاب شوی وي، مرتکب په طويل حبس محکومیږي.

(۳) که چېرې شخص له جنګ پرته حالت کې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم مرتکب شي، په متوسط حبس محکومیږي.

د ديپلوماتيکو اړيکو په وړاندې جرمونه

۲۴۴ ماده:

(۱) هغه شخص چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت او بهرني دولت يا بين المللي سازمان ترمنځ د تشنج د رامنځته کولو يا د ديپلوماتيکو اړيکو د اخلال يا پرې کولو په منظور د

می‌گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به وسیله تماس مخابراتی یا سایر وسایل الکترونیکی با دولت خارجی یا نیرو های مسلح مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان در حالت جنگ با دولت جمهوری اسلامی افغانستان ارتکاب گردیده باشد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه شخص مرتکب جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در غیر از حالت جنگ گردد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

جرایم علیه روابط د دیپلوماتیک

مادهٔ ۲۴۴:

(۱) شخصی که بمنظور ایجاد تشنج میان دولت جمهوری اسلامی افغانستان و دولت خارجی یا سازمان بین المللی یا اخلال یا قطع روابط دیپلوماتیک، مرتکب عمل غیر قانونی گردد که به

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې نا قانونه عمل مرتکب شي چې له بهرني دولت يا بين المللي سازمان سره د افغانستان د دولت اړيکو تـــه زيـــان واړوي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل له بهرني دولت يا بين المللي سازمان سره د اړيکو د پرې کولو لامل شي، مرتکـــب د متوســـط حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د بهرني دولت يا بين المللي سازمان د استازي په ضرب، جرح يا قتل تمام شي، مرتکب پـــه دې قانون کې درج د ضرب، جرح يا قتل د جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

د بهرني دولت پر قلمرو تجاوز

۲۴۵ ماده:

(۱) هغه شخص چې د هېواد له دننـــه څخه د بهرني دولت پـــر قلمـــرو پـــه وسله وال ډول تجاوز وکړي، له دريو کلونو څخه زيات په متوســـط حـــبس محکومېږي.

روابط دولـــت جمهـــوری اســـلامی افغانستان با دولت خارجی يا سازمان بين المللی زيان وارد نمايد، به حـــبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده سبب قطع روابط ديپلوماتيک بـــا دولت خارجی يا سازمان بين المللـــی گردد، مرتکب به حد اکثـــر حـــبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده، منجر به ضرب، جرح يا قتـــل نمايندهٔ دولت خـــارجی يـــا ســـازمان بين المللی گردد، مرتکب به حد اکثر مجازات جرم ضرب، جرح يا قتـــل مندرج اين قانون محکوم می‌گردد.

تجاوز بر قلمرو دولت خارجی

مادهٔ ۲۴۵:

(۱) شخصـــی کـــه از داخـــل کشور بر قلمرو دولت خارجی به شکل مسلحانه تجاوز کند، به حبس متوسط بـــيش از ســـه ســـال، محکـــوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د سیاسي اړیکو د پرې کېدو یا بالمثل رویې موجب شي، مرتکب په طویل حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په جګړې تمام شي، مرتکب په ۱درجه دوام حبس محکومېږي.

(۴) هغه شخص چې د نورو هېوادونو په کورنیو جګړو یا وسله والو شخړو کې ګډون وکړي، په طویل حبس چې له اووکلونو څخه زیات نه وي محکومېږي.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده موجب قطع روابط سیاسی یا رویهٔ بالمثل گردد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به جنگ گردد، مرتکب به حبس دوام درجه۱، محکوم می‌گردد.

(۴) شخصی که در جنگ ها یا منازعات مسلحانه داخلی سایر کشورها اشتراک نماید، به حبس طویلی که از هفت سال بیشتر نباشد، محکوم می گردد.

د جګړې په وخت کې له بهرنۍ دولت سره د سوداګریزو اړیکو تینګول

برقراری روابط تجارتی با دولت خارجی در زمان جنگ

۲۴۶ ماده:

(۱) هغه شخص چې خپله یا د بل شخص په واسطه د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره په جګړه کې بنکېل دولت سره یا د هغه له اتباعو یا وکیلانو یا سوداګریز استازي سره یا د

مادهٔ ۲۴۶:

(۱) شخصی که خود یا توسط شخص دیگری با دولت داخل جنگ با دولت جمهوری اسلامی افغانستان یا اتباع یا وکلاء یا نمایندهٔ تجارتی آن یا با گروه مسلح

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د اسلامي جمهوري د دولت له وسله والې مخالفې ډلې سره په هر ځای کې چې هستوګنه ولري، د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت له موافقې پرته، سوداګریز مناسبات ټینګ کړي، د جرم د موضوع د مالونو پر مصادرې برسېره، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس او له سل زره افغانیو تر یو میلیون افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج د جرم د موضوع شیان، ضبط شوي نه وي، محکمه د هغو د بیې په ورکړه حکم کوي.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي حکمونه د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره په جګړه کې بنکېل هېواد ته له بهر څخه د بشردوستانه مرستو د صادربدو او وارېدېدو خنډ نه کېږي.

مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان، در هر محلی که اقامت داشته باشند، بدون موافقهٔ دولت جمهوری اسلامی افغانستان، مناسبات تجارتی برقرار نماید، علاوه بر مصادره اموال موضوع جرم، به حبس طویل تا ده سال و جزای نقدی از یک صد هزار افغانی تا یک میلیون افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه اشیای موضوع جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، ضبط نگردیده باشد محکمه به تأدیهٔ قیمت آن حکم می‌نماید.

(۳) احکام مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده مانع صادر یا وارد کردن کمک های بشر دوستانه از خارج به کشور داخل جنگ با دولت جمهوری اسلامی افغانستان نمی‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جګړې په وخت کې د ژمنې نه ترسره کول

۲۴۷ ماده:

(۱) هغه شخص چې د جنګ په وخت کې د نظامي ځواکونو د اړتیا وړ توکو یا لومړنیو ارتزاقي توکو او یا نورو هغو توکو د تورید یا رسولو په هکله چې د خلکو د وقایې لپاره کارول کېږي د افغانستان د اسلامي جمهوریت له دولت سره په خپلو ټولو یا ځینو ژمنو کې عمداً د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت ته د زیان رسولو په منظور خلل وارد کړي او یا په بل ډول د نومورو ژمنو په پلي کولو کې حیلې یا درغلي ته متوسل شي، په طویل حبس محکومېږي. دغه حکم په نومورو ژمنو کې وکیل، ممثل یا وسیط ته هم شامل دی.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي جرمونه د هېواد د دفاعي قدرت او حرکتونو یا د نظامي ځواکونو د عملیاتو په کمزوري کېدو

عدم ایفای تعهد در زمان جنگ

مادۀ ۲۴۷:

(۱) شخصی که در زمان جنگ به اجرای تمام یا قسمتی از تعهدات خود با دولت جمهوری اسلامی افغانستان مبنی بر توريد یا رساندن مواد مورد ضرورت نیروهای نظامی یا مواد ارتزاقی اولیه و یا سایر موادی که جهت وقایه مردم بکار می رود عمداً بمنظور صدمه رسانیدن به دولت جمهوری اسلامی افغانستان، خلل وارد نماید و یا به نحوی از انحا در اجرای تعهدات متذکره به حیله یا تقلب متوسل گردد، به حبس طویل محکوم می گردد. این حکم شامل وکیل، ممثل یا وسیط در تعهدات متذکره نیز می‌باشد.

(۲) هرگاه جرایم مندرج فقرۀ (۱) این ماده منجر به تضعیف قدرت و حرکات دفاعی کشور یا عملیات نیروهای نظامی یا قتل گردد،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا قتل تمام شي، مرتکب په ۲درجه دوام حبس يا په دې قانون کې درج د قتل په جزا محکومېږي.

مرتکب به حبس دوام درجه۲ يا جزای قتل مندرج اين قانون، محکوم می‌گردد.

د وسايطو يا تأسيساتو ويجاړول

تخريب وسايط يا تأسيسات

۲۴۸ ماده:

مادۀ ۲۴۸:

(۱) هغه شخص چې د واکمن مقام له اجازې پرته د هوايي، ځمکني يا آبي وسايطو يا تأسيساتو او نورو هغو تأسيساتو څخه يو چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په نظامي ځواکونو پورې اړوند وي يا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د نظامي ځواکونو چوپړ ته تخصيص شوي وي، قسماً يا ټول ويجاړ کړي او يا هغه د نه استفادې ور وګرځوي، په طويل حبس محکومېږي.

(۱) شخصی که بدون اجازه مقام ذیصلاح، عمداً یکی از وسایط یا تأسیسات هوایی، زمینی یا آبی، وسایر تأسیساتی را که متعلق به نیرو های نظامی دولت جمهوری اسلامی افغانستان بوده یا به خدمت نیرو های نظامی دولت جمهوری اسلامی افغانستان تخصیص داده شده باشد، قسماً یا کلاً تخریب نماید و یا آن را غیر قابل استفاده گرداند، به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم له لاندې حالتونو څخه په يوۀ کې ارتکاب شي، مرتکب په درجه ۲دوام حبس محکومېږي:

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده در یکی از حالات ذیل ارتکاب یابد، مرتکب به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد:

۱- په هغه حالت کې چې عمل د هغه دولت په ګټه اجراء شي چې د

۱- در حالتی که عمل به نفع دولتی اجراء گردد که با دولت جمهوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانستان د اسلامي جمهوريت له دولت سره د جګړې په حال کې وي.

۲- په هغه حالت کې چې عمل د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دفاعي احضارات يا دفاعي قدرت يا د هغه نظامي حرکتونه له جدي ګوابښ سره مخ کړي.

د پيسو يا منفعت اخيستل

۲۴۹ ماده:

(۱) هغه شخص چې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت يا د هېواد ملي ګټو ته د صدمې رسولو په منظور، پدې قانون کې د پيښبيني شوو حالتونو څخه پرته، له بهرني دولت يا بين المللي سازمان يا له هغه شخص څخه چې د هغوی په ګټه کار کوي، د خپل ځان يا بل چا لپاره پيسې، مال يا منفعت وغواړي، ومني يا ترلاسه کړي يا د هغو د تر لاسه کولو وعده ورکړي يا واخلي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس او د نومورې وجه معادل په نغدې جزا محکومېږي.

اسلامی افغانستان در حال جنگ باشد.

۲- در حالتی که عمل احضارات دفاعی دولت جمهوری اسلامی افغانستان یا قدرت دفاعی یا حرکات نظامی آن را به خطر جدی مواجه سازد.

اخذ پول یا منفعت

مادۀ ۲۴۹:

(۱) شخصی که بمنظور صدمه رسانیدن به دولت جمهوری اسلامی افغانستان یا منافع ملی کشور در غیر از حالات پیش بینی شده در این قانون، از دولت خارجی یا سازمان بین المللی یا شخصی که به نفع آنها کار می‌کند، برای خود یا دیگری پول، مال یا منفعتی را طلب، قبول یا دریافت نماید یا وعدۀ دریافت آنرا بدهد یا بگیرد، به حبس طویل تا ده سال و جزای نقدی معادل وجه مذکور، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د جنګ په وخت کې یا د عامه خدمتونو د مؤظف په واسطه ارتکاب شي، مرتکب په ۲درجه دوام حبس او ددې مادې په (۱) فقره کې درج په نغدي جزا، محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې خپله یا د بل شخص په واسطه د ملي امنیت د مخالف عمل د ارتکاب په قصد پیسې، مال یا منفعت شخص ته ژمنه یا عرضه او یا ورکړي یا په هغه کې وساطت وکړي، د جرم د فاعل په عین جزا، محکومېږي.

(۴) که چېرې غوښتنه، د وساطت یا ژمنې منل، په لیکلي ډول صورت ومومي، جرم د لیک د صادرېدو سره سم، ترسره شوی ګڼل کېږي.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در زمان جنگ یا توسط مؤظف خدمات عامه ارتکاب یابد، مرتکب به حبس دوام درجه۲ وجزای نقدی مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، محکوم می‌گردد.

(۳) شخصی که خود یا توسط شخص دیگری به قصد ارتکاب عمل مخالف امنیت ملی، پول، مال یا منفعتی را به شخصی وعده یا عرضه کند و یا بپردازد یا در آن وساطت نماید، به عین جزای فاعل جرم، محکوم می‌گردد.

(۴) هرگاه طلب، قبولی وساطت یا وعده، به شکل تحریری صورت گیرد، جرم به مجرد صدور مکتوب، انجام شده تلقی می‌شود.

د افغانستان په زیان په مذاکره کې توافق

توافق در مذاکره به زیان افغانستان

۲۵۰ ماده:

مادهٔ ۲۵۰:

(۱) هغه شخص چې له بهرني دولت یا د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت

(۱) شخصی که به انجام مذاکره با دولت خارجی یا گروه مسلح مخالف

(c) ketabton.com: The Digital Library

له مخالفې وسله والې ډلــې ســره د مذاکرې په ترسره کولو مؤظف شوی وي، په عمدي ډول د هېواد د ملي ګټو او عامه مصالحو په زیان توافق وکړي، په ۲درجه دوام حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی شــخص د هېــواد د اقتصادي ګټو پر زیان توافق وکړي، په طویل حبس محکومېږي.

دولت جمهوری اسلامی افغانســتان، مؤظف شده باشد، عمداً بــه زیــان منافع ملی و مصالح عامه کشور توافق نماید، به حبس دوام درجه۲، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه شخص مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، بر زیان منافع اقتصادی کشــور توافق نماید، به حبس طویل ، محکوم می گردد.

د هېواد د ملي امنیت او مالي اعتبار کمزوري کول

تضعیف امنیت ملی و اعتبار مالی کشور

۲۵۱ ماده:

(۱) هغه شخص چې د مالي اعتبار یــا ملي امنیت د کمزوري کولو په منظور، په عمدي ډول په هېواد کې د ننه یا له هېواده څخه بهر د هېــواد د کــورنۍ وضعې په هکله غیر واقعي او مغرضانه اطلاعات، بیانیې او شایعې خپرې کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم د جګړې په وخت کې ارتکاب شي، مرتکب تر لسو کلونو

مادهٔ ۲۵۱:

(۱) شخصی که اطلاعات، بیانات یــا شایعات غیر واقعی و مغرضــانه را در مورد اوضاع داخلی کشور بمنظــور تضعیف اعتبار مالی یا امنیت ملی عمداً در داخل یــا خــارج کشــور نشــر نماید، به حــبس متوســط محکــوم، می‌گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده در زمان جنگ ارتکــاب یابــد، مرتکب به حبس طویل تــا ده ســال،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې په طويل حبس محکومېږي.

امنيتي نامجازه اقدامات او اعمال

۲۵۲ ماده:

(۱) لاندې اشخاص په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې په نامجـــاز ډول کلاګانو، دفاعي يا امنيتي تأسيساتو، د نظامي ځواکونو قطعـــاتو، الـــوتکې، هليکوپتر، نظامي وسايطو يا نورو هغو نظامي يا امنيتي مواضعو او د هېـــواد د نظامي چارو اړوندو کارخانو ته په هغه صورت کې چې هغو ته ننوتل منع شوي وي، دننه شي.

۲- هغه شخص چې په نامجـــاز ډول ددې مادې د (۱) فقرې په ۱ جزء کې له درج شوو محلاتو او تأسيساتو څخه رسم، انځور، فلم يـــا نقشـــه برابـــره کړي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي جرمونه په فريـــب يـــا تزويري سندونو يا د هويت يا تابعيت په محکوم می‌گردد.

اقدامات و اعمال غير مجاز امنيتي

مادۀ ۲۵۲:

(۱) اشخاص ذيل به حبس قصير يـــا جزای نقدی از سی هزار تـــا شصـــت هزار افغانی، محکوم می‌گردند:

۱- شخصی که به صورت غير مجاز به قلعه‌ها، تأسيسات دفاعی يا امنيتی، قطعات نيروهـــای نظـــامی، طيـــاره، هليکوپتر، وسايط نظامی يا ساير مواضع نظامی يا امنيتی و کارخانه‌های مربوط به امور دفاعی کشور، در صـــورتيکه داخل شدن به آن ممنوع گرديده باشد، داخل گردد.

۲- شخصی که بـــه صـــورت غيـــر مجاز از محلات يا تأسيسات منـــدرج جـــز ۱ فقـــرۀ (۱) ايـــن مـــاده رسم، عکس، فلم يـــا نقشـــه تهيـــه نمايد.

(۲) هرگاه جرايم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده با توسل به فريـــب يـــا اســـناد تزويری يا اخفای هويت يـــا تابعيـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټولو سره په توسل ارتکاب شي، يا جرم د جګړې په وخت کې واقع شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۳) مرتکب ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د درج شوو حالتونو د اجتماع په صورت کې تر لسو کلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

(۴) ددې مادې د (۱ او ۲) فقرې په جرم پيل د هغه د ارتکاب په حکم کې ده.

ارتکاب گردد، یا جرم در زمان جنگ واقع شود، مرتکب به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۳) مرتکب در صورت اجتماع حالات مندرج فقره های (۱ و۲) این ماده به حبس طویل تا ده سال، محکوم می گردد.

(۴) شروع به جرم مندرج فقره های (۱ و۲) این ماده در حکم ارتکاب آن می باشد.

له اجازې پرته د هېواد په فضا کې الوتنه (د هوايي حريم نقض)

پرواز در فضای کشور بدون اجازه (نقض حریم هوایی)

۲۵۳ ماده:

(۱) هغه شخص چې د اړوندو مقاماتو له اجازې پرته د هېواد په فضايي قلمرو کې د الوتکې يا هليکوپټر په واسطه الوتنه وکړي، يا د هېواد په فضا کې بې پيلوټه الوتکه والوزوي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د اطلاعاتو د

مادۀ ۲۵۳:

(۱) شخصی که بدون اجازه مقامات مربوط در قلمرو فضایی کشور توسط طیاره یا هلیکوپتر پرواز نماید، یا طیاره بدون سرنشین را در فضای کشور پرواز دهد، به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرۀ (۱) این ماده بمنظور جمع آوری اطلاعات از

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټولولو په منظور د هېواد له کلاګانو، دفاعي يا امنيتي تأسيساتو، د امنيتي ځواکونو له قطعاتو، جنګي ابزار او وسايطو يا د نظامي يا امنيتي نورو مواضعو او د نظامي چارو له اړوندو کارخانو څخه صورت ومومي، مرتکب د متوسط حبس په اکثرحد محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې د اړوندو مقاماتو له اجازې پرته د هېواد په فضا کې په ممنوعه محلاتو کې الوتنه وکړي يا د اطلاعاتو د راټولولو وسايل د هېواد په فضا کې په ممنوعه محلاتو کې والوزوي، په طويل حبس محکومېږي.

(۴) ددې مادې په (۱، ۲ او ۳) فقرو کې د درج جرم پيل د هغه د ارتکاب په حکم کې راځي.

کورنۍ جګړې ته هڅول (تحريک)

۲۵۴ ماده:

(۱) هغه شخص چې بل کس کورنۍ جګړې ته وهڅوي، د جرمي پايلې د وقوع په صورت کې د مرتکبه جرم په مجازاتو محکومېږي.

قلعه ها، تأسيسات دفاعی يا امنيتی، قطعات نيرو های امنيتی، ابزار و وسايط جنگی يا ساير مواضع نظامی يا امنيتی و کارخانه‌های مربوط به امور دفاعی کشور صورت گيرد، مرتکب به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۳) شخصی که بدون اجازه مقامات مربوطه در محلات ممنوعه در فضای کشور، پرواز نمايد يا وسايل جمع آوری اطلاعات را در محلات ممنوعه در فضای کشور پرواز دهد، به حبس طويل، محکوم می‌گردد.

(۴) شروع به جرم مندرج فقره های (۱، ۲ و۳) اين ماده درحکم ارتکاب آن می باشد.

تحريک به جنگ داخلی

مادۀ ۲۵۴:

(۱) شخصی که ديگری را به جنگ داخلی تحريک کند، در صورت وقوع نتيجه جرمی به مجازات جرم مرتکبه، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې هڅونه اغیزمنه واقع نشي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

د غصب یا لوټولو په منظور د وسله والې ډلې رهبري

۲۵۵ ماده:

(۱) هغه شخص چې د دولتي املاکو یا مالونو د غصب یا لوټولو په قصد وسله واله ډله یا په دې منظور یوۀ ډله خلک رهبري کړي یا د هغو نظامي ځواکونو په وړاندې چې د نومورې ډلې د ځپلو لپاره مکلف شوي دي، وسله وال مقاومت وکړي، په ۲درجه دوام حبس محکومېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوې ډلې غړي له احوالو سره سم په طویل حبس محکومېږي.

تبعیض یا تفرقې ته هڅول

۲۵۶ ماده:

(۱) هغه شخص چې بل کس مذهبي، نژادي، قومي، ژبنیز یا سیمه ایز

(۲) هرگاه تحریک مندرج فقرۀ (۱) این ماده مؤثر واقع نگردد، مرتکب به حبس متوسط، محکوم می گردد.

رهبری گروه مسلح بمنظور غصب یا غارت

مادۀ ۲۵۵:

(۱) شخصی که گروه مسلح را به قصد غصب یا غارت املاک یا اموال دولتی یا گروهی از مردم را به این منظور، رهبری نماید یا در برابر نیروهای نظامی که برای سرکوب گروه مذکور مکلف شده اند، مقاومت مسلحانه نماید، به حبس دوام درجه۲، محکوم می‌گردد.

(۲) اعضای گروه مندرج فقرۀ (۱) این ماده حسب احوال به حبس طویل، محکوم می‌گردند.

تحریک به تبعیض یا تفرقه

مادۀ ۲۵۶:

(۱) شخصی که دیگری را به تبعیض یا تفرقه مذهبی، نژادی، قومی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تبعيض يا تفرقې ته راوبولي يا وهڅوي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په پايله تمام شي يا له عنف او تهديد سره مل وي، مرتکب تر اوو کلونو پورې په طويل حبس محکومېږي.

زبانی یا منطقوی دعوت یا تحریک نماید، به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به نتیجه گردد یا با عنف و تهدید توأم باشد، مرتکب به حبس طویل تا هفت سال، محکوم می‌گردد.

د جرم په ارتکاب کې مرسته

همکاری در ارتکاب جرم

۲۵۷ ماده:

ددې فصل په مفهوم، په آګاهانه ډول له لاندې اعمالو څخه د يوهٔ ارتکاب په جرم کې معاونت پېژندل کېږي، مرتکب د جرم د معاون په جزا محکومېږي:

۱- د ناريه وسلې، جنګي ابزارو او وسايطو يا نورو هغه جرمي وسايلو برابرول چې په دې فصل کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب لپاره تر ګټې اخيستنې لاندې راشي.

۲- په دې فصل کې د درج شوو مرتکبينو لپاره د اوسېدلو د ځای يا د

مادهٔ ۲۵۷:

به مفهوم این فصل، ارتکاب یکی از اعمال ذیل به شکل آگاهانه معاونت در جرم شناخته شده، مرتکب به جزای معاون جرم، محکوم می گردد:

۱- تهیه سلاح ناریه، ابزار و وسایط جنگی یا سایر وسایل جرمی که برای ارتکاب جرایم مندرج این فصل مورد استفاده قرار گیرد.

۲- تهیه محل سکونت یا محل اجتماع برای مرتکبین مندرج این

(c) ketabton.com: The Digital Library

راټولېدلو د ځای برابرول.

۳- په دې فصل کې د درج شوو مرتکبینو لپاره د ارتزاقي توکو برابرول.

د دولتي تأسیساتو په اشغال اقدام

۲۵۸ ماده:

هغه شخص چې د نظامي ځواک په کارولو سره د دولتي تأسیساتو، مؤسسو او نورو هغو اماکنو په اشغال چې د عامه منفعت په منظور ودان شوي اقدام وکړي، په طویل حبس محکومېږي.

د ودانیو او املاکو تلف کول

۲۵۹ ماده:

(۱) هغه شخص چې عمداً ودانی، عامه یا دولتي املاک، دولتي ادارو، عامه مؤسسو یا هغو ټولنو ته مختص املاک چې د قانون له مخې د عامه ګټو د تأمین په غرض تأسیس شوی وي، پداسې ډول ونړوي چې په بشپړ یا جزئي صورت د انتفاع قابلیت ونلري، له احوالو سره سم په متوسط حبس یا طویل محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره فصل.

۳- تهیه مواد ارتزاقی برای مرتکبین مندرج این فصل.

اقدام به اشغال تأسیسات دولتی

مادۀ ۲۵۸:

شخصی که با استعمال قوت نظامی به اشغال تأسیسات دولتی، مؤسسه ها و دیگر اماکنی که بمنظور منفعت عامه اعمار گردیده اقدام نماید، به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

اتلاف بنا ها و املاک

مادۀ ۲۵۹:

(۱) شخصی که عمداً ساختمان ها، املاک عامه یا دولتی، املاک مختص به ادارات دولتی، مؤسسه های عامه یا جمعیت های که قانوناً به غرض تأمین منافع عامه تأسیس یافته باشد، را طوری منهدم سازد که قابلیت انتفاع را بصورت کلی یا جزئی نداشته باشد حسب احوال به حبس متوسط یا طویل، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې درج شوی جرم د اضطرار په حالت کې یا د بې نظمۍ د رامنځته کولو یا د خلکو په منځ کې د رعب او ډار د رامنځته کولو په قصد ارتکاب شي، مرتکب له لسو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په قتل تمام شي، مرتکب د مرتکبه جرم په جزا محکومېږي.

ایـن مـاده در حالـت اضـطرار یا بـه قصـد ایجـاد بـی نظمـی یا ایجاد رعب و ترس دربـین مـردم ارتکاب گردد، مرتکب به حبس طویل بـیش از ده سـال، محکـوم می گردد.

(۳) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به قتل گـردد، مرتکـب به جزای جـرم مرتکبـه، محکـوم می گردد.

بیرغ یا دولتي نښان ته سپکاوی

۲۶۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې په علنـي ډول د افغانستان د اسلامي جمهوري دولـت بیرغ یا نښان ته سپکاوی وکړي، پـه قصیر حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چـې د افغانسـتان د اسلامي جمهـوري دولـت بیـرغ د سپکاوي په قصد کښته کړي، د شپږو میاشتو په قصیر حبس محکومېږي.

(۳) هغه شخص چـې د افغانسـتان د اسلامي جمهـوري دولـت بیـرغ د

توهین به بیرق یا نشان دولتی

مادهٔ ۲۶۰:

(۱) شخصی که طور علنی به بیرق یا نشـان دولـت جمهـوری اسـلامی افغانستان توهین نماید، به حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که بیرق دولت جمهوری اسلامی افغانستان را به قصد تـوهین فرود آورد، به حبس قصیر شش ماه، محکوم می گردد.

(۳) شخصی که بیرق دولت جمهوری اسـلامی افغانسـتان را بـه قصـد

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپکاوي په قصد وشکوي، وسوځوي يا تر پښو لاندې کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

توهین پاره کند، بسوزاند یا زیر پا نماید، به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

په عامه سلطه کې مداخله

۲۶۱ ماده:

هغه شخص چې د داسې عمل مرتکب شي چې د هغه اجراء د جرم د کشف د واکمنې مرجع، څارنوالۍ يا محکمې له واک څخه وي، د هغه عمل په عامه سلطه کې مداخله پېژندل کېږي، په لاندې ډول مجازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې عمل د شخص په ضرب يا جرح تمام شوی وي، په متوسط حبس.

۲- په هغه صورت کې چې عمل د شخص د غړي په غوڅولو تمام شوی وي، په۲درجه دوام حبس.

۳- په هغه صورت کې چې عمل د شخص په مړينه تمام شوی وي، په۱درجه دوام حبس.

مداخله در سلطهٔ عامه

مادهٔ۲۶۱:

شخصی که مرتکب عملی گردد که اجرای آن از صلاحیت مرجع ذیصلاح کشف جرم، څارنوالی یا محکمه باشد، عمل وی مداخله در سلطهٔ عامه شناخته شده، حسب ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که عمل منتج به ضرب یا جرح شخص گردیده باشد، به حبس متوسط.

۲- در صورتی که عمل منتج به قطع عضو بدن شخص گردیده باشد، به حبس دوام درجه۲.

۳- در صورتی که عمل منتج به مرگ شخص گردیده باشد، به حبس دوام درجه۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اجتماعاتو، اعتصاباتو او مظاهرو په بهير کې د تاوتريخوالي دستور

۲۶۲ ماده:

(۱)که چېرې د اجتماعاتو، اعتصاباتو او مظاهرو رهبري کوونکی شخص يا اشخاص د اجتماعاتو، اعتصاباتو او مظاهرو ګډون کوونکو ته له تاوتريخوالي ډکو اعمالو د اجراء دستور صادر کړي او ګډون کوونکي نومورو اعمالو ته متوصل شي، د ضرب، جرح، قتل يا نورو مادي پايلو د ارتکاب په صورت کې سازمان ورکوونکی، رهبري کوونکی، امر ورکوونکی يا اجراء کوونکی د ارتکاب شوي جرم د جزا په اکثرحد محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د مخالفې ډلې يا بهرني دولت په ګټه نور خلک د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت پر وړاندې اجتماع، اعتصاب، مظاهرې يا تحصن ته سازماندهي، رهبري او يا

دستور خشونت در جريان اجتماعات، اعتصابات و تظاهرات

مادۀ ۲۶۲:

(۱) هرگاه شخص يا اشخاص رهبری کنندۀ اجتماعات، اعتصابات و تظاهرات دستور اجرای اعمال خشونت آميز را به اشتراک کنندگان اجتماعات، اعتصابات و تظاهرات صادر و اشتراک کنندگان متوصل به اعمال متذکره گردند، در صورت ارتکاب ضرب، جرح، قتل يا ساير نتايج مادی سازمان دهنده، رهبری کننده، امر دهنده يا اجراء کننده به حد اکثر جزای جرم ارتکابی، محکوم می گردند.

(۲) شخصی که به نفع گروه يا دولت خارجی مخالف دولت جمهوری اسلامی افغانستان ديگران را به اجتماع، اعتصاب، مظاهره يا تحصن عليه دولت جمهوری اسلامی افغانستان، سازمان دهی، رهبری ويا امر

(c) ketabton.com: The Digital Library

امر وکړي، د طويل حبس په اکثرحد محکومېږي.

(۳) که چېرې د اجتماع، اعتصاب، مظاهرې او تحصن ګډون کوونکی د داسې شايعاتو په خپرولو لاس پورې کړي چې په ټولنه کې د ويرې (وحشت) لامل شي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۴) هغه شخص چې په اجتماع، اعتصاب، مظاهره يا تحصن کې ناريه وسله ولېږدوي، ددې قانون د ناريه وسلې، مهماتو او چاودېدونکو توکو اړوندو جرمونو په فصل کې د درج شوو مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

(۵) هغه شخص چې په اجتماع، اعتصاب، مظاهره يا تحصن کې ناريه وسله وکاروي، په هغه صورت کې چې د خلکو د وحشت لامل شي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

(٦) که چېرې د دې مادې په (۵) فقره کې درج شوی عمل د جرح يا قتل لامل شي، مرتکب د نومورې فقرې پر مجازاتو سربېره، د مرتکبه جرم په

دهد به حد اکثر حبس طويل، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه اشتراک کننده اجتماع، اعتصاب، مظاهره وتحصن به پخش شايعاتی مبادرت ورزند که سبب وحشت در اجتماع گردد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۴) شخصی که در اجتماع، اعتصاب، مظاهره يا تحصن سلاح ناريه را حمل نمايد به حداکثر مجازات مندرج فصل جرايم مرتبط به سلاح ناريه، مهمات و مواد منفجره اين قانون، محکوم می گردد.

(۵) شخصی که در اجتماع، اعتصاب، مظاهره يا تحصن سلاح ناريه استعمال نمايد، در صورتی که سبب وحشت مردم گردد، به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

(٦) هرگاه عمل مندرج فقرۀ (۵) اين ماده سبب جرح يا قتل گردد، مرتکب علاوه بر مجازات فقرۀ متذکره به مجازات جرم مرتکبه، نيز محکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجازاتو هم محکومېږي.

(۷) که چېرې سازمان ورکوونکی له لیکلې خبرتیا او له واکمنو مراجعو څخه د دمخه اجازې له لرلو پرته، اجتماع، اعتصاب یا مظاهره په لاره واچوي له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

می گردد.

(۷) هرگاه سازمان دهنده بدون اطلاعیه کتبی و داشتن اجازهٔ قبلی از مراجع ذیصلاح، اجتماع، اعتصاب یا مظاهره را براه اندازد، به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

دوه یم فصل

تروریزم

د تروریستي جرمونو د فصل اصطلاحګاني

۲۶۳ ماده:

لاندې اصطلاحګاني پدې قانون کې دغه مفاهیم افاده کوي:

۱- تروریستی جرمونه: د افغانستان اسلامي جمهوري دولت یا بهرني دولت یا د ملي او بین المللي مؤسسو یا سازمانونو د سیاست تر اغېزې لاندې راوستلو یا د افغانستان اسلامي جمهوري دولت یا بهرني دولت د نظام د بې ثباته کولو په منظور پدې فصل کې

فصل دوم

تروریزم

اصطلاحات فصل جرایم تروریستی

مادهٔ ۲۶۳:

اصطلاحات آتی در این فصل مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- جرایم تروریستی: ارتکاب اعمال جرمی مندرج این فصل است، بمنظور تحت تاثیر قرار دادن سیاست دولت جمهوری اسلامی افغانستان یا دولت خارجی ویا مؤسسه ها و سازمان های ملی یا بین المللی یا بی ثبات ساختن نظام

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درج شوو جرمي اعمالو ارتکاب دی.

۲- تروريست او تروريستي سازمان: حقيقي يا حکمي شخص دی چې پدې فصل کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ مرتکب شوی وي يا د ملګرو ملتونو د سازمان د امنيت شوري د پرېکړه ليک مطابق تروريست يا تروريستي سازمان وپېژندل شي، پدې شرط چې پرېکړه ليک د ملي شوري لخوا تصديق شوی وي.

۳- تشدد: په ضاربه، جارحه يا ناريه وسلې او يا جسمي توان ته په توسل سره هر مادي عمل (حمله) دی چې شخص د هغۀ په ارتکاب پيل وکړي او له اخطار سره يوځای هغۀ ته دوام ورکړي.

۴- ملاتړ: د مالي سرچينو، استوګنځي، زده کړې، پناه ځای، مشوره او معاونت، د هويت د سندونو تزوير، مخابراتي تجهيزاتو، وسلې، کيمياوي موادو، انساني منابعو، ترانسپورتي امکاناتو او نورو اسانتياوو

دولت جمهوری اسلامی افغانستان ويا دولت خارجی.

۲- تروريست و سازمان تروريستی: شخص حقيقی يا حکمی است که يکی از جرايم مندرج اين فصل را مرتکب گرديده باشد يا مطابق قطعنامۀ شورای امنيت سازمان ملل متحد تروريست يا سازمان تروريستی شناخته شود، مشروط بر اينکه قطعنامه از طرف شورای ملی تصديق گرديده باشد.

۳- تشدد: هر عمل مادی (حمله) با سلاح اعم از ضاربه، جارحه يا ناريه ويا با توسل به نيروی جسمی است که شخص به ارتکاب آن شروع نموده وتوام با اخطار به آن ادامه دهد.

۴- حمايت: فراهم نمودن منابع مالی، مسکن، آموزش، پناه‌گاه، مشاوره و معاونت، تزوير اسناد هويت، تجهيزات مخابراتی، سلاح، مواد کيمياوی هسته يی وساير مواد منفلقه، منابع انسانی، امکانات ترانسپورتی يا ساير تسهيلات

(c) ketabton.com: The Digital Library

برابرول دي.

۵- د بين المللي مصونيت لرونکی شخص: هغه شخص دی چې د بين المللي حقوقي سندونو مطابق، د ځانګړي مصونيت د حقوقو لرونکی، ګڼل شوی وي.

۶- بنسټيز تأسيسات: هغه دولتي يا غير دولتي تأسيسات دي چې د ګاز، نفتو او اوبو، توليد، زېرمه کول، وېشل، د اوبو رسولو او کانالېزاسيون شبکه، د برېښنا د انرژۍ توليد، مالي خدمتونه، پوهنې، بانکداری، روغتيايی، د اور وژنې او ژغورنې، ترانسپورتي له جملې ځمکنی، هوايي، سيندیز او يا سمندري، د مواصلاتي ، دفاعي، امنيتي، مخابراتي کرښو مراقبت ته شامل ټول ګټې (عام المنفعه) خدمتونه يا نور ټولنيز- اقتصادي خدمتونه وړاندې کوي.

۷- سيندیز يا سمندري ثابت تأسيسات: هغه ساحه يا جوړښت (ساختمان) دی چې په دايمي توګه په سيند يا سمندر کې د هغۀ له ټل سره جوخت، د سرچينو د تفحص او استخراج او يا

می باشد.

۵- شخص دارای مصونيت بين المللی: شخصی است که مطابق اسناد حقوقی بين المللی حايز حقوق مصونيت خاص پنداشته شده است.

د پیسو یا قیمتدارو توکنونو په اړه جعل کاري، د هغو د نه مشابهت، د مودې د انقضاء او تبادلې با وجود بشپړ جرم ګڼل کېږي، مرتکب د تام جرم په مجازاتو محکومېږي

مادهٔ ۲۹۶:

جعل کاری در رابطه به پول یا توکن‌های قیمت‌دار با وجود عدم مشابهت، انقضای مدت وتبادلهٔ آنها، جرم کامل شناخته شده مرتکب به مجازات جرم تام، محکوم می گردد.

د بانکنوټ، سکې، سندونو او نښانونو (توکنونو) غیر مجاز خپرول

نشرغیرمجاز بانک نوت، سکه، اسناد و نشان‌ها (توکن‌ها)

۲۹۷ ماده:

هغه شخص چې بانکنوټ، سکه یا نور هغه سندونه یا توکنونه چې د خپرولو صلاحیت یې د د افغانستان بانک لري، د دافغانستان بانک له اجازې پرته خپارهٔ یا چاپ کړي، د زیان پر جبران برسېره په طویل حبس هم محکومېږي.

مادهٔ ۲۹۷:

شخصی که بانک نوت یا سکه یا سایر اسناد یا توکن های را که صلاحیت نشر آن را دافغانستان بانک دارد، بدون اجازه دافغانستان بانک نشر یا چاپ نماید، علاوه بر جبران خساره به حبس طویل، نیز محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پيسو د جعل په جرم کې مشدده حالات

۲۹۸ ماده:

که چېرې پدې فصل کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ د ارتکاب له امله، د افغاني پيسو ارزښت ټيټ شي يا د هغو له امله د داخلي يا بهرني بازارونو اعتماد متزلزل شي، مرتکب پدې فصل کې د درج شوي داصلي جرم له مجازاتو څخه په يوۀ درجه پورته مجازاتو محکومېږي.

حالات مشدده در جرم جعل پول

مادۀ ۲۹۸:

هر گاه به اثر ارتکاب یکی از جرایم مندرج این فصل ارزش پول افغانی تنزیل نماید یا اعتماد بازارهای داخلی یا خارجی به اثر آن متزلزل گردد، مرتکب به مجازات یک درجه بالاتر از مجازات جرم اصلی مندرج این فصل، محکوم می‌گردد.

پنځم فصل

د مخدرو موادو قاچاق

فصل پنجم

قاچاق مواد مخدر

اصطلاحګاني

۲۹۹ ماده:

راتلونکې اطلاحګانې پدې فصل کې لاندې مفاهيم افاده کوي:

۱- مخدر مواد او اړوونکي مواد: طبيعي اوصنعتي موادو څخه عبارت دي چې دمسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف دمبارزې او دهغو دکنترول

اصطلاحات

مادۀ ۲۹۹:

اصطلاحات آتی در این فصل دارای مفاهیم ذیل می‌باشد:

۱- مواد مخدر و مواد روانگردان: عبارت از مواد طبیعی و صنعتی است که در جدول های شماره ۱تا ۴ منضمۀ قانون مبارزه علیه مسکرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقانون په منضمه‌کې له ۱ تر ۴ ګڼې جدولونوکې، تنظيم اوتصنيف شوي‌دي.

۲- د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو قاچاق: د مخدرو موادو مؤلدو نباتاتو له کرنې، د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنترول په قانون کې له درج شوي جواز ليک او اجازه ليک پرته د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو په غير قانوني توليد او ترکيب کې د استعمال په منظور د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنترول د قانون په منضمه له ۱ تر ۳ ګڼې جدولونو کې درج د روان اړوونکو مخدرو موادو له توليد، برابرولو، پروسس، پيړ، پلور، ساتنې، وېش، کمپشنکاری، واردولو، صادرولو، حمل او نقل (ترافيک)، انتقال، لېږد، عرضې، زېرمې يا اخفا يا د هغو د لرونکو د مرکب او يا د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنترول د قانون په منضمه ۴ ګڼې جدول کې درج د هرې لومړنۍ مادې ومواد مخدر وکنترول آن، تنظيم و تصنيف گرديده است.

۲- قاچاق مواد مخدر و مواد روانگردان: عبارت از زرع نباتات مؤلد مواد مخدر، توليد، تهيه، پروسس، خريد، فروش، نگهداشت، توزيع، کميشن کاری، وارد، صادر، حمل ونقل (ترافيک)، انتقال، ارسال، عرضه، ذخيره، يا اخفای مواد مخدر و روان گردان مندرج جدول های شماره ۱تا ۳ منضمۀ قانون مبارزه عليه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، يا مرکب حاوی آنها و يا فعاليت های متذکره در مورد هرمادۀ کيمياوی اوليه (پريکرسر) مندرج جدول شماره ۴ منضمۀ قانون مبارزه عليه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، بمنظوراستعمال در توليد و ترکيب غير قانونی مواد مخدر و روان گردان، بدون جوازنامه واجازه نامۀ مندرج قانون مبارزه عليه مسکرات

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پرېکرسر) په هکله له نومورو فعاليتونو څخه عبارت دی. د هغو وسايلو او تجهيزاتو آګاهانه جوړول، لېږد رالېږد، پېر او پلور او وېش چې د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو په کښت، توليد او برابرولو کې تر ګټې اخيستنې لاندې نيول کېږي، هم د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق په حکم کې دي.

۳- د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو قاچاقبر: هغه شخص دی چې د دې مادې په ۲ جزء کې له درج شوو اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي:

د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو جرمونه

۳۰۰ ماده:

د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو قاچاق او له هغو سره نور مرتبط فعاليتونه جرم دی، مرتکب د دې فصل له حکمونه سره سم مجازات کېږي.

و مواد مخدر وکنترول آن، می باشد. ساخت، حمل ونقل، خرید و فروش و توزیع آگاهانۀ وسایل و تجهیزاتی که در کشت، تولید، تهیه مواد مخدر و مواد روانگردان استفاده می گردد، نیز در حکم قاچاق مواد مخدر و مواد روانگردان می باشد.

۳- قاچاقبر مواد مخدر و مواد روانگردان: شخصی است که یکی از اعمال مندرج جزء ۲ این ماده را مرتکب گردد.

جرایم مواد مخدر و مواد روان گردان

مادۀ ۳۰۰:

قاچاق مواد مخدر و مواد روان گردان و سایر فعالیت های مرتبط با آن جرم بوده، مرتکب مطابق احکام این فصل، مجازات می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو مؤلدو نباتاتو د کښت مجازات

۳۰۱ ماده:

(۱) هغه شخص چې د ځمکې مالک نه وي او د دهقان په توګه، ځمکه د ځان یا مالک، ګرو اخیستونکي یا اجاره اخیستونکي لپاره، بنګ دانه وکري، د کروندې (مزرعې) مساحت ته په پام سره، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغۀ صورت‌کې چې د بنګ دانې د کروندې مساحت تر لسو بسوو پورې وي له دېر شو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغۀ صورت کې چې د بنګ دانې د کروندې مساحت له لسو بسوو څخه زیات تر یوۀ جریبه پورې وي، په قصیر حبس.

۳- په هغه صورت کې چې د بنګ دانې د کروندې مساحت له یوۀ جریب څخه زیات وي، پر یوۀ کال حبس برسېره پر یوۀ جریب اضافه د

مجازات کشت نباتات مؤلد مواد مخدر و مواد روان گردان

مادۀ ۳۰۱:

(۱) شخصی که مالک زمین نبوده و به حیث دهقان، زمین را برای خود یا مالک، گرو گیرنده یا اجاره گیرنده، بنگ دانه کشت نماید با نظرداشت مساحت مزرعه به مجازات ذیل، محکوم می‌گردد:

۱- در صورتی که مساحت مزرعۀ بنگ دانه، تا ده بسوه باشد، به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- در صورتی که مساحت مزرعۀ بنگ دانه، بیش ازده بسوه تا یک جریب باشد، به حبس قصیر.

۳- در صورتی که مساحت مزرعۀ بنگ دانه، بیش از یک جریب باشد، علاوه بر یک سال حبس در برابر هر بسوه اضافه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرې بسوې په وړاندې، د يوې مياشتې په حبس. پدې حالت کې، د حبس د مودې مجموع له پنځو کلونو څخه زياتېدای نشي.

(۲) هغه شخص چې د ځمکې مالک نه وي او د دهقان په توګه، ځمکه د ځان يا مالک، ګرو اخيستونکي يا اجاره اخيستونکي لپاره خشخاش يا کوکا وکري، د کروندې مساحت ته په پام سره په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د خشخاشو يا کوکا د کروندې مساحت، تر يوې بسوې پورې وي، په قصير حبس يا له دېر شو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې نغدي جزا.

۲- په هغۀ صورت کې چې دخشخاشو يا کوکا د کروندې مساحت له يوې بسوې څخه زيات تر يوۀ جريبه پورې وي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس.

۳- په هغۀ صورت کې چې د خشخاشو يا کوکا د کروندې مساحت له يوۀ جريب څخه زيات وي، پر دوو

بر يک جريب، به حبس يک ماه.

در اين حالت مجموع مدت حبس ازپنج سال بيشتر بوده نمی تواند.

(۲) شخصی که مالک زمين نبوده و به حيث دهقان، زمين را برای خود يا مالک، گرو گيرنده يا اجاره گيرنده خشخاش يا کوکا کشت نمايد با نظرداشت مساحت مزرعه به مجازات ذيل محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مساحت مزرعۀ خشخاش يا کوکا تا يک بسوه باشد، به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- در صورتی که مساحت مزرعۀ خشخاش يا کوکا بيش از يک بسوه تا يک جريب باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۳- در صورتی که مساحت مزرعۀ خشخاش يا کوکا بيش از يک جريب باشد، علاوه بر

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونو حبس بر سپره، پر یوهٔ جریب اضافه د هرې بسوې په وړاندې، په دوو میاشتو حبس. پدې حالت کې د حبس د مودې مجموع له لسو کلونو څخه زیاتېدای نشي.

(۳) که چېرې د کرنې عمل د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې په درج شوو احوالو کې د مالک، ګرو اخیستونکي یا اجاره اخیستونکي په واسطه ارتکاب شي، مرتکب د کروندې مساحت ته په پام سره، د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې د پېښبیني شوو مجازاتو په دوه چنده محکومېږي.

دو سال حبس در برابر هر بسوه اضافه از یک جریب، به حبس دو ماه. در این حالت مجموع مدت حبس از ده سال، بیشتر بوده نمی تواند.

(۳) هرگاه عمل کشت دراحوال مندرج فقره های (۱و۲) این ماده توسط مالک، گروگیرنده یا اجاره گیرنده ارتکاب گردد، مرتکب با نظرداشت مساحت مزرعه به دوچند مجازات پیشبینی شده فقره های (۱ و ۲) این ماده، محکوم می گردد.

د هېروئینو، مورفینو او کوکائینو د قاچاق مجازات

مجازات قاچاق هیروئین، مورفین و کوکائین

۳۰۲ ماده:

(۱) هغه شخص چې د هېروئینو، مورفینو یا کوکا ئینو د قاچاق مرتکب شي، د موادو مقدار ته په پام سره له احوالو سره سم په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د موادو

مادهٔ ۳۰۲:

(۱) شخصی که مرتکب قاچاق هیروئین، مورفین یا کوکائین گردد، با نظرداشت مقدار مواد، حسب احوال به مجازات ذیل، محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مقدار

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدار تر لسو ګرامو پورې وي، په قصير حبس.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار له لسو ګرامو څخه زيات تر سلو ګرامو پورې وي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار له سلو ګرامو څخه زيات تر پنځه سوو ګراموپورې وي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار له پنځه سوو ګرامو څخه زيات تر يوۀ کيلو ګرامه پورې وي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس.

۵- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار له يوۀ کيلو ګرام څخه زيات وي، پر لسو کلونو حبس برسېره د هرو پنځو سوو اضافي ګرامو په وړاندې په شپږو مياشتو حبس، پدې حالت کې د حبس مجموعي موده له دېرشو کلونو څخه زياتېداي نشي.

(۲) هغه شخص چې هېروئين، مورفين يا کوکائين له نورو موادو سره په ګډ مواد، تا ده ګرام باشد، به حبس قصير.

۲- در صورتی که مقدار مواد، بيش از ده ګرام تا يکصد ګرام باشد، به حبس متوسط تا سه سال.

۳- در صورتی که مقدار مواد، بيش از يکصد ګرام تا پنجصد ګرام باشد، به حبس متوسط بيش از سه سال.

۴- در صورتی که مقدار مواد، بيش از پنجصد ګرام تا يک کيلو ګرام باشد، به حبس طويل تا ده سال.

۵- در صورتی که مقدار مواد، بيش از يک کيلوګرام باشد، علاوه برده سال حبس، در برابرهرپنجصد ګرام اضافی، به شش ماه حبس، در اين حالت مدت مجموعی حبس از سی سال، بيشتر بوده نمی تواند.

(۲) شخصی که هيروئين، مورفين يا کوکائين را بشکل مخلوط شده با ساير

(c) ketabton.com: The Digital Library

(مخلوط) ډول قاچاق کړي، په مرکب کې د ګډو شوو هېروئينو، مورفينو يا کوکا ئينو مقدار ته په پام سره، د دې مادې د (۱) فقرې له ۱ تر ۵ اجزاوو پورې سره سم، مجازات کېږي.

د اسيتيک انهايدرايت او سنتيتيک قاچاقو مجازات

۳۰۳ ماده:

(۱) هغه شخص چې د اسيتيک آنهايدرايت د قاچاقو مرتکب شي، د موادو مقدار ته په پام سره په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار له دوه سوه پنځو سو ګرامو يا سي سي پورې وي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار له دوه سوه پنځو سو ګرامو يا سي سي څخه تر پنځه سوه ګرامه يا سي سي پورې وي له نهو مياشتو څخه زيات په قصير حبس.

مواد، قاچاق کند، با نظرداشت مقدار هيروئين، مورفين يا کوکائين مخلوط شده در مرکب، حسب اجزای ۱تا ۵ فقرۀ (۱) اين ماده، مجازات می‌گردد.

مجازات قاچاق اسيتيک انهايدرايت و سنتيتيک

مادۀ۳۰۳:

(۱) شخصی که مرتکب قاچاق اسيتيک انهايدرايت گردد، با نظرداشت مقدار مواد به مجازات ذيل محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مقدار مواد، تا دوصدوپنجاه گرام يا سی سی باشد، به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- در صورتی که مقدار مواد، بيش از دوصد و پنجاه گرام يا سی سی تا پنجصد گرام يا سی سی باشد، به حبس قصير بيش از نه ماه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار له پنځه سوه ګرامه یا سي سي څخه تر یوهٔ کیلو ګرامه یا یوهٔ لیتره پورې وي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس.

۳- در صورتی که مقدار مواد، بیش از پنجصد گرام یا سی سی تا یک کیلو گرام یایک لیتر باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار یوهٔ کیلو ګرامه یا یوهٔ لیتره څخه تر پنځو کیلو ګرامو یا پنځو لیترو پورې وي، له دووکلونو څخه زیات په متوسط حبس.

۴- در صورتی که مقدار مواد، بیش از یک کیلوگرام یا یک لیتر تا پنج کیلوگرام یاپنج لیتر باشد، به حبس متوسط بیش از دو سال.

۵- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار له پنځو کیلو ګرامو یا پنځو لیترو څخه زیات تر لسو کیلو ګرامو یا لسو لیترو پورې وي، تر اووکلونو پورې په طویل حبس.

۵- در صورتی که مقدار مواد، بیش از پنج کیلوگرام یا پنج لیتر تا ده کیلوگرام یا ده لیتر باشد، به حبس طویل تا هفت سال.

۶- که چېرې د موادو مقدار له لسو کیلو ګرامو یا لسو لیترو څخه زیات وي، پر اووکلونو حبس برسېره، د هرو اضافي پنځو ګرامو یا سي سي په وړاندې، په یوهٔ ورځ حبس. پدې حالت کې د حبس د مودې مجموع د طویل حبس له اکثر حد څخه نشي زیاتېداي.

۶- هرگاه مقدار مواد، بیش از ده کیلوگرام یا ده لیتر باشد، علاوه بر هفت سال حبس در برابر هر پنج گرام یا سی سی اضافی، به یک روز حبس، در این حالت مجموع مدت حبس از حد اکثر حبس طویل، بیشتر بوده نمی تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) هغه شخص چې د سنتيتيک (امفيتامين، ميتا امفيتامين، اکستزي او اکستاسي (mdma)) مخدرو موادو د قاچاق مرتکب شي د موادو مقدار ته په پام سره په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار تر پنځه ګرامه يا سي سي پورې وي، تر نهو مياشتو پورې په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار له پنځه ګرامه څخه تر لسو ګرامو يا سی سي پورې وي، له نهو مياشتو څخه زيات په قصير حبس.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار، له لسو ګرامو څخه زيات تر پنځو سو ګرامو يا سي سي پورې وي، په متوسط حبس.

۴- په هغهٔ صورت کې چې د موادو مقدار، له پنځو سو ګرامو څخه تر سلو ګرامو يا سي سي پورې وي، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس.

(۲) شخصی که مرتکب قاچاق مواد مخدر سنتیتیک (امفیتامین، میتا امفیتامین، اکستزی و اکستاسی (mdma))گردد، با نظرداشت مقدار مواد به مجازات ذیل، محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مقدار مواد، تا پنج گرام یا سی سی باشد، به حبس قصیر تا نه ماه یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- در صورتی که مقدار مواد، بیش از پنج گرام تا ده گرام یا سی سی باشد، به حبس قصیر بیش از نه ماه.

۳- در صورتی که مقدار مواد، بیش از ده گرام تا پنجاه گرام یا سی سی باشد، به حبس متوسط.

۴- در صورتی که مقدار مواد، بیش از پنجاه گرام تا صد گرام یا سی سی باشد، به حبس طویل تا ده سال.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له سلو ګرامو یا سي سي څخه زیات وي، پرلس کاله حبس برسېره د هر اضافي ګرام په وړاندې، په یوۀ ورځ حبس، پدې حالت کې د حبس د مودې مجموع د طویل حبس له اکثر حد څخه نشي زیاتېداي.

د تریاکو د قاچاقو مجازت

۳۰۴ ماده:

(۱) هغه شخص چې د تریاکو د قاچاق د جرم مرتکب شي، د موادو مقدار ته په پام سره، له احوالو سره سم، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، تر لسو ګرامو پورې وي، له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې، په نغدي جزا.

۲- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له لسو ګرامو څخه تر سلو ګرامو پورې وي، په قصیر حبس.

۳- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له سلوګرامو څخه زیات تر پنځه

۵- در صورتی که مقدار مواد، بیش از صد گرام یا سی سی باشد، علاوه بر ده سال حبس، در برابر هر گرام اضافی به یک روز حبس، در این حالت مجموع مدت حبس از حداکثر حبس طویل بیشتر بوده نمی تواند.

مجازات قاچاق تریاک

مادۀ ۳۰۴:

(۱) شخصی که مرتکب جرم قاچاق تریاک گردد، با نظرداشت مقدارمواد، حسب احوال به مجازات ذیل محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مقدار مواد، تا ده گرام باشد، به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- در صورتی که مقدار مواد، بیش از ده گرام تا یکصد گرام باشد، به حبس قصیر.

۳- در صورتی که مقدار مواد، بیش از یکصد گرام تا پنجصد گرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوه ګرامو پورې وي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس.

۴- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار له پنځه سوه ګرامو څخه زیات تر یوۀ کیلو ګرامو پورې وي، له دوو څخه تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس.

۵- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار له یوۀ کیلو ګرامو څخه زیات تر پنځه کیلو ګرامو پورې وي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس.

۶- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له پنځه کیلو ګرامو څخه زیات وي، پر پنځه کاله حبس بر سېره د هرو اضافي پنځه سوو ګرام په وړاندې، په شپږو میاشتو حبس، پدې حالت کې د حبس د مودې مجموع د طویل حبس له اکثر حد څخه نشي زیاتېدای.

(۲) هغه شخص چې تریاک له نورو موادو سره په مخلوط شوي ډول، قاچاق کړي، په مرکب کې د مخلوطو شوو تریاکو مقدار ته په پام سره، د دې مادې د (۱) فقرې له ۱ تر ۶ اجزاوو سره سم، مجازات کېږي.

باشد، به حبس متوسط تا دوسال.

۴- در صورتی که مقدار مواد، بیش از پنجصد گرام تا یک کیلو گرام باشد، به حبس متوسط از دو تا سه سال.

۵- در صورتی که مقدارمواد، بیش از یک کیلو گرام تا پنج کیلوگرام باشد، به حبس متوسط بیش از سه سال.

۶- در صورتی که مقدار مواد، بیش از پنج کیلوگرام باشد، علاوه بر پنج سال حبس در برابر هر پنجصد گرام اضافی، به شش ماه حبس، در این حالت مجموع مدت حبس از حداکثر حبس طویل بیش تر بوده نمی تواند.

(۲) شخصی که تریاک را بشکل مخلوط شده با سایر مواد، قاچاق کند، با نظرداشت مقدار تریاک مخلوط شده در مرکب، حسب اجزای ۱تا۶ فقرۀ (۱) این ماده، مجازات می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د چرسو د قاچاق مجازات

۳۰۵ ماده:

(۱) هغه شخص چې د چرسو د قاچاق د جرم مرتکب شي، د موادو مقدار ته په پام سره له احوالو سره سم، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، تر پنځه ویشت ګرامو پورې وي د پنځو زرو افغانیو په نغدي جزا.

۲- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار له پنځه ویشت ګرامو څخه زیات ترسلو ګرامو پورې وي له پنځه زره څخه زیات تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۳- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له سلوګرامو څخه زیات تر پنځه سوه ګرامو پورې وي، په قصیر حبس.

۴- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له پنځه سوه ګرامو څخه زیات تر یوۀ کیلو ګرامه پورې وي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس.

۵- په هغۀ صورت کې چې د موادو

مجازات قاچاق چرس

مادۀ ۳۰۵:

(۱) شخصی که مرتکب جرم قاچاق چرس گردد، با نظرداشت مقدار مواد حسب احوال به مجازات ذیل محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مقدار مواد، تا بیست و پنج گرام باشد، به جزای نقدی پنج هزار افغانی.

۲- در صورتی که مقدارمواد، بیش از بیست و پنج گرام تا یکصد گرام باشد، به جزای نقدی بیش از پنج هزار تا سی هزار افغانی.

۳- در صورتی که مقدار مواد، بیش از یکصد گرام تا پنجصد گرام باشد، به حبس قصیر.

۴- در صورتی که مقدار مواد، بیش از پنجصد گرام تا یک کیلو گرام باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۵- در صورتی که مقدار مواد، بیش از

(c) ketabton.com: The Digital Library

مقدار، له يوۀ کيلو ګرامه څخه زيات تر پنځه کيلو ګرامو پورې وي، لـه دوو کلونو څخه زيات په متوسط حبس.

۶- په هغۀ صورت کې چې د مـوادو مقدار، له پنځه کيلو ګرامه څخه زيات تر شلو کيلو ګرامو پـورې وي، تـر اووکلونو پورې په طويل حبس.

۷- په هغۀ صورت کې چې د مـوادو مقدار له سلو کيلو ګرامو څخه زيـات وي، پر اووکلونو حبس برسېره د هـر يوۀ اضافي کيلو ګرام په وړاندې، پـه شپږ مياشتې حبس. پدې حالت کـې د حبس د مودې مجموع له لسو کلونـو څخه زياتېداى نشي.

(۲) هغه شخص چې چرس په مخلوط يا له نورو موادو سره په ترکيب شوي ډول قاچاق کړي، په مرکـب کـې د مخلوطو شوو چرسو مقدار ته په پـام سره، ددې مـادې د (۱) فقـرې لـه ۱ تر۷ اجزاوو سره سـم، مجـازات کېږى.

یک کیلو گرام تا پنج کیلـو گـرام باشد، به حـبس متوسـط بـیش از دوسال.

۶- در صـورتی کـه مقـدار مـواد، بـیش از پـنج کیلـوگرام تا بیست کیلوگرام باشد به حبس طویل تا هفت سال.

۷- در صورتی که مقدار مواد، بیش از بیسـت کیلـوگرام باشـد، علاوه بر هفت سال حبس، در برابر هر یک کیلو گرام اضافی، به شش مـاه حبس. در این حالت مجموع مـدت حـبس از ده سـال بیشـتر بـوده نمی‌تواند.

(۲) شخصی که چـرس را بشـکل مخلوط شده یا ترکیـب بـا سـایر مواد، قاچاق کنـد، بـا نظرداشـت مقـدار چـرس مخلـوط شـده در مرکب، حسـب اجـزای ۱ تـا ۷ فقـرۀ (۱) ایـن مـاده، مجـازات می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنترول د قانون په جدولونو کې د درج شوو موادو د قاچاق مجازات

۳۰۶ ماده:

(۱) هغه شخص چې د هېروئینو مورفینو، کوکائینو، تریاکو، چرسو، استیتیک آنهایدرایت او د سنتیک مخدرو موادو په استثني د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنترول د قانون په منضمه جدولونو کې درج شوي نور مواد قاچاق کړي، له احوالو سره سم، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې دموادو مقدار له سلو ګرامو یا سي سي پورې وي، دحبس په بدیل یا له پنځه زرو څخه تر دېرشو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت‌کې چې دموادو مقدارله سلوګرامو یا سي‌سي څخه زیات تردوه سوه پنځوس‌ګرامه یا سي سي

مجازات قاچاق مواد مندرج جدول های قانون مبارزه علیه مسکرات و مواد مخدر وکنترول آن

مادهٔ ۳۰۶:

(۱) شخصی که سایرمواد مندرج جدول های منضمهٔ قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، به استثنای هیروئین، مورفین، کوکائین، تریاک، چرس، استیتیک انهایدرایت و مواد مخدر سنتیک را قاچاق نماید، حسب احوال به مجازات ذیل محکوم می گردد:

۱- در صورتی که مقدار مواد، تا صد گرام یا سی سی باشد، به بدیل حبس یا جزای نقدی از پنج هزار تا سی هزار افغانی.

۲- در صورتی که مقدار مواد، بیش از صد گرام یا سی سی تا دوصدوپنجاه گرام یا سی سی باشد، به

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې وي، دقصير حبس په اقل حد.

۳- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له دوه سوه پنځوس ګرامه يا سي سي څخه زيات تر پنځه سوه ګرامه يا سي سي پورې وي، له نهو مياشتو څخه زيات په قصير حبس.

۴- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار له پنځو سوو ګرامو يا سي سي څخه زيات تر يوۀ کيلو ګرامه يا ليتره پورې وي، تر دريوکلونو پورې په متوسط حبس.

۵- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له يوۀ کيلو ګرامه يا ليتر څخه زيات تر پنځه کيلو ګرامه يا ليتره پورې وي له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس.

۶- په هغۀ صورت کې چې د موادو مقدار، له پنځه کيلو ګرامو يا ليترو څخه زيات وي، پر پنځه کاله حبس برسېره د هرو اضافي پنځه سوه ګرامه يا سي سي په وړاندې، په شپږ مياشتې حبس، پدې حالت کې د حبس د مودې مجموع له لسو کلونو څخه زياتېدای نه شي.

حد اقل حبس قصير.

۳- در صورتی که مقدار مواد، بيش از دوصدوپنجاه گرام يا سی سی تا پنجصد گرام يا سی سی باشد، به حبس قصير بيش از نه ماه.

۴- در صورتی که مقدار مواد، بيش از پنجصد گرام يا سی سی تا يک کيلو گرام يا ليتر باشد، به حبس متوسط تا سه سال.

۵- در صورتی که مقدار مواد، بيش از يک کيلوگرام يا ليتر تا پنج کيلوگرام يا ليتر باشد، به حبس متوسط بيش از سه سال.

۶- در صورتی که مقدار مواد، بيش از پنج کيلوگرام يا ليتر باشد، عالوه بر پنج سال حبس، در مقابل هر پنجصد گرام يا سی سی اضافی، به حبس شش ماه. درايـن حالت مجموع مدت حبس ازده سال بيشتر بوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشي.

(۲) هغه شخص چې د هېروئينو، مورفينو، کوکائينو، تریاکو، چرسو، استیتیک انهایدرایتو او سنتیک مخدرو موادو په استثني، د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې او د هغو د کنترول د قانون په منضمه جدولونو کې د درج شوو موادو لرونکو مرکبات، قاچاق کړي، د نومورو جدولونو د مخلوط شوو یا ترکیب شوو موادو مقدار ته په پام سره د دې مادې د (۱) فقرې له ۱ تر ٦ اجزاوو سره سم، مجازات کېږي.

نمی تواند.

(۲) شخصی که مرکبات حاوی مواد مندرج جدول های منضمهٔ قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، به استثنای هیروئین، مورفین، کوکائین، تریاک، چرس، استیتیک انهایدرایت و مواد مخدر سنتیک را قاچاق کند، با نظرداشت مقدار مواد مخلوط شده یا ترکیب شده جدول های متذکره حسب اجزای ۱ تا ٦ فقرهٔ (۱) این ماده، مجازات می‌گردد.

د مالک او د رهن اخیستونکي مجازات

۳۰۷ ماده:

(۱) که چېرې مالک او د رهن اخیستونکي یا د هغوی قانوني استازی ځمکه، ودانی، نقلیه واسطه یا نور اړوند ملکیتونه د مخدرو موادو د قاچاق د جرمونو د ارتکاب په منظور، په رهن یا په اجاره ورکړي یا هغه د نورو په واک

مجازات مالک ورهن گیرنده

مادهٔ ۳۰۷:

(۱) هرگاه مالک یا رهن گیرنده یا نماینده قانونی آنها زمین، تعمیر، واسطه نقلیه یا سایر ملکیت های مربوط را بمنظور ارتکاب جرایم قاچاق مواد مخدر، به رهن یا اجاره بدهد یا آنرا در اختیار دیگری

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ورکړي، له احوالو سره سم د جرم د اصلي فاعل په عين جزا، محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي شخص ځمکه، ودانۍ، نقليه واسطه يا اړوند ملکيتونه د مجازو فعاليتونو په منظور رهن ته کېږدي يا يې په اجاره يا کرايه ورکړي، په هغه صورت کې چې له هغه څخه پدې فصل کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په مقصدونو استفاده صورت مومي او د علم باوجود د هغو له ارتکاب څخه ممانعت ونکړي او مسؤولو مراجعو ته خبر ورنکړي، له احوالو سره سم، په متوسط حبس محکومېږي.

د نقليه واسطې مصادره

۳۰۸ ماده:

(۱) هغه شخص چې له يوۀ کيلو ګرامه څخه زيات هروئين، کوکائين يا مورفين يا له دوه کيلو ګرامه څخه زيات تريياک يا له پنځه کيلو ګرامه څخه زيات چرس او يا له دوه کيلو ګرامه څخه زيات

قراردهد، حسب احوال به عين جزای فاعل اصلی جرم، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخص مندرج فقرۀ (۱) اين ماده زمين، تعمير، واسطه نقليه يا ملکيت های مربوط را بمنظور فعاليت های مجاز به رهن گذاشته يا به کرايه يا اجاره بدهد، در صورتی که از آنها به مقاصد ارتکاب جرايم مندرج اين فصل استفاده صورت گيرد و با وجود علم از ارتکاب آن ممانعت ننموده و به مراجع مسؤول اطلاع ندهد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

مصادره واسطه نقليه

مادۀ ۳۰۸:

(۱) شخصی که بيش از يک کيلو گرام هيروئين، کوکائين يا مورفين يا بيش از دو کيلو گرام تريياک يا بيش از پنج کيلو گرام چرس ويا بيش از دو کيلو گرام مواد کيمياوی اوليه يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړني کيمياوي مواد يا د مسکراتو او مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو دکنترول د قانون په منضمه له۱ تر ۳ ګڼه جدولونو کې درج شوي نور مواد په آګاهانه توګه د خپل ملکيت په نقليه واسطه کې ځای پرځای او اخفاء کړي وي يا هغه په اجاره يا کرايه ورکړي اويا يې په هغې‌کې دمخدرو موادو له ځای پرځای‌کولو او اخفاء سره موافقه کړې وي، داصل جرم پر جزا برسېره، نقليه واسطه هم مصادره کېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوې نقليه واسطه، د بل شخص لخوا د امتياز له تر لاسه کولو او د مالک له د مخه موافقې پرته د اجبار او يا اغفال يا تېر ابستلو له لارې په اجاره يا کرايه يا په عاريت اخيستل شوې وي، نقليه واسطه نه مصادره کېږي.

سایر مواد مندرج جدول های شماره ۱ تا ۳ منضمهٔ قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، را آگاهانه در واسطه نقلیه ملکیت خویش جاه سازی واخفاء نموده باشد یا آن را به اجاره یا کرایه داده ویا به جا سازی یا اخفای مواد مخدر در آن موافقه نموده باشد، علاوه بر جزای اصل جرم، واسطه نقلیه نیز مصادره می گردد.

(۲) هرگاه واسطه نقلیهٔ مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، توسط شخص دیگری بدون دریافت امتیاز و یا موافقت قبلی مالک به طریق اجبار و یا اغفال یا فریب به اجاره یا کرایه یا به عاریت گرفته شده باشد، واسطه نقلیه، مصادره نمی گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروان اړوونکو موادو او مخدرو موادو په تولید کې د استفادې وړ وسایلو یا تجهیزاتــو د برابرولــو مجازات

۳۰۹ ماده:

(۱) هغه شخص چې د علم په لرلو سره د روان اړوونکو مخدرو موادو د تولید یا جوړولو لپاره وسایل یا اختصاصــي تجهیزات برابر، لېږد رالېــږد، وارد، صــــادر، پیــــر، پلــــور یــــا ووېشي یا هغــه پــه خپــل حیــازت کې ولري، د متوسط حبس په اکثر حد او په جرم پورې د اړوندو وســایلو او تجهیزاتو په مصادرې محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې د دې مادې پــه (۱) فقره کې درج شــوي وســایل او تجهیزات، د جواز په لرلو ســره وارد ولې هغه د مخدرو موادو د غیر مجاز تولید او پروسس په مقصد وپلوري او یا استعمال کړي، له احوالو سره سم له لسو کلونو څخه زیات، په طویل حبس محکومېږي.

مجــازات تهیــه وســایل یــا تجهیــزات مــورد اســتفاده در تولید مواد مخدر و مواد روان گردان

مادۀ ۳۰۹:

(۱) شخصی که با داشتن علم، وسایل یا تجهیزات اختصاصی برای تولید یــا ساخت مواد مخدر و مواد روان گردان را تهیه، حمل و نقل، توزید، صــدور، خرید، فروش یا توزیع کند یا آنــرا در حیازت خود داشته باشد، به حد اکثر حبس متوسط ومصــادره وســایل و تجهیزات مربوط به جــرم محکــوم می گردد.

(۲) شخصــــی کــــه وســــایل و تجهیزات مندرج فقرۀ (۱) این ماده را باداشــتن جــواز وارد ولــی آنــرا به مقصــد تولیــد و پروســس غیــر مجــاز مــواد مخــدر، فــروش و یا استعمال نماید، به حــبس طویــل بــیش از ده ســال، محکــوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې درج شوي جرمونه د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د جرم د فاعل پر مجازاتو برسېره، حکمي شخص په لومړي ځل له احوالو سره سم له دو میلیونو څخه تر پنځه میلیونه افغانیو پورې په نغدي جزا محکوم او په دوه یم ځل، پر پنځه میلیونه افغانیو برسېره، د هغهٔ د فعالیت جواز هم سلب کېږي.

د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو قاچاق د جرم استخداموونکي مجازات

۳۱۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې بل څوک له اکراه او اجبار پرته د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق د جرمونو د ارتکاب په منظور استخدام کړي، د جرم پر اصله جزا برسېره له احوالو سره سم په متوسط حبس او په هغهٔ صورت کې چې له اکراه او اجبار سره یوځای وي تر لسو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي.

(۳) هرگاه جرایم مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، علاوه برمجازات فاعل جرم، شخص حکمی در مرتبه اول حسب احوال به جزای نقدی از دومیلیون تا پنج میلیون افغانی محکوم ودرمرتبهٔ دوم علاوه برجزای نقدی پنج میلیون افغانی، جواز فعالیت وی نیز سلب می گردد.

مجازات استخدام کنندهٔ جرم قاچاق مواد مخدر و مواد روان گردان

مادهٔ ۳۱۰:

(۱) شخصی که دیگری را بدون اکراه یا اجبار بمنظور ارتکاب جرایم قاچاق مواد مخدر و مواد روان گردان استخدام نماید، علاوه بر جزای اصل جرم حسب احوال به حبس متوسط و در صورتی که توأم با اکراه و اجبار باشد به حبس طویل تا ده سال، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۲) هغه شخص چې طفل یا په جنون یا سفاهت مصاب شخص یا پر مخدرو موادو معتاد، په دې فصل کې د درج شوو قاچاقو د جرمونو د ارتکاب په منظور استخدام کړي، د اصل جرم د مجازاتو پر اکثر حد برسېره، له احوالو سره سم له اوو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي. په هغۀ صورت کې چې دغه جرم له اجبار سره یوځای وي، مرتکب له لسو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي.

(۲) شخصی که، طفل یا شخص مصاب به جنون یا سفاهت یا معتاد مواد مخدر را بمنظور ارتکاب جرایم قاچاق مندرج این فصل استخدام نماید، علاوه بر حد اکثر مجازات جرم اصلی، به حبس طویل بیش ازهفت سال محکوم می گردد. در صورتیکه این جرم توأم با اجبار باشد، مرتکب به جزای حبس طویل بیش از ده سال، محکوم می گردد.

پرمعتادینو د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د پلورلو او وېش مجازات

مجازات فروش و توزیع مواد مخدر و مواد روان گردان به معتادین

۳۱۱ ماده:

هغه شخص چې مخدر مواد او روان اړوونکي مواد خپله یا د بل شخص په واسطه پر معتادینو یا نورو اشخاصو باندې و پلوري او یا یې ووېشي، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- لومړی ځل پدې فصل کې د درج شوو مخدرو موادو او روان اړوونکو

مادۀ ۳۱۱:

شخصی که مواد مخدر و مواد روان گردان را خود و یا توسط شخص دیگری برای معتادین یا سایر اشخاص به فروش رساند و یا توزیع نماید، به مجازات ذیل محکوم می گردد:

۱- در مرتبه اول علاوه بر جزای اصل جرم پیش بینی شدۀ قاچاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

موادو د قاچاق د پيښيني شوي جرم پر اصل جزا برسېره، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس.

۲- د تکرار په صورت کې، پدې فصل کې د درج شوو مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق پر اصل جزا برسېره، تر لسو کلونو پورې په طويل حبس.

د وسله وال مقاومت مجازات

۳۱۲ ماده:

(۱) هغه شخص چې د بنګ دانې، خشخاشو، کوکا د کروندو د محو او يا د مخدرو موادو د ضبط او د قاچاقبر د نيولو (ګرفتاری) پر وخت د ناريه يا جارحه وسلې يا چاودېدونکو موادو يا مسمومونکو موادو استعمال ته لاس واچوي او د عامه خدمتونو مؤظف يا په پروسه کې مؤظف شخص تهديد، ټپي، مضروب يا معلول کړي يايې ووژني، پدې فصل کې د درج شوو مخدرو موادو او د روان اړوونکو موادو د قاچاق د جرم پر مجازاتو مواد مخدر و مواد روان ګردان مندرج اين فصل، به حبس متوسط تا سه سال.

۲- در صورت تکرار، علاوه بر جزای اصل جرم قاچاق مواد مخدر و مواد روان ګردان مندرج اين فصل، به حبس طويل تا ده سال.

مجازات مقاومت مسلحانه

مادۀ ۳۱۲:

(۱) شخصی که در اثنای محو مزارع بنگ دانه، خشخاش يا کوکا و يا ضبط مواد مخدر وګرفتاری قاچاقبر، به استعمال سلاح ناريه يا جارحه يا مواد منفجره يا مواد مسموم کننده متوسل گرديده و مؤظف خدمات عامه يا شخص مؤظف در پروسه را تهديد، مجروح، مضروب يا معلول نمايد يا به قتل برساند، علاوه بر مجازات جرم قاچاق مواد مخدر و مواد روان ګردان مندرج اين فصل به مجازات

(c) ketabton.com: The Digital Library

برسېره، د مرتکبه جرم په مجازاتو هم محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب لپاره وسله يا چاودېدونکي مواد يا مسمووونکي مواد حمل کړي او يا د هغو په حمل امر وکړي، له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس محکومېږي.

د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د ترکيب او مخلوطوونکي مجازات

۳۱۳ ماده:

(۱) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور هېروئين، کوکائين يا مورفين له خوراکي، څښونکو (نوشيدني) موادو يا نورو موادو سره مخلوط يا ترکيب کړي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور، له خوراکي، څښونکو موادو يا نورو موادو سره تریاک مخلوط يا ترکيب کړي، تر دريو کلونو

جرم مرتکبه، نيز محکوم می گردد.

(۲) شخصی که جهت ارتکاب جرايم مندرج اين فصل سلاح يا مواد منفجره يا مسموم کننده را حمل نمايد و يا به حمل آن امر نمايد، به حبس متوسط بيش از سه سال، محکوم می گردد.

مجازات ترکيب و مخلوط کنندۀ مواد مخدر و مواد روان گردان

مادۀ ۳۱۳:

(۱) شخصی که بمنظور عرضه به ديگران، هيروئين، کوکائين يا مورفين را با مواد غذايی، نوشيدنی يا ساير مواد مخلوط يا ترکيب نمايد، به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که بمنظور عرضه به ديگران، تریاک را با مواد غذايی، نوشيدنی يا ساير مواد مخلوط يا ترکيب نمايد به حبس متوسط تا سه سال،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور، د مسکراتو او مخدرو موادو پر خلاف د مبارزې اود هغو د کنترول د قانون په منضمه ۱، ۲ او ۳ ګڼه جدولونو کې مندرج نور مواد لـه خوراکي، څښونکو یا نورو موادو سره مخلوط یا ترکیب کړي، د موادو ډول ته په پام سره، د قصیر حبس په اکثـر حد محکومېږي.

(۴) هغه شخص چې نورو ته د وړاندې کولو په منظور، له خوراکي، څښونکو یا نورو موادو سره چرس مخلوط یـا ترکیب کړي، د قصیر حبس په اقل حد محکومېږي.

(۵) هغـه شـخص چـې د نـورو د معتادولو، تېرایستلو (فریب) یا نـاوړې ګټې اخیستنې په منظور ددې مادې په (۱ تر۴) فقرو کې درج شوو اعـمالو مرتکـب شـي، پـه طویـل حـبس محکومېږي.

محکوم می گردد.

(۳) شخصی که بمنظور عرضـه بـه دیگران سایر مواد مندرج جدول های شماره ۱، ۲ و ۳ منضمه قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، را با مواد غذایی، نوشیدنی یا سایر مـواد مخلـوط یـا ترکیب کند، با نظرداشت نوع مواد، به حد اکثر حبس قصـیر، محکـوم می گردد.

(۴) شخصی که بمنظور عرضـه بـه دیگران چرس را بـا مـواد غـذایی، نوشیدنی یا سایر مواد، مخلـوط یـا ترکیب کند، به حد اقل حبس قصیر، محکوم می گردد.

(۵) شخصی که اعـمال منـدرج فقره هـای (۱ تـا ۴) ایـن مـاده را بمنظـور معتـاد سـاختن، فریب یـا سـوء اسـتفاده دیگـران مرتکب گردد، به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د مصرف د اجازه ورکوونکي مجازات

۳۱۴ ماده:

هغه شخص چې په رستورانت، هوټل، سینما، دوکان او تر خپل تصرف لاندې په نورو ځایونو کې د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو، د هغو د لرونکو مرکب د مصرف اجازه ورکړي، د محل د جواز پر سلبېدو برسېره، اجازه ورکوونکی په قصیر حبس او په هغهٔ صورت کې چې اجازه ورکوونکی د عامه خدمتونو مؤظف وي تر دریو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

مجازات اجازه دهندهٔ مصرف مواد مخدر و مواد روان گردان

مادهٔ ۳۱۴:

شخصی که مصرف مواد مخدر و مواد روان گردان یا مرکب حاوی آن را در رستورانت، هوتل، سینما، دوکان وسایر محلات تحت تصرف خویش اجازه دهد، علاوه بر سلب جواز محل، اجازه دهنده به حبس قصیر و در صورتی که اجازه دهنده مؤظف خدمات عامه باشد، به حبس متوسط تا سه سال محکوم می گردد.

د مخدرو موادو د تنظیم د کمېټې د غړو د سرغړونې مجازات

۳۱۵ ماده:

که چېرې د مسکراتو او مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو د کنترول په قانون کې درج د مخدرو موادو د تنظیم د کمېټې غړي، د مسکراتو او

مجازات تخلف اعضای کمیتهٔ تنظیم مواد مخدر

مادهٔ ۳۱۵:

هرگاه اعضای کمیته تنظیم مواد مخدر مندرج قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، جوازنامه یا اجازه نامه مندرج قانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو د کنترول په قانون کې درج جواز لیک یا اجازه لیک، پدې اړه د علم په لرلو سره چې جواز لیک یا اجازه لیک د ناوړې استفادې مورد ګرځي او یا داچې د هغو له غیر قانوني استفادې څخه خبر ورکړل شوی وي، اعطاء کړي یا دهغۀ د صادرېدو زمینه مساعده کړي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي.

مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن را با داشتن علم مبنی بر این که جواز نامه یا اجازه نامه مورد سوء استفاده قرار می گیرد یا اینکه از استفاده غیر قانونی آن اطلاع داده شده باشد، اعطاء نماید یا زمینه صدور آن را مساعد سازد، به حبس طویل تا ده سال، محکوم می گردد.

د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د غیر قانوني تجویز، پلور یا استعمال مجازات

مجازات تجویز، فروش و یا استعمال غیرقانونی مواد مخدر و مواد روان گردان

۳۱۶ ماده:

(۱) هغه شخص چې د مسکراتو او مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو د کنترول د قانون په منضمه ۲ او۳ ګڼه جدولونو کې درج د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو لرونکي درمل، له تزویر شوې طبي نسخې څخه په استفادې سره وپېري یا استعمال کړي یا د نسخې په تزویري

مادۀ ۳۱۶:

(۱) شخصی که ادویه حاوی مواد مخدر و مواد روان گردان مندرج جدول های شماره ۲ و ۳ منضمه قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، را با استفاده ازنسخۀ طبی تزویرشده خریداری یا استعمال نماید یا با وجود آگاهی به تزویری بودن یا بدون نسخه طبی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

والي د خبرتيا با وجود يا له طبي نسخې پرته، هغه وپلوري، د مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو د قاچاق پر جزا برسېره، پدې قانون کې درج د تزوير د جرم په جزا هم محکومېږي.

(۲) که چېرې طبي مؤظف، پدې باندې د علم په لرلو سره چې ددې فصل د مخدرې مادې استعمال غير مجاز دی، هغه د طبي نسخې په ذريعه تجويز کړي، د اصل جرم پر جزا برسېره، تر دريوکلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۲) فقره کې درج شوی جرم دصحي مؤسسو لخوا ارتکاب شي، د اصلي فاعل پر مجازاتو برسېره، صحي مؤسسه لومړی ځل له احوالو سره سم له پنځه سوه زره څخه تر دوو ميليونو افغانيو پورې په نغدي جزا او د تکرار په صورت کې پر دوه ميليونو افغانيو نغدي جزا برسېره، دجواز په سلب هم محکومېږي.

آن را به فروش برساند، علاوه بر جزای قاچاق مواد مخدر و مواد روان گردان، به جزای جرم تزویر مندرج این قانون، نیز محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مؤظف طبی، با داشتن علم بر اینکه استعمال مادۀ مخدر این فصل غیر مجاز می باشد، آنرا ذریعۀ نسخۀ طبی تجویز نماید، علاوه بر جزای اصل جرم، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۲) این ماده توسط مؤسسه های صحی ارتکاب یابد، علاوه بر مجازات فاعل اصلی، مؤسسه صحی بار اول، به جزای نقدی از پنجصد هزار تا دو میلیون افغانی و در صورت تکرار علاوه بر جزای نقدی دو میلیون افغانی به سلب جواز نیز، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له معتاد سره د مخدرو موادو شتون

۳۱۷ ماده:

(۱) که چېرې په مخدرو موادو معتاد شخص تر دوو ګرامو هېروئين، مورفين يا کوکائين يا لس ګرامه تریاک يا پنځوس ګرامه چرس له ځانه سره ولري، په هغهٔ صورت کې چې د هغهٔ اعتياد د مؤظف ډاکټر لخوا تأييد شي، له عدلي تعقيب څخه معاف دی او د درملنې لپاره د معتادينو صحي مرکز ته، تسليمېږي.

(۲) که چېرې معتاد شخص ددې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو مقاديرو څخه زيات په خپل واک کې ولري، په صحي مرکز کې د پوليسو تر څارنې لاندې نيول کېږي، پدې فصل کې درج شوو حکمونو ته په پام سره مجازات کېږي.

(۳) د معتادينو د صحي مرکز مسؤول، مکلف دی په هرو پنځلسو ورځو کې، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج

موجودیت مواد مخدر نزد معتاد

مادهٔ ۳۱۷:

(۱) هرگاه شخص معتاد به مواد مخدر تا دو گرام هیروئین، مورفین یا کوکائین یا ده گرام تریاک یا پنجاه گرام چرس را به همراه داشته باشد، در صورتی که اعتیاد وی توسط داکتر مؤظف تائید گردد، از تعقیب عدلی معاف بوده و جهت درمان به مرکز صحی معتادین، تسلیم داده می شود.

(۲) هرگاه شخص معتاد مقدار بیش از مقادیر مندرج فقرهٔ (۱) این ماده را در اختیار داشته باشد، در مرکزصحی تحت نظارت پولیس قرار گرفته، بانظر داشت احکام مندرج این فصل مجازات می گردد.

(۳) مسؤول مرکز صحی معتادین، مکلف است در هر پانزده روز گزارش وضعیت صحی معتاد مندرج

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي معتاد د صحي وضعيت رپوټ د ځارنوالۍ له لارې اړوندې محکمې ته وړاندې کړي. محکمه کولای شي، د ترلاسه شوي رپوټ پر بنسټ، په صحي مرکز کې د ځارنې او درملنې موده له احوالو سره سم، لغو یا تمدید کړي.

(۴) په حجز یا حبس د محکومیت په صورت کې، په صحي مرکز کې د ځارنې تېره شوې موده د هغهٔ د حجز یا حبس په موده کې محاسبه کېږي.

اجباري اعتیاد ته د سوقولو مجازات

۳۱۸ ماده:

(۱) هغه شخص چې، بل څوک د چرسو په استثني د مخدرو موادو استعمال ته اړ باسي (مجبورکړي) او یا نومورې مواد جبراً په هغهٔ وخوري، وڅښي یا تزریق کړي، په هغهٔ صورت کې چې شخص د هغو د استعمال له امله معتاد شي په طویل حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې، بل څوک د

فقرهٔ (۲) این ماده را از طریق څارنوالی به محکمهٔ مربوطه ارایه نماید. محکمه می تواند به اساس گزارش دریافت شده، میعاد نظارت و معالجه را حسب احوا ل در مرکزصحی لغو یا تمدید نماید.

(۴) در صورت محکومیت به حجز یا حبس، مدت سپری شده نظارت در مرکزصحی درمدت حجز یا حبس وی محاسبه می گردد.

مجازات سوق دادن به اعتیاد اجباری

مادهٔ ۳۱۸:

(۱) شخصی که، دیگری را به استعمال مواد مخدر به استثنای چرس مجبورسازد و یا مواد متذکره را جبراً به وی بخوراند، بنوشاند یا تزریق کند، در صورتی که شخص در اثر استعمال آن معتاد گردد، به حبس طویل محکوم می گردد.

(۲) شخصی که، دیگری را به استعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

چرسو استعمال ته مجبور کړي، په هغهٔ صورت کې چې شخص د هغو دکارولو له امله متعاد شي، په قصير حبس، محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو مجني عليه طفل او يا په رواني ناروغيو مصاب شخص وي، مرتکب، د طويل حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۴) که چېرې شخص د دې مادې په (۱، ۲ او۳) فقرو کې تر درج شوي اجبار لاندې، د دې عمل تر اغېزې لاندې، د جرم مرتکب شي، سوقوونکی د دې مادې په (۱، ۲ او۳) فقرو کې پر درج شوو مجازاتو برسېره د ارتکاب موندي جرم په مجازاتو، هم، محکومېږي.

(۵) که چېرې د دې مادې په (۱، ۲ او۳) فقروکې د درج شوو اعمالو له ارتکاب څخه موخه، پر شخص باندې د جرم ارتکاب وي، مرتکب پدې ماده کې پر درج شوو مجازاتو برسېره، د مرتکبه جرم پر مجازاتو هم محکومېږي.

چرس مجبور سازد، در صورتی که شخص در اثر استعمال آن معتاد گردد، به حبس قصير محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه مجنی علیه جرایم مندرج فقره (۱) این ماده طفل و یا شخصی مصاب به امراض روانی باشد، مرتکب، به حداکثر حبس طویل محکوم می گردد.

(۴) هرگاه شخص تحت اجبار مندرج فقره های (۱، ۲ و ۳) این ماده تحت تاثیر این عمل، مرتکب جرم گردد، سوق دهنده علاوه بر مجازات مندرج فقره های (۱، ۲ و ۳) این ماده، به مجازات جرم ارتکاب یافته، نیز محکوم می‌گردد.

(۵) هرگاه هدف از ارتکاب اعمال مندرج فقره های (۱، ۲ و ۳) این ماده ارتکاب جرم بالای شخص باشد، مرتکب علاوه بر مجازات مندرج این ماده، به مجازات جرم مرتکبه، نیز محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخفي (پټ) همکار د سرغړونو مجازات

۳۱۹ ماده:

که چېرې مخفي همکار د قانون د حکمونو پرخلاف فعاليت وکړي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي.

د مخفي کشفي اقداماتو په اجراء کې د سرغړونو مجازات

۳۲۰ ماده:

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي، له احوالو سره سم په متوسط حبس محکومېږي، هغه حالات چې د مسکراتو او مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو د کنترول په قانون کې، مجاز ګڼل شوي، لدې حکم څخه مستثني دي:

۱- د الکترونيکي ارتباط د سمع او څارنې (نظارت) وسيلې موجوديت يا دهغې حکم او يا نصب افشاء کړي.

۲- له يوۀ مخفي کشفي اقدام څخه د ترلاسه شوو معلوماتو او پايلو محتوي

مجازات تخلفات همکار مخفی

مادۀ ۳۱۹:

هرگاه همکار مخفی برخلاف احکام قانون فعالیت نماید، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می گردد.

مجازات تخلفات در اجرای اقدامات کشفی مخفی

مادۀ ۳۲۰:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس متوسط محکوم می گردد، حالاتی که در قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن، مجاز دانسته شده از این حکم مستثنی می باشد:

۱- موجودیت وسیلۀ سمع ونظارت ارتباط الکترونیکی یا حکم ویا نصب آنرا افشاء نماید.

۲- محتوای معلومات ونتایج حاصل شده از یک اقدام کشفی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د مخدرو موادو قاچاقو په ارتباط، د مسکراتو او مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو د کنترول دقانون له حکمونو سره سم، ترلاسه شوي بل شخص ته په لاندې حالاتو کې افشاء کړي:

– پدې باندې د علم په لرلو سره چې معلومات د مخفي کشفي اقداماتو د اجراء له لارې لاسته راغلي دي.

– د مرتکب د عدلي تعقیب د ګډوډولو (اخلال) په مقصد.

کشفي مخفي غير قانوني اقدامات

۳۲۱ ماده:

که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف په قانون کې له درج شوو مواردو پرته کشفي مخفي اقدامات ترسره کړي، له دووکلونو څخه زيات په متوسط حبس، محکومېږي.

مخفی را که به ارتباط قاچاق مواد مخدر مطابق احکام قانون مبارزه علیه مسکرات و مواد مخدر وکنترول آن، دریافت شده به شخص دیگر در حالات ذیل افشاء نماید:

– با داشتن علم به اینکه معلومات از طریق اجرای اقدامات کشفی مخفی به دست آمده است.

– به مقصد اخلال تعقیب عدلی مرتکب.

اقدامات غیر قانونی مخفی کشفی

مادۀ ۳۲۱:

هرگاه مؤظف خدمات عامه در غیر از موارد مندرج قانون، اقدامات کشفی مخفی را انجام دهد، به حبس متوسط بیش از دو سال، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ضبط شوو مخدرو موادو او روان اړوونکو موادوپه اړه اجراآت

۳۲۲ ماده:

پدې فصل کې درج د ضبط شوو مخدرو موادو او روان اړوونکو موادو په اړه د مسکراتو او مخدرو موادو پرخلاف د مبارزې او د هغو د کنترول په قانون کې درج شوي حکمونه، د تطبیق وړ دي.

اجراآت در مورد مواد مخدر و مواد روان گردان ضبط شده

مادۀ ۳۲۲:

احکام مندرج قانون مبارزه علیه مسکرات ومواد مخدر وکنترول آن در رابطه به مواد مخدر و مواد روان گردان ضبط شده مندرج این فصل، قابل تطبیق می باشد.

شپږم فصل

دینونو ته اهانت

دینونو توهین

۳۲۳ ماده:

هغه شخص چې له دینونو څخه یوۀ ته عمداً، اهانت یا د هغو شعایر اخلال یا د هغو مجاز معابد تخریب کړي، دینونو ته د اهانت د جرم مرتکب پېژندل کېږي، پدې فصل کې له درج شوو حکمونو سره سم، مجازات کېږي.

فصل ششم

اهانت به ادیان

توهین به ادیان

مادۀ ۳۲۳:

شخصی که به یکی از ادیان عمداً، اهانت یا شعایر آنها را اخلال یا معابد مجاز آنها را تخریب نماید، مرتکب جرم اهانت به ادیان شناخته شده، مطابق احکام مندرج این فصل، مجازات می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ديني شعايرو يا مراسمو ګډوډول (اخلال)

۳۲۴ ماده:

(۱) لاندې اشخاص په قصير حبس يا له دېرشو زرو افغانيو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې له دينونو څخه د يوۀ شعاير يا مراسم چې له قانون سره سم يې ترسره کړي اخلال کړي يا هغه وځنډوي.

۲- هغه شخص چې مجاز معابد چې په هغو کې له دينونو څخه د يوۀ ديني شعاير اجراء کېږي يا نور هغه علايم چې د هغۀ د پيروانو په وړاندې محترم وي، ويجاړ يا تلف کړي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د جرم د ارتکاب په سبب، قتل يا جراحت واقع شي، مرتکب پدې قانون کې درج له احوالو سره سم د عمدي قتل يا جرح په جزا محکومېږي.

اخلال شعاير يا مراسم ديني

مادۀ ۳۲۴:

(۱) اشخاص آتی به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردند:

۱- شخصی که برگزاری شعاير يا مراسم دينی يکی از اديان را که مطابق احکام قانون انجام ميدهند اخلال نمايد يا آن را معطل سازد.

۲- شخصی که معابد مجاز را که در آن شعاير دينی يکی از اديان اجراء می گردد يا ساير علايم را که نزد پيروان آن محترم باشد، تخريب يا تلف نمايد.

(۲) هرگاه به سبب ارتکاب جرم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، قتل يا جراحت واقع گردد، مرتکب حسب احوال به جزای جرم قتل يا جرح عمدی مندرج اين قانون، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قول يا فعل په واسطه د دينونو پر پيروانو تجاوز

۳۲۵ ماده:

(۱) هغه شخص چې د اسلام د سپېڅلي دين معتقدات يا حکمونه توهين يا تحريف کړي په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې له دينونو څخه د يوهٔ پر پيرو چې خپل ديني مراسم د قانون د حکمونو په حدودو کې اجراء کوي، د قول، فعل، کتابت يا په نورو علني وسايلو سره توهين او پرې تجاوز وکړي، په قصير حبس محکومېږي.

اووم فصل

د ستراتيژيکو او هسته يي مالونو او خدمتونو جرمونه

ستراتيژيک مالونه او خدمتونه

۳۲۶ ماده:

راتلونکې اصطلاحګانې پدې فصل کې د لاندې مفاهيمو لرونکې دي:

۱- ستراتيژيک مالونه: نظامي مالونه، د

تجاوز به پيروان اديان به واسطه قول يا فعل

مادهٔ ۳۲۵:

(۱) شخصی که معتقدات يا احکام دين مقدس اسلام را توهين يا تحريف نمايد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که به پيرو يکی از اديانی که مراسم دينی خود را در حدود احکام قانون اجراء می نمايد بواسطه قول، فعل، کتابت يا ساير وسايل علنی توهين و تجاوز نمايد، به حبس قصير محکوم می گردد.

فصل هفتم

جرايم اموال و خدمات ستراتيژيک و هسته يی

اموال وخدمات ستراتيژيک

مادهٔ ۳۲۶:

اصطلاحات آتی دراين فصل دارای مفاهيم ذيل می باشد:

۱- اموال ستراتيژيک: اموال نظامی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسته يي، کيمياوي، بيولوژيکي او زهري موادو په شمول د دوه ګونې کارونې د وړتيا لرونکې مالونه او د هغو په توليد، ساتنې، انتقال او استعمال کې د استفادې وړ تجهيزات او نور هغه مالونه چې د ستراتيژيک اهميت لرونکي تشخيص شوي وي.

۲- ستراتيژيک خدمتونه: دلالي، تخنيکي او تکنالوژيکي مرستې، انتقالات او د مالي تدارکاتو، بيمې په شمول او په ستراتيژيکو مالونو پورې مرتبط هر ډول نور خدمتونه دي.

۳- د دوه ګونې استفادې وړ مالونه: اجناس، د هغو د نرم افزار او تکنالوژۍ په شمول چې د ملکي او نظامي مقاصدو او يا د ټولنيز (ډله ييز) کشتار کارونه (کاربرد) ولري.

ستراتيژيک مالونه

۳۲۷ ماده:

(۱) هغه شخص چې ستراتيژيک مالونه د جواز ليک يا اجازه ليک له لرلو پرته، وارد، صادر، توليد، وپيري، وپلوري،

اموال دارای قابليت کار برد دوگانه شامل مواد هسته يی، کيمياوی، بيولوژيکی و زهری و تجهيزات مورد استفاده در توليد، نگهداری، انتقال و استعمال آنها و ساير اموالی که دارای اهميت ستراتيژيک تشخيص گرديده باشد.

۲- خدمات ستراتيژيک: دلالی، کمک های تخنيکی وتکنالوژيکی ، انتقالات و خدمات شامل تدارکات مالی، بيمه و هر نوع خدمات ديگر مرتبط به اموال ستراتيژيک می باشد.

۳- اموال قابل استفادۀ دوگانه: اجناس، به شمول نرم افزار و تکنالوژی آن که برای مقاصد ملکی و نظامی ويا کشتار جمعی کار برد داشته باشد.

اموال ستراتيژيک

مادۀ ۳۲۷:

(۱) شخصی که اموال ستراتيژيک را بدون داشتن جواز نامه يا اجازه نامه، وارد، صادر، توليد، خريد،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخليه، انتقال، برابر، ځای پر ځای، پټ يا زېرمه کړي، د هغو د برابرولو سپارښتنه وکړي يا له نومورو فعاليتونو څخه يو تمويل کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوي مالونه هسته يي، کيمياوي، بيولوژيکي او زهري مواد يا چاودېدونکي مواد يا د هغو په توليد کې دګټې اخيستنې وړ تجهيزات وي، مرتکب په طويل حبس چې له لسو کلونو څخه لږ نه وي، محکومېږي.

(۳) که چېرې د بهرني دولت تبعه ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل مرتکب شي او د هسته يي، کيمياوي، بيولوژيکي او زهري موادو يا چاودېدونکو موادو يا دهغو په توليد کې د ګټې اخيستنې وړ تجهيزاتو محمولې وي، په۲درجه دوام حبس محکومېږي.

دستراتيژيکو خدمتونو وړاندې کول

۳۲۸ ماده:

هغه شخص چې له جواز ليک يا اجازه

فروش، تخليه، انتقال، تهيه، جابجا، پنهان يا ذخيره نمايد، تهيۀ آن را سفارش دهد يا يکی از فعاليت متذکره را تمويل نمايد، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه اموال مندرج فقرۀ (۱) اين ماده، مواد هسته يی، کيمياوی، بيولوژيکی و زهری يا مواد منفجره يا تجهيزات مورد استفاده در توليد آن باشد، مرتکب به حبس طويلی که از ده سال کمتر نباشد، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه تبعۀ دولت خارجی عمل مندرج فقرۀ (۱) اين ماده را مرتکب گردد ومحموله مواد هسته يی، کيمياوی، بيولوژيکی و زهری يا مواد منفجره يا تجهيزات مورد استفاده در توليد آن باشد، به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد.

ارايه خدمات ستراتيژيک

مادۀ ۳۲۸:

شخصی که بدون داشتن جواز نامه يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک پرته ستراتیژیک خدمتونه وړاندې کړي، په متوسط حبس محکومېږي.

اجازه نامه، خدمات ستراتیژیک را عرضه نماید، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

د جواز له لرلو پرته د هسته یي موادو خپرول، غلا یا صادرول

انتشار، سرقت یا صدور مواد هسته یی بدون داشتن جواز

۳۲۹ ماده:

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، له احوالو سره سم، له لسو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي:

۱- د هسته یي موادو یا رادیو اکتیف ترلاسه کول، پروسس او خپرول پداسې ډول چې د ژوند چاپېریال ته یې ضرر متصور وي.

۲- د هسته یي موادو یا رادیو اکتیف غلا.

۳- له غیر قانوني مجاریو (لارو) څخه د هسته یي موادو یا رادیواکتیف ترلاسه کول.

۴- د جواز لیک یا اجازه لیک له لرلو پرته د هسته یي موادو او رادیواکتیف صادرول.

مادۀ ۳۲۹:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل شود، به حبس طویل بیش از ده سال، محکوم می گردد:

۱- حصول، پروسس و انتشار مواد هسته یی یا رادیو اکتیف به نحوی که ضرر آن به محیط زیست متصور باشد.

۲- سرقت مواد هسته یی یا رادیواکتیف.

۳- حصول مواد هسته یی یا رادیواکتیف از مجاری غیرقانونی.

۴- صدور مواد هسته یی یا رادیواکتیف بدون داشتن جوازنامه واجازه نامه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هسته يي موادو په پروسس او تأسيساتو کې مداخله

۳۳۰ ماده:

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي، له احوالو سره سم تر دوو لسو کلونو پورې په طويل حبس يا ۲درجه دوام حبس محکومېږي:

۱- د هسته يي تأسيساتو پرخلاف د عمل ارتکاب.

۲- د هسته يي موادو اوتأسيساتو په چارو کې مداخله پداسې ډول چې د مړينې خطر، يا جسمي صدمه يا د ژوند چاپېريال ته پکې ضرر متصور وي. خو دا چې د هسته يي انرژۍ اداري پر هغې ليکلې موافقه کړې وي.

۳- هسته يي مرکزونو ته د خطر د رامنځته کولو يا په هغو کې د مداخلې په غرض، د هسته يي موادو يا راديواکتيف استعمال.

۴- د هسته يي اسرارو افشاء کول.

مداخله در پروسس مواد و تأسيسات هسته يي

مادۀ ۳۳۰:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل شود، حسب احوال، به حبس طویل تا دوازده سال یا حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد:

۱- ارتکاب عمل علیه تأسیسات هسته یی.

۲- مداخله در امور مواد و تأسیسات هسته یی به نحوی که خطر مرگ یا صدمه جسمی یا ضرر به محیط زیست درآن متصورباشد مگر این که ادارۀ انرژی هسته یی به آن طور کتبی موافقه نموده باشد.

۳- استعمال مواد هسته یی یا راديواکتیف غرض ایجاد خطر به مراکز هسته یی یا مداخله در آن.

۴- افشای اسرار هسته یی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حبس د بدیل مستوجب هسته یي جرمونه

۳۳۱ ماده:

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، د دېرشو زرو افغانیو په نغدي جزا یا د حبس په بدیل محکومېږي:

۱- د تشعشع له سرچېنو سره د کار پر وخت له تشعشع څخه د ساتنې له وسایلو څخه نه استفاده.

۲- د اړوندو لارښودونو او کړنلارو نه تطبیق.

۳- له دمخه صحي کتنو او له فعلي صحي کتنو سره د هغو له نه تطبیق پرته د کارکوونکو استخدام.

۴- د هسته یي انرژۍ د اداري په واسطه د ټاکل شوو لارښودونو له رعایت پرته، د تشعشع له منابعو څخه استفاده یا د تحفظي (ساتندویه) تدبیرونو په نه موجودیت کې د رادیواکتیف له سرچینې څخه ګټه اخیستنه.

جرایم هسته یی مستوجب بدیل حبس

مادۀ ۳۳۱:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل شود، به جزای نقدی سی هزار افغانی یا به بدیل حبس محکوم می گردد:

۱- عدم استفاده از وسایل محافظت تشعشع هنگام کار با منابع تشعشع.

۲- عدم تطبیق رهنمود ها و طرزالعمل های مربوط.

۳- استخدام کارکنان بدون معاینات صحی قبلی وعدم تطبیق آن با معاینات صحی فعلی.

۴- استفاده ازمنابع تشعشع بدون رعایت رهنمودهای تعیین شده توسط ادارۀ انرژی هسته یی یا بهره برداری از منبع رادیو اکتیف درعدم موجودیت تدابیر تحفظی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د مسؤول شخص له کنتـــرول او مراقبت پرته د رادیواکتیف له سرچینو څخه استفاده.

۵- استفاده ازمنابع رادیو اکتیف بدون کنتـــــرول ومراقبـــــت شـــــخص مسؤول.

٦- د تشعشع د سرچینې د کنترول او مراقبت لپاره نه همکاري، د معلوماتو او نورو اړوندو سندونو په لاسرسی کې نه ورکول یا د هسته یي انرژی ادارې ته ناسم رپوټ ورکونه.

٦- عدم همکـــاری بـــرای کنتـــرول ومراقبت منبع تشعشـــع، دردســـترس قرارندادن معلومات وسایراسناد مربوط یا گزارش دهی نادرست به ادارهٔ انرژی هسته یی.

۷- د تشعشي تأسیساتو یا د تشعشع د سرچینې په فعالیت کې وقفه چـــې پـــه سرغړونه تمامه شي.

۷- وقفه درفعالیت تأسیسات تشعشعی یا منبع تشعشع که منجربـــه تخلـــف گردد.

۸- د جوازلیک یا اجـــازه لیـــک د شرایطو نه رعایتول او یا د هغو بدلول (تغییرول).

۸- عدم رعایت شرایط جوازنامه یـــا اجـــازه نامـــه ویـــا تغییـــردادن آنها.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه يم باب
د بشريت پرخلاف جرمونه
لومړی فصل
د نسل وژنې جرمونه

اصطلاحګانې

۳۳۲ ماده:

پدې باب کې راتلونکې اصطلاحګانې د لاندېنيو مفاهيمو لرونکې دي:

۱- د هر غير نظامي جمعيت پرضد پراخه يا سا زمان موندې حمله: د هر غير نظامي جمعيت پرضد د دې قانون په ۳۳۵ ماده کې له درج شوو اعمالو څخه د څوګونو عملونو پر ارتکاب مشتمل يو چلند دی چې ددغه شان حملې د ترسره کولو لپاره يې د يوۀ دولت يا يوۀ سازمان د سياست په تعقيب يا پرمخ بيولو صورت مونډلی وي.

۲- نابودول: د ژوندانه د يوۀ خاص وضعيت تحميلول پکې شامل دي، له جملې خوراک او درملو ته له لاسرسی

باب دوم
جرايم عليه بشريت
فصل اول
جرايم نسل کشی

اصطلاحات

مادۀ ۳۳۲:

اصطلاحات آتی در اين باب دارای مفاهيم ذيل می‌باشد:

۱- حملۀ گسترده يا سازمان يافته بر ضد هر جمعيت غير نظامی: رفتاری است مشتمل بر ارتکاب چندين عمل از اعمال مندرج مادۀ ۳۳۵ اين قانون بر ضد هر جمعيت غير نظامی که در تعقيب يا پيشبرد سياست يک دولت يا يک سازمان برای انجام چنين حملۀ صورت گرفته باشد.

۲- نابودسازی: شامل تحميل عمدی وضعيت خاصی از زندگی است از جمله محروم کردن از دسترسی به غذا

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه محرومول چې د يوۀ جمعيت د يوې برخې د ويجاړولو (انهدام) په منظور برنامه ريزي کېږي.

و دوا که بمنظور منهدم کردن بخشی از یک جمعیت برنامه ریزی می شود.

۳- په بردګي نيول: پرانسان د مالکيت په حق پورې د اړوندو اختياراتو اعمال او د انسان په خاصه د بڼځو او اطفالو د پېر او پلور لپاره ددغۀ شان اختيار پر اعمالولو مشتمل دي.

۳- به بردگی گرفتن: اِعمال اختیارات مربوط به حق مالکیت بر انسان ومشتمل است بر اعمال چنین اختیاری در جهت خرید وفروش انسان بخصوص زنان و اطفال.

۴- اجباري کوچ: د بين الملل په حقوقو کې له درج شوي مجوز پرته، بهرته د شړلو يا د نورو تشدد آميزو اعمالو له لارې دپام وړ اشخاصو اجباري ځای پرځای کول له هغې ساحې څخه چې قانوناً هلته حضور لري.

۴- کوچ اجباری: جابجاکردن اجباری اشخاص مورد نظر از طریق بیرون راندن یا دیگر اعمال تشدد آمیز از ساحۀ که قانوناً در آن حضور دارند بدون مجوز مندرج حقوق بین الملل.

۵- اجباري حاملګي: د هغې بڼځې غير قانوني محبوسول چې د يوۀ جمعيت پر قومي ترکيب د اغېزې د اچولو په موخه په اجباري توګه حامله (امېندواره) شي يا د بين الملل حقوقو نور شديد نقضول وي.

۵- حاملگی اجباری: محبوس ساختن غیر قانونی زنی که به هدف تأثیر گذاشتن بر ترکیب قومی یک جمعیت بطور اجباری حامله گردد یا دیگر نقض های شدید حقوق بین الملل باشد.

۶- مداوم تعقيب او آزار: د بين الملل حقوقو پرخلاف له اساسي حقوقو څخه

۶- تعقیب وآزار مداوم: محروم کردن عمدی وشدید از حقوق اساسی بر

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمدي او شديد محرومول، د هغې ډلې يا مجموعې د هويت په دليل.

۷- د نژادي (توکميز) تبعيض جنايت: د غير انساني اعمالو ارتکاب، ددې قانون په ۳۳۵ ماده کې د درج شوو اعمالو له ډول څخه د يوۀ بنسټيز شوي رژيم له لارې او د يوې نژادي ډلې په واسطه پربله نژادي ډله يا ډلو د فشار او منظمې سلطې رامنځته کول او د هغو اعمالو ارتکاب د هغۀ رژيم د حفظ او ساتنې په منظور.

۸- اجباري ورک کول: د يوۀ دولت يا سياسي سازمان په واسطه يا د هغو په اجازه يا ملاتړ يا رضايت سره د اشخاصو ګرفتاري، توقيف، حبس يا تبنتول او وروسته له آزادۍ څخه د دغو اشخاصو په محرومولو، له اعتراف څخه ډډه کول يا د اوږدې مودې لپاره له قانوني ملاتړ څخه د هغو د لرې کولو په قصد د هغو له برخليک (سرنوشت) يا د ساتلو له ځای څخه د اطلاعاتو له ورکولو څخه ډډه کول.

۹- جنسي برده کول: هغه وضعيت

خلاف حقوق بين الملل به دليل هويت آن گروه يا مجموعه.

۷- جنايت تبعيض نژادی: ارتکاب اعمال غير انسانی از نوع اعمال مندرج مادۀ ۳۳۵ اين قانون از طريق يک رژيم نهادينه شده وايجاد فشار وسلطۀ منظم توسط يک گروه نژادی بريک گروه يا گروه های نژادی ديگر وارتکاب آن اعمال به قصد حفظ و نگهداری آن رژيم.

۸- ناپديد سازی اجباری: گرفتاری، توقيف، حبس يا ربودن اشخاص توسط يک دولت يا سازمان سياسی يا با اجازه يا حمايت يا رضايت آنها و سپس امتناع از اعتراف به محروميت اين اشخاص از آزادی يا امتناع از دادن اطلاعات از سرنوشت يا محل نگهداری آنها به قصد دور کردن آنها از حمايت قانونی برای مدت طولانی.

۹- برده سازی جنسی: وضعيتی است

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چې مرتکب، مجني علیه په زور او تهدید سره، په دوامداره توګه جنسي عمل ته اړ باسي، پداسې حالت کې چې مجني علیه و نشي کولی د جنسي عمل له وړاندې کولو څخه ډډه وکړي یا د جنسي عمل د وړاندې کولو ځای ترک کړي.

که مرتکب، مجنی علیه را با زور و تهدید، به صورت دوامدار وادار به عمل جنسی سازد، در حالتی که مجنی علیه نتواند از ارایهٔ عمل جنسی خودداری نماید یا محل ارایه عمل جنسی را ترک کند.

۱۰- اجباري فحشا: هغه وضعیت دی چې مرتکب، مجني علیه د مادي منفعت د ترلاسه کولو په منظور، د جنسي عمل وړاندې کولو ته اړباسي.

۱۰- فحشای اجباری: وضعیتی است که مرتکب، مجنی علیه را بمنظور کسب منفعت مادی به ارایه عمل جنسی وادار کند.

۱۱- اجباري عقیم کول: هغه وضعیت دی چې مرتکب یو یا له یوۀ څخه زیات نفر په زور د مثل د تولید له توانایي څخه محروم کړي، پدې شرط چې دغه محرومیت د کورنۍ د تنظیم د تدبیرونو یا له طبي درملنې (تداوی) څخه راپیدا شوی، نه وي.

۱۱- عقیم سازی اجباری: وضعیتی است که مرتکب یک یا بیش از یک نفر را به زور از توانایی تولید نسل محروم سازد، مشروط بر این که این محرومیت ناشی از تدابیر تنظیم خانواده یا تداوی طبی نباشد.

۱۲- وسله واله شخړه: له نظامي ځواک څخه له استفادې یا هغۀ ته له توسل (لاس اچولو) څخه عبارت ده پداسې ډول چې د هغې ماهیت، شدت او پراخولي ته په کتو سره، د جنګ

۱۲- منازعه مسلحانه: استفاده از نیروی نظامی یا توسل به آن به شکلی که نظر به ماهیت، شدت و گستردگی آن حالت جنگ شناخته شود، بین یک یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت وپيژندل شـي، د يـوهٔ يـاځو دولتونو، يا يوې يا څوڅلو ترمنځ، له يوهٔ يا څو دولتونو سره يا د يوې يا څو ډلو ترمنځ، دې ته له پام پرته چـې عمـلاً شخړه واقع شوې وي يا اړخونو هغـه رسماً اعلام کړې وي.

چند دولـت، يـا يـک يـا چنـد گروه با يک يـا چنـد دولـت يـا بين يک يا چند گروه، بدون نظر داشت اين که عمـلاً منازعـه واقـع شـده يـا طـرفين آن را رسـماً اعـلام نموده باشند.

د نسل وژنې د جرم ارتکاب

ارتکاب جرم نسل کشی

۳۳۳ ماده:

(۱) شخص هغه وخت د نسل وژنې د جرم مرتکب کېږي چې يو له لانـدې اعمالو څخه عمداً د يوې ملي، قومي، نژادي يا مذهبي ډلې د ټولې يا يـوې برخې دنابودولو پـه منظـور سـرته ورسوي:

مادهٔ ۳۳۳:

(۱) شـخص زمـانی مرتکـب جرم نسل کشی می‌شود که يکـی از اعمال ذيل را عمداً و بمنظور نـابود ساختن تمام يا بخشی از يک گـروه ملی، قومی، نژادی يا مـذهبی انجـام دهد:

۱- د ډلې د غړو قتلول.

۱- قتل اعضای گروه.

۲- د ډلې غړو ته د جسمي يا روانـي شديدې صدمې واردول.

۲- وارد کردن صدمه شديد جسمی يا روانی به اعضای گروه.

۳- د نامناسب ژوندانه په وړانـدې د يوې ډلې عمدي درول (قرار ورکول) چې د هغې د کلي يا جزيي جسمي قوې په زوال منتهي شي.

۳- قرار دادن عمدی يک گـروه در معرض وضعيت زندگی نا مناسبی کـه منتهی به زوال قوای جسمی کلی يـا جزئی آن شود.

۴- هغه اقدامات چې د يوې ډلې لـه

۴- اقداماتی که بمنظور جلوگيری از

(c) ketabton.com: The Digital Library

توالد او تناسل څخه د مخنيوي په منظور صورت ومومي.

۵- د يوې ډلې د اطفالو بلې ډلې ته اجباري انتقال.

توالد وتناسل یک گروه صورت گیرد.

۵- انتقال اجباری اطفال یک گروه به گروه دیگر.

د نسل وژنې د جرم مجازات

مجازات جرم نسل کشی

۳۳۴ ماده:

(۱) د دې قانون په ۳۳۳ ماده کې درج شوي د نسل وژنې د جرم مرتکب په ۲درجه دوام حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج د نسل وژنې جرم، په قتل تمام شي، مرتکب په اعدام محکومېږي.

مادۀ ۳۳۴:

(۱) مرتکب جرم نسل کشی مندرج مادۀ ۳۳۳ این قانون، به حبس دوام درجه۲، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه جرم نسل کشی مندرج فقرۀ (۱) این ماده، منجر به قتل گردد، مرتکب به اعدام محکوم می‌گردد.

دوه يم فصل

بشري ضد جرمونه

فصل دوم

جرایم ضد بشری

د بشري ضد جرم ارتکاب

ارتکاب جرم ضد بشری

۳۳۵ ماده:

له لاندې اعمالو څخه د يوۀ ارتکاب پدې شرط چې د مرتکب چلند عمداً او آګاهانه د يوې غير نظامي ډلې پر خلاف د پراخې يا سازمان شوې حملې برخه وي، بشري ضد جرم پېژندل کېږي:

مادۀ ۳۳۵:

ارتکاب یکی از اعمال ذیل مشروط بر این که رفتار مرتکب عمداً و آگاهانه بخشی از حملۀ گسترده یا سازمان یافته علیه یک گروه غیر نظامی باشد، جرم ضد بشری شناخته می شود:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- قتل

۲- نابودول.

۳- په بردګی نیول

۴- د یوۀ جمعیت اخراج (اېستل) یا اجباري کوچ.

۵- حبس کول یا د بین الملل حقوقو د اساسي قواعدو مخالف له جسماني آزادیو څخه د شدید محرومیت را منځته کول.

۶- شکنجه.

۷- جنسي تجاوز، جنسي برده نیول، اجباري فحشاء، اجباري حاملګي، اجباري عقیم کول یا بل هر ډول جنسي تاوتریخوالي په هماغه سطح.

۸- په سیاسي، نژادي، ملي، قومي، فرهنګي، مذهبي، د جنسیت په دلایلو یا پدې ماده کې له درج شوو اعمالو څخه د هر یوۀ په ارتباط په نورو دلایلو یا د بین المللي جزایي دیوان د صلاحیت او د روم د د ډیپلوماتیک کنفرانس د نهایي سند په شمول چې په سر تر سره نړۍ کې د بین الملل حقوقو پر موجب غیر مجاز پېژندل شوي دي په هر بل جرم،

۱- قتل.

۲- نابود سازی.

۳- به بردگی گرفتن.

۴- اخراج یا کوچ اجباری یک جمعیت.

۵- حبس کردن یا ایجاد محرومیت شدید از آزادی‌های جسمانی مخالف قواعد اساسی حقوق بین الملل.

۶- شکنجه.

۷- تجاوز جنسی، برده گیری جنسی، فحشای اجباری، حاملگی اجباری، عقیم سازی اجباری یا هر شکل دیگر خشونت جنسی در همان سطح.

۸- تعقیب وآزار هر گروه یا مجموعۀ مشخصی به دلایل سیاسی، نژادی، ملی، قومی، فرهنگی، مذهبی، جنسیت یا به دلایل دیگری در ارتباط با هریک از اعمال مندرج این ماده یا هر جرمی دیگری مشمول صلاحیت دیوان جزایی بین المللی وسند نهایی کنفرانس دیپلوماتیک روم، که در سراسر جهان به موجب حقوق

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې مشخصې ډلې يا مجموعې تعقيب او آزار.

۹- د اشخاصو اجباری ورک کول.

۱۰- د نژادي تبعيض جنايت.

۱۱- نور غير انساني اعمال چې عمداً جسم يا جسمي يا رواني سلامت ته د ستر رنځ يا شديدې صدمې د رامنځته کولو په قصد صورت و مومي.

د بشري ضد جرمونو مجازات

۳۳۶ ماده:

(۱) د دې قانون په ۳۳۵ ماده کې درج د بشري ضد جرم مرتکب په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په ۱جزء کې د درج شوي جرم د ارتکاب په صورت کې له احوالو سره سم په ۱درجه دوام حبس يا اعدام.

۲- له ۲ تر ۵ پورې اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه ديوۀ د ارتکاب په صورت کې، په ۱درجه دوام حبس.

۳- په ٦ او ۷ اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ د ارتکاب په

بين الملل غير مجاز شناخته شده است.

۹- ناپديد کردن اجباری اشخاص.

۱۰- جنايت تبعيض نژادی.

۱۱- ساير اعمال غير انسانی ديگری که عمداً به قصد ايجاد رنج عظيم يا صدمۀ شديد به جسم يا به سلامت روانی يا جسمی صورت پذيرد.

مجازات جرايم ضد بشری

مادۀ ۳۳٦:

(۱) مرتکب جرم ضد بشری مندرج مادۀ ۳۳۵ اين قانون قرار ذيل مجازات می‌گردد:

۱- در صورت ارتکاب جرم مندرج جزء ۱ حسب احوال به حبس دوام درجه۱ يا اعدام.

۲- در صورت ارتکاب يکی از جرايم مندرج اجزای ۲ تا ۵، به حبس دوام درجه۱.

۳- در صورت ارتکاب يکی از جرايم مندرج اجزای ٦ و ۷، به

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې په ۲درجه دوام حبس.
۴- له ۸ تر ۱۱ پورې اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ د ارتکاب په صورت کې په طويل حبس.
(۲) که چېرې د دې قانون په ۳۳۵ ماده کې د درج شوو جرمونو ارتکاب د مجني عليه په مړينه تمام شي، مرتکب په اعدام، محکومېږي.

حبس دوام درجه۲.
۴- در صورت ارتکاب یکی از جرایم مندرج اجزای ۸ تا ۱۱ به حبس طویل.
(۲) هرگاه ارتکاب جرایم مندرج مادۀ ۳۳۵ این قانون، منجر به مرگ مجنی علیه گردد، مرتکب به اعدام، محکوم می‌گردد.

درېيم فصل
جنګي جرمونه

فصل سوم
جرایم جنگی

د جنګي جرم ارتکاب

۳۳۷ ماده:
له لاندې اعمالو څخه د يوۀ ارتکاب چې د ژنيو په کنوانسيون کې د درج شوو حکمونو تر ملاتړ لاندې اشخاصو يا مالونو پر خلاف صورت و مومي، جنګي جرم پېژندل کېږي.
۱- عمد قتل.
۲- شکنجه يا غير انساني چلند له جملې بيولوژيکي ازمايښتونه.
۳- د اشخاصو بدن يا سلامت ته د شديد درد او رنځ يا جدي زيان

ارتکاب جرم جنگی

مادۀ ۳۳۷:
ارتکاب یکی از اعمال ذیل که علیه اشخاص یا اموال تحت حمایت احکام مندرج کنوانسیون ژنیو صورت گیرد، جرم جنگی شناخته می شود:
۱- قتل عمد.
۲- شکنجه یا رفتار غیر انسانی از جمله آزمایش های بیولوژیکی.
۳- واردکردن عمدی درد و رنج شدید یا آسیب جدی به بدن یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

(آسيب) عمدي واردول.

۴- د مالونو پراخ تخريب او ضبط چې نظامي ضرورتونه نه توجيه کوي او په غير قانوني او په خپل سربې صورت موندلی وي.

۵- په د بنمنو ځواکونوکې خدمت ته د جنګي اسير يا د ژنيو د کنوانسيون په ملاتړ کې د شاملو نورو اشخاصو مجبورول.

۶- د عادلانه او قانوني محاکمې د برخمن کېدو له حق څخه د جنګي اسير يا تر ملاتړ لاندې نورو اشخاصو عمدي محرومول.

۷- غير قانوني اېستل (اخراج) يا انتقال يا غير قانوني حبس.

۸- برمته (په ګروګان) نيول.

د جنګي جرم مجازات

۳۳۸ ماده:

د دې قانون په ۳۳۷ ماده کې درج د جنګي جرم مرتکب، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په ۱ جزء کې د درج شوي جرم د

سلامت اشخاص.

۴- تخريب وضبط گستردۀ اموال که ضرورت های نظامی را توجیه نمی کند و بصورت غیر قانونی وخود سرانه صورت گرفته باشد.

۵- مجبورساختن اسیرجنگی یا سایر اشخاص مشمول حمایت کنوانسیون ژنیو، به خدمت در نیروهای متخاصم.

۶- محروم کردن عمدی اسیر جنگی یا سایر اشخاص مشمول حمایت، از حق برخورداری از محاکمه عادلانه و قانونی.

۷- اخراج یا انتقال غیرقانونی یا حبس غیرقانونی.

۸- گروگان گیری.

مجازات جرم جنگی

مادۀ ۳۳۸:

مرتکب جرم جنگی مندرج مادۀ ۳۳۷ این قانون طور ذیل مجازات می‌گردد:

۱- در صورت ارتکاب جرم مندرج

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارتکاب په صورت کې په اعدام.
۲- په ۲ او ۳ اجزاوو کې لـــه درج شوو جرمونو څخه د یوۀ د ارتکاب په صورت کې، په ۱درجه دوام حبس.
۳- له ۴ تر ٦ اجزاوو کې لـــه درج شوو جرمونو څخه د یوۀ د ارتکاب په صورت کې، په ۲درجه دوام حبس.
۴- په ۷ او ۸ اجزاوو کې لـــه درج شوو جرمونو څخه د یوۀ د ارتکاب په صورت کې په طویل حبس.

د جنګي جرمونو په حکـــم کـــې جرمونه

۳۳۹ ماده:

(۱) له وسله والې شخړې ســـره پـــه ارتباط کې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ ارتکاب چې پر وسله واله شخړه باندې د حاکمو قوانینو او بین الملل حقوقو د عرف نقض دی، د جنګي جرمونو پـــه حکم کې پیژندل کېږي:
۱- په عموم صورت د غیـــر نظـــامي اشخاصو یا هغو غیر نظامي اشخاصو پر خلاف چې په وسله واله شخړه کـــې

جزء ۱ به اعدام.
۲- در صورت ارتکاب یکی از جرایم مندرج اجزای ۲و۳، به حـــبس دوام درجه۱.
۳- در صورت ارتکاب یکی از جرایم مندرج اجزای ۴ تا ٦، بـــه حـــبس دوام درجه۲.
۴- در صورت ارتکاب یکی از جرایم مندرج اجـــزای ۷ و۸، بـــه حـــبس طویل.

جـــــرایم در حکـــــم جـــــرایم جنگی

مادۀ ۳۳۹:

(۱) ارتکاب یکی از اعمال ذیـــل در ارتباط بـــا منازعـــه مســـلحانۀ کـــه نقض قوانین و عرف حقوق بین الملل حاکم بر منازعه مسلحانه می‌باشد، در حکـــم جـــرایم جنگـــی شـــناخته می‌شود:
۱- هدایت عمـــدی حمـــلات علیـــه اشخاص غیرنظامی به صورت عموم یا اشخاص غیر نظامی ای که مشـــارکت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقيم مشاركت ونلـــري د عمـــدي حملو هدايت.

۲- د غير نظامي موخو پر خـــلاف د حملو عمدي هدايت.

۳- په بشردوستانه مرستې رسولو پورې د اړوندو کـــارکوونکو، تأسيســـاتو، موادو، واحدونو ياهوايي ياځمکني نقليه وسايطو يا د ملګرو ملتونو د منشـــور پرموجب د سولې ساتنې پر ماموريتونو په هغۀ صورت کـــې چـــې د ژنيـــو د ميثاقونو او د هغو د اړوند پروتوکول د ملاتړ وړ وي، د عمدي حملو هدايت.

۴- د عمدي حملې اجراء پدې باندې په علم سره چې دغه شان حمله د غير نظامي اشخاصو د تلف کېدو يا ورته د صدمې رسېدو يا د غير نظامي موخو د تخريب يا د ژوند چاپېريال ته د شديد پراخ او اوږدې مودې د زيـــان لامـــل کېږي چې د پېښبيني شوو مستقيمو او قطعي نظامي منافعو له مجموع سره په مقايسه کې، له حد څخه زيات وي.

۵- پر ښـــارونو، کليـــو (قريـــو)، د استوګنې د ځايونو يا هغو ودانيو چې بې

مستقيم در منازعه مســـلحانه نداشـــته باشند.

۲- هدايت عمـــدی حمـــلات عليـــه اهداف غير نظامی.

۳- هدايت عمـــدی حمـــلات عليـــه کارکنان، تأسيسات، مواد، واحدها، يا وسايط نقليۀ هوايی يا زمينی مربوط به کمک رســـانی بشـــر دوســـتانه يـــا ماموريت های حفظ صلح به موجـــب منشور ملل متحد در صورتی که مورد حمايت ميثاق های ژنيو و پروتوکـــول مربوط آن باشند.

۴- اجرای حمله عمدی با علم به اين که چنين حمله باعث تلف شدن يا وارد نمودن صدمه به اشخاص غير نظامی يا تخريب اهداف غيرنظامی يا خســـاره شديد، گسترده و دراز مدت به محيط زيست می‌شود کـــه در مقايســـه بـــا مجمـــوع منـــافع نظـــامی مســـتقيم و قطعی پيش بينی شده، بيش ازحـــد باشد.

۵- حمله يا بمباران شهرها، قريه ها، محلات مسکونی يا ساختمان های که

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفاع وي او نظامي موخې نه وي، حمله يا بمباران.

بی دفاع بوده و اهداف نظامی نباشند.

٦- د هغهٔ نظامي وژل يا ټپي کول چې له جنګ څخه يې لاس اخيستی يا داوطلبانه تسليم شوی يا له ځانه څخه د دفاع وسيله نه لري.

٦- کشتن يا مجروح کردن نظامی که دست از جنگ کشيده يا داوطلبانه تسليم شده يا وسيلهٔ برای دفاع از خود ندارد.

۷- د اوربند يا د سولې له بيرغ يا د دښمن يا د ملګرو ملتونو له بيرغ، نښان يا يونيفورم يا د ژنيو د کنوانسيونونو له مشخصه علايمو څخه، پداسې توګه چې د اشخاصو د مړينې يا شديد زيان سبب شي ناوړه استفاده.

۷- سوء استفاده از بيرق آتش بس يا صلح يا بيرق، نشان يا يونيفورم دشمن يا سازمان ملل متحد يا علايم مشخصهٔ کنوانسيون های ژنيو، به طوری که سبب مرگ يا آسيب شديد اشخاص شود.

۸- د اشغال شوي هېواد قلمرو ته د اشغالګر هېواد له قلمرو څخه د غير نظامي جمعيت ديوې برخې مستقيم يا غير مستقيم انتقال يا د اشغال شوي هېواد له جمعيت څخه د هېواد په دننه کې دټولې يوې برخې انتقال يا له اشغال شوي هېواد څخه بهرته د هغو اخراج.

۸- انتقال مستقيم يا غير مستقيم بخشی از جمعيت غير نظامی کشور اشغالگر به قلمرو کشور اشغال شده، يا انتقال تمامی يا بخشی از جمعيت کشور اشغال شده در داخل کشور يا اخراج آنها به خارج از کشور اشغال شده.

۹- دهغو ودانيو چې مذهبي، زده‌کړه ييزو، هنري، علمي يا خيريه موخو ته اختصاص شوي دي او دښوونځيو، جوماتونو، او مدارسو او نورو متبرکه

۹- هدايت عمدی حملات عليه ساختمان های که به اهداف مذهبی، آموزشی، هنری، علمی يا خيريه اختصاص داده شده و شامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

اماکنو، تاریخي ودانیو(بناګانو)، روغتونونو او هغو مکانونو په شمول چې ناروغ یا ټپي اشخاص هلته را ټولېږي، پرخلاف دعمدي حملو هدایت. پدې شرط چې دغه ځایونه نظامي موخې نه وي.

مکاتب، مساجد، مدارس وسایر اماکن متبرکه، بناهای تاریخی، شفاخانه ها و مکان‌های جمع آوری اشخاص بیمار یا مجروح، می گردد. مشروط بر این که این محلات اهداف نظامی نباشد.

۱۰- د هغۀ شخص د بدن د غړي پرې کول چې د دښمن ځواک تر سلطې لاندې دی یا پر هغۀ باندې د هر ډول طبي یا علمي ازمایښتونو تر سره کول چې له طبي، د غاښونو د طب یا د روغتون د درملنې له نظره د نظر وړ فرد د توجیه وړ نه وي او یا د هغۀ ترسره کول هغۀ ته کومه ګټه ونلري او د شخص د مړینې یا یې د سلامت په خطر کې د اچولو سبب وګرځي.

۱۰- قطع عضو بدن شخص که تحت سلطه نیروی متخاصم قرار دارد یا انجام هرگونه آزمایش های طبی یا علمی بالای وی که از نظر طبی، طب دندان یا تداوی شفاخانه فرد مورد نظر قابل توجیه نباشد و یا انجام آن منفعت برای وی در بر نداشته باشد و سبب مرگ یا به مخاطره انداختن سلامت شخص گردد.

۱۱- په خاینانه او بې رحمانه صورت په متخاصم هېواد یا نظامي ځواکونو پورې د اړوندو افرادو وژل یا ټپي کول.

۱۱- کشتن یا زخمی ساختن افراد متعلق به کشور یا نیرو های نظامی متخاصم به صورت خاینانه وبیرحمانه.

۱۲- د دې مطلب اعلان چې هېڅوک به په امن کې نه وي.

۱۲- اعلان این مطلب که هیچ کسی در امان نخواهد بود.

۱۳- د دښمن د مالونو تخریب یا

۱۳- تخریب یا ضبط اموال دشمن،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضبطول، خو دا چې جنګي ضرورتونه دغه شان تخريب يا ضبط ايجاب کړي.

۱۴- په محاکمو کې د متخاصم اړخ د اتباعو د حقوقو او حقوقي اقداماتو د لغوکولو، تعليق يا نه اعتبار اعلام.

۱۵- د هغوی د خپل هېواد پر خلاف په جنګي عملياتوکې په ګډون دمتخاصم هېواد د اتباعو مجبورول حتي که چېرې هغوی د جنګ له پيل څخه د مخه د متخاصم هېواد په خدمت کې وي.

۱۶- د بنار يا ځای غارت او چور کول که څه هم چې هغه ځای د حملې په وسيله اشغال شوی وي.

۱۷- د زهرو يا زهري وسلو کارول (په کار اچول).

۱۸- د خپه کوونکو، زهري ګازونو يا نورو ګازونو او ټولو ورته (مشابه) مايعاتو، موادو يا ابزارو کارول.

۱۹- له هغو مردکيو (مرميو) څخه استفاده چې په اسانۍ سره د انسان په بدن کې منبسطې يا خپرېږي لکه د سخت پوښ لرونکو مرميو په شان چې په بشپړه توګه د مرمۍ مرکزي برخه نه

مگراين که ضرورت‌های جنگی چنين تخريب يا ضبط را ايجاب نمايد.

۱۴- اعلام الغا، تعليق يا عدم اعتبار حقوق و اقدامات حقوقی اتباع طرف متخاصم در محاکم.

۱۵- وادار نمودن اتباع کشور متخاصم به شرکت در عمليات جنگی بر عليه کشور خود شان حتی اگر آنان پيش از شروع جنگ در خدمت کشور متخاصم بوده باشند.

۱۶- غارت وچپاول شهر يا محل، گرچه آن محل به وسيله حمله اشغال شده باشد.

۱۷- به کارگيری زهر يا سلاح‌های زهری.

۱۸- به کارگيری گازهای خفه کننده، زهری يا ساير گاز ها وتمامی مايعات، مواد يا ابزار مشابه.

۱۹- استفاده از مرمی هايی که به آسانی در بدن انسان منبسط يا پخش می‌شوند مانند مرمی های دارای پوش سخت که بطور کامل قسمت مرکزی مرمی را نمی پوشاند يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښي يا د سوري په را منځته کولو سره په بدن کې نفوذ کوي.

۲۰- د وسلې، راکټ، جنګي موادو د روشونو کارول چې طبیعتاً د اضافي ټپونو یا بې موږده درد او رنځ د رامنځته کېدو سبب شي یا ذاتاً د نه کنترول وړ وي او د وسله والو شخړو د بین المللي قوانینو ناقض وي.

پدې شرط چې د هغو کارول په کلي توګه ممنوع وي او د بین المللي جزایي دیوان د اساسنامې د الحاقي ضمیمې په ۱۲۱ او ۱۲۳ موادو کې په درج شوو حکمونو پورې د اړوندو تعدیلاتو له لارې شوي وي.

۲۱- پر انساني کرامت تجاوز، په خاص تحقیروونکي او توهینوونکي چلندونه.

۲۲- جنسي تجاوز، جنسي برده ګیري، په جنسي فحشاء اجبار، اجباري حاملګي، اجباري عقیمول یا هر ډول جنسي تاوتریخوالی (خشونت) چې د ژنیو د کنوانیسونونو د جدي نقض موجب شي.

با ایجاد شگاف در بدن نفوذ می کند.

۲۰- به کارگیری سلاح، راکت، مواد و روش‌های جنگی که طبیعتاً سبب ایجاد جراحات اضافی یا درد و رنج بی مورد شود یا ذاتاً غیر قابل کنترول بوده و ناقض قوانین بین المللی منازعات مسلحانه باشند.

مشروط براین که به کارگیری آنها به کلی ممنوع بوده و از طریق تعدیلات مربوط به احکام مندرج مواد ۱۲۱و۱۲۳ ضمیمه الحاقی اساسنامه دیوان جزایی بین المللی شده باشند.

۲۱- تجاوز به کرامت انسانی، خصوصاً رفتار های تحقیرآمیز و توهین آمیز.

۲۲- تجاوز جنسی، برده گیری جنسی، اجبار به فحشای جنسی، حاملگی اجباری ، عقیم سازی اجباری یا هرنوع خشونت جنسی که موجب نقض جدی کنوانسیون های ژنیو گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۳- د نظامي عملياتو په وړانـدې د ټاکلو (معينو) نقطو، محلاتو يا نظـامي ځواکونو د خوندي سـاتلو لپـاره د غير نظامي اشخاصو يا نورو ساتل شوو (حفاظت شوو) اشخاصو لـه حضـور څخه استفاده.

۲۳- استفاده از حضـور اشـخاص غيـر نظـامی يـا سـاير اشـخاص محافظـت شـده، جهـت مصـون نگهداشتن نقاط، محلات يا نيروهـای نظـامی معـين، درمقابـل عمليـات نظامی.

۲۴- د ودانيو، وسايلو، واحدونو او د طبي نقليه وسايطو او هغو اشخاصو پر خلاف چې له بين الملل حقوقو سـره سم، د ژنيو د کنوانسيونونو مشـخص نښانونه کاروي، دحملو عمدي هدايت.

۲۴- هدايت عمدی حمـلات عليـه ساختمان‌ها، وسايل، واحدها و وسايط نقليهٔ طبی، واشخاصی که نشان‌هـای مشخص کنوانسيون های ژنيو را مطابق حقوق بين الملل به کار می‌برند.

۲۵- د جنګي روش په توګه پر غيـر نظاميانو له حياتي موادو څخه چـې د هغوی د بقا لپاره اړين (ضروري) دي د دغو اشخاصو د محرومولو په وسيله د لوړې تحميلـول، لکـه د ژنيـو پـه کنوانسيونونو کې د پېشـبيني شـوو امدادي مرستو له رسېدو څخه د پخپل سر مخنيوي په شان.

۲۵- تحميـل عمـدی گرسـنگی برغير نظاميان به حيث روش جنگی به وسيله محروم ساختن اين اشـخاص از مواد حياتی که براي بقای آنها ضروری است، از قبيل جلوگيری خود سرانه از رسيدن کمک های امدادی پيشـبينی شـده درکنوانسـيون هـای ژنيو.

۲۶- په وسله والو ځواکونو کې تـر ۱۵ کلني سن لاندې د اطفالو، اجباري يا داوطلبانه استخدام يا په مخاصـماتو کې د فعال ګډون لپاره د هغوی کارول

۲۶- اسـتخدام اجبـاری يـا داوطلبانهٔ اطـفال زيـر سـن ۱۵، در نيرو های مسلح يا بکار گرفتن آنان بـرای مشـارکت فـعال در

(c) ketabton.com: The Digital Library

(په کارکمارل).

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو جرمونو مرتکب په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- له ۱ تر ۱۱ پورې اجزاووکې له درج شوو جرمونو څخه ديوۀ د ارتکاب په صورت کې، په ۱درجه دوام حبس.

۲- له ۱۲ تر ۲۰ پورې اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه ديوۀ د ارتکاب په صورت کې په ۲درجه دوام حبس.

۳- له ۲۱ تر ۲۶ پورې اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ د ارتکاب په صورت، کې له لسو کلونو څخه زيات په طويل حبس.

د جنګي جرمونو نور موارد

۳۴۰ ماده:

(۱) د هغو وسله والو مخاصماتو د پېښېدو په صورت کې چې بين المللي جنبه (اړخ) نلري، د هغو اشخاصو چې په شخړه کې په فعالانه توګه شريک ندي لکه د وسله والو ځواکونو غړي چې له جنګ څخه يې لاس اخيستی، د مخاصمات.

(۲) مرتکب جرايم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده قرار ذيل مجازات می‌گردد:

۱- در صورت ارتکاب يکی از جرايم مندرج اجزای ۱تا ۱۱ به حبس دوام درجه۱.

۲- در صورت ارتکاب يکی از جرايم مندرج اجزای ۱۲تا ۲۰ به حبس دوام درجه۲.

۳- در صورت ارتکاب يکی از جرايم مندرج اجزای ۲۱تا ۲۶ به حبس طويل بيش از ده سال.

سایر موارد جرایم جنگی

مادۀ ۳۴۰:

(۱) در صورت بروز مخاصمات مسلحانۀ که جنبۀ بين المللی ندارد، ارتکاب يکی از اعمال ذيل در منازعه مسلحانه، عليه اشخاصی که در منازعه مسلحانه بصورت فعالانه شرکت ندارند مانند اعضای نيروهای

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو اشخاصو چې د ناروغۍ، ټپي کېدو یا اسارت په علت یا په نورو دلایلو له جنګ څخه معذور ګڼل کېږي پر خلاف په وسله والو شخړو کې لـه لانـدې اعمالو څخه دیوۀ ارتکاب هم جنګـي جرم پېژندل کېږي:

۱- د شخص د جسمي تمامیـت پـر خلاف تاوتریخوالی لکه قتل، د غـړي پرې کول ظالمانه چلندونه یا شکنجه.

۲- د انسان کرامت ته شدید اهانت په ځانګړي توګه تحقیروونکي چلندونه.

۳- برمته کول (په ګروګان نیول).

۴- د هغې محکمې لخوا چې په قانوني توګه تشکیل شوې ده او ټول ضروري قضایي تضمینونه تأمین کړي، د دمخه صادر شوي حکم له موجودیت پرته د مجازاتو د حکم صادرول او د اعـدام اجراء.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کـې د درج شوو جرمونو مرتکب په لانـدې توګه مجازات کېږي:

۱- په ۱ جزکې له درج شوو جرمونو څخه د یوۀ د ارتکاب په صورت کـې

مسلح که دست از جنگ کشیده اند، اشخاصی کـه بـه علـت بیمـاری، مجروحیت یا اسارت یا دلایل دیگر از جنگ معذور محسوب مـی شـوند، نیـز جـرم جنگـی شـناخته می شود:

۱- خشونت علیه تمامیـت جسـمی شخص مانند قتل، قطع عضو، رفتارهای ظالمانه یا شکنجه.

۲- اهانت شدید به کرامت انسـان بخصوص رفتار های تحقیر آمیز.

۳-گروگان‌گیری.

۴- صدور حکم مجازات و اجـرای اعدام بدون موجودیت حکـم قبلـی صادر شده از طرف محکمۀ که بطور قانونی تشکیل شـده اسـت و تمـام تضمین های قضایی ضروری را تـأمین نماید.

(۲) مرتکب جرایم مندرج فقـرۀ (۱) ایـن مـاده قـرار ذیـل مجـازات می‌گردد:

۱- در صورت ارتکاب یکی از جرایم منـدرج جـزء ۱ بـه حـد اکثـر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې قانون‌کې د درج شوي ارتکابي جرم د مجازاتو په اکثر حد.

۲- په ۲ او ۳ اجزاوو کې له درج شوو جرمونو څخه د يوۀ د ارتکاب په صورت کې، له لسو کلونو څخه زيات په طويل حبس.

۳- په ۴ جزء کې د درج شوي جرم د ارتکاب په صورت کې، د طويل حبس په اکثر حد او داعدام دحکم دصادرېدو په صورت کې، په۱درجه دوام حبس او دهغو د اجراء په صورت کې په اعدام.

څلورم فصل

د دولت پر وړاندې تجاوز

د دولت پر وړاندې د تجاوز جرم

۳۴۱ ماده:

(۱) د هغۀ شخص په واسطه چې د يوۀ دولت سياسي يا نظامي قدرت رهبري کوي له لاندې اعمالو څخه د يوۀ ارتکاب او د هغۀ ماهيت، شدت او پراخوالي ته په کتو سره د ملګرو ملتونو د سازمان د منشور د حريم د صريح،

مجازات جرم ارتکابی مندرج این قانون.

۲- در صورت ارتکاب یکی از جرایم مندرج اجزای ۲ و ۳، به حبس طویل بیش از ده سال.

۳- در صورت ارتکاب جرم مندرج جزء ۴ به حد اکثر حبس طویل و در صورت صدور حکم اعدام، به حبس دوام درجه۱ و در صورت اجرای آن به اعدام.

فصل چهارم

تجاوز علیه دولت

جرم تجاوز علیه دولت

مادۀ ۳۴۱:

(۱) ارتکاب یکی از اعمال ذیل توسط شخصی که قدر ت سیاسی یا نظا می یک دولت را رهبری می‌کند و نظر به ماهیت، شدت و گستردگی آن موجب نقض صریح منشور سازمان ملل گردد، جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

نقض موجب شي، د دولت پروړاندې د تجاوز جرم پېژندل کېږي:

۱- د يوۀ دولت د وسله والو ځواکونو حمله يا يرغل د بل دولت پر قلمرو يا هر ډول نظامي اشغالول که څه هم په مؤقته توګه، چې له دغه شان حملې يا يرغل څخه راپيدا شوي وي يا له زور څخه په استفادې د بل دولت د ځمکې کلي يا جزيي هر ډول الحاق.

۲- د يوۀ دولت د وسله والو ځواکونو په واسطه د بل دولت د قلمرو بمباران يا د يوۀ دولت په وسيله د بل دولت د قلمرو پر ضد له هر ډول وسلې څخه استفاده.

۳- د بل دولت د وسله والو ځواکونو په واسطه د يوۀ دولت د بندرونو يا سواحلو محاصره.

۴- د بل دولت د ځمکنيو، دريايي يا هوايي ځواکونو پر خلاف د يوۀ دولت د وسله والو ځواکونو حمله.

۵- د يوۀ دولت له نظامي ځواک څخه استفاده چې د بل دولت په قلمرو کې واقع دی، د منونکي (پذيرنده) دولت تجاوزعليه دولت، شناخته می‌شود:

۱- حمله یا تهاجم نیروهای مسلح یک دولت به قلمرو دولت دیگر یا هرگونه اشغال نظامی، ولو به صورت مؤقت، که ناشی از چنین حمله یا تهاجمی باشد یا هرگونه الحاق کلی یا جزئی سرزمین دولت دیگر با استفاده از زور.

۲- بمباران قلمرو دولت دیگر توسط نیروهای مسلح یک دولت یا استفاده از هر گونه سلاح به وسیلۀ یک دولت بر ضد قلمرو دولت دیگر.

۳- محاصرۀ بنادر یا سواحل یک دولت توسط نیروهای مسلح دولت دیگر.

۴- حمله نیروهای مسلح یک دولت علیه نیروهای زمینی، دریایی یا هوایی دولت دیگر.

۵- استفاده از نیروی نظامی یک دولت که در قلمرو دولت دیگر واقع است با موافقت دولت پذیرنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په موافقه په هغهٔ موافقه ليک کې د مقررو شرايطو پر خلاف يا د موافقه ليک د مودې له تېرېدو وروسته پدې قلمرو کې د هغوی د هر ډول حضور تمديد.

برخلاف شرايط مقرر در آن موافقت‌نامه يا هر گونه تمديد حضور آنها در اين قلمرو پس از انقضای ميعاد موافقت نامه.

۶- د يوهٔ دولت عمل چې اجازه ورکوي قلمرويې چې د بل دولت په واک (اختيار) کې ورکړي، د هغهٔ دولت په واسطه د ثالث دولت پر خلاف د تجاوز کارانه عمل لپاره تر استفادې لاندې ونيول شي.

۶- عمل يک دولت که اجازه می دهد قلمروش را که در اختيار دولت ديگر قرار داده، توسط آن دولت برای عمل تجاوزکارانه عليه دولت ثالث مورد استفاده قرار گيرد.

۷- د يوهٔ دولت لخوا يا د يوهٔ دولت په نوم د وسله والو ټولګيو (دستو)، ډلو، نامنظمو ځواکونو يا وسله والو مزدورانو استول چې د بل دولت پر خلاف، د دې مادې د (۱) فقرې په ۱ تر ۶ اجزاوو کې د درج شوو اعمالو د تشديد په منظور شبه نظامي اقدامات تر سره کوي يا له د غو اقداماتو سره بنسټيزه مرسته کوي.

۷- اعزام دسته‌ها، گروه ها، نيروهای نا منظم يا مزدوران مسلح از سوی يک دولت يا به نام يک دولت که عليه دولت ديگر، اقدامات شبه نظامی را بمنظور تشديد اعمال مندرج اجزای ۱ تا ۶ فقرهٔ (۱) اين ماده، انجام می دهند يا کمک اساسی به اين اقدامات می کند.

(۲) د دې مادې په (۱) فقره کې له درج شوو جرمونو څخه د يوهٔ مرتکب، په ۱ درجه دوام حبس محکومېږي.

(۲) مرتکب يکی از جرايم مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده به حبس دوام درجه ۱، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳) د دولت پر خلاف د تجاوز د مرتکب پر خلاف د جزايي دعوي تحريک، د هغۀ دولت چې د تجاوز مورد ګرځېدلی په شکايت پورې منوط دی.

(۳) تحریک دعوای جزایی علیه مرتکب تجاوز علیه دولت، منوط به شکایت دولتی که مورد تجاوز قرار گرفته، می باشد.

د بشريت پر خلاف په جرمونو کې د فرمان ورکوونکي مسؤوليت

مسؤولیت فرمانده در جرایم علیه بشریت

۳۴۲ ماده:

نظامي فرمانده يا هغه شخص چې د جنګ د فرماندهۍ سرپرستي پرغاړه لري دهغۀ تر امر لاندې ځواکونو په واسطه د نسل وژنې، جنګي، بشري ضد جرم او د دولت پر خلاف د تجاوز د جرم د ارتکاب په صورت کې، په يوۀ له لاندې حالاتو کې دجزايي مسؤوليت لرونکی دی، له احوالو سره سم په طويل حبس يا ۲درجه دوام حبس محکومېږي:

۱- په هغۀ حالت کې چې تر خپل امر لاندې ځواکونو د جرمي اعمالو له ارتکاب څخه خبروي او له هغو څخه مخنيوی ونکړي.

مادۀ ۳۴۲:

فرمانده نظامی یا شخصی که سرپرستی فرماندهی جنگ را به عهده دارد در صورت ارتکاب جرم نسل کشی، جنگی، ضد بشری و جرم تجاوز علیه دولت توسط نیرو های تحت امر وی در یکی از حالات ذیل دارای مسؤولیت جزایی بوده حسب احوال، به حبس طویل یا دوام درجه۲، محکوم می گردد:

۱- در حالتی که از ارتکاب اعمال جرمی نیرو های تحت امر خود آگاهی داشته و از آن جلوگیری نه نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په هغهٔ حالت کې چې اوضاع او احوالو ته په کتو سره يې کولی شواي تشخيص کړي چې د هغهٔ ځواکونه دغه جرمونه مرتکب کېږي يا د هغو د ارتکاب قصد لري.

۳- په هغهٔ حالت کې چې د دغو جرمونو له ارتکاب څخه د مخنيوي لپاره لازم تدبيرونه و نه نيسي يا په هغو کې سهل آنګاري وکړي.

۴- په هغهٔ حالاتوکې چې موضوع د بررسی او عدلي تعقيب لپاره واکمنو مراجعو ته ارجاع نکړي.

د بشريت پر خلاف په جرمونو کې دلوړو (ارشد) مقاماتو مسؤوليت

۳۴۳ ماده:

لوړ مقامات د نسل وژنې، جنګي، بشري ضد يا د دولت پرخلاف د تجاوز په جرمونو کې په يوهٔ له لاندې حالاتو کې د جزايي مسؤوليت لرونکي دي، له احوالو سره سم په طويل يا ۲درجه دوام حبس محکومېږي:

۱- په هغهٔ حالت کې چې تر خپل واک

۲- درحالتی که نظربه اوضاع و احوال، میتوانست تشخیص دهد که نیرو های وی این جرایم را مرتکب می شوند یا قصد ارتکاب آن را دارند.

۳- در حالتی که تدابیر لازم راجهت جلوگیری از ارتکاب این جرایم اتخاذ نه نماید یا در آن سهل انگاری کند.

۴- در حالتی که موضوع را به مراجع ذیصلاح جهت بررسی و تعقیب عدلی ارجاع نه نماید.

مسؤولیت مقامات ارشد درجرایم علیه بشریت

مادهٔ ۳۴۳:

مقامات ارشد در جرایم نسل کشی، جنگی، ضد بشری یا تجاوز علیه دولت در یکی از حالات ذیل دارای مسؤولیت جزایی بوده حسب احوال به حبس طویل یا دوام درجه۲، محکوم می گردند:

۱- درحالتی که از ارتکاب جرایم نسل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې اشخاصو په واسطه د نسل وژنې، جنګي، بشري ضد جرمونو يا د دولت پر خلاف د تجاوز له جرم څخه خبروي يا داچې آګاهانه د دغو جرمونو د ارتکاب په هکله يې اطلاعاتو ته اعتناء کړې نه وي.

۲- په هغو حالاتوکې چې ارتکابي جرمونه په هغو فعاليتونو پورې اړوند وي چې د هغوی تر مستقيم مسؤوليت او کنترول لاندې وي.

۳- په هغهٔ حالت کې چې لوړ مقامات، لازم اقدامات چې د هغو د توان يا واک په حيطه کې وي د دغو جرمونو د ارتکاب د مخنيوي او درولو (متوقف کولو) لپاره تر سره نکړي.

۴- په هغهٔ حالت کې چې موضوع د تحقيق او تعقيب لپاره واکمنو مقاماتو ته ارجاع نکړي.

کشی، جنگی، ضد بشری یا جرم تجاوز علیه دولت توسط اشخاص تحت صلاحیت خود مطلع بوده یا این که آگاهانه به اطلاعات در مورد ارتکاب این جرایم اعتناء نکرده باشد.

۲- درحالتی که جرایم ارتکابی مربوط به فعالیت هایی بوده که تحت مسؤولیت و کنترول مستقیم آنها قرار داشته باشد.

۳- در حالتی که مقامات ارشد، اقدامات لازم را که در توان یا در حیطه صلاحیت وی بوده، برای جلوگیری یا متوقف ساختن ارتکاب این جرایم انجام ندهد.

۴- درحالتی که موضوع را برای تحقیق و تعقیب به مقامات ذیصلاح ارجاع ننماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپيم باب
د امن او عامه نظم پروړاندې جرمونه
لومړی فصل
عمدي حريق

د عمدي حريق مجازات

۳۴۴ ماده:

(۱) هغه شخص چې ځان يا نورو ته د ضرر رسولو په مقصد عمداً منقول يا غير منقول مال ته، اور واچوي له احوالو سره سم، په قصير حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم په مړينه يا جسمي صدمې تمام شي، مرتکب پايلې ته په پام سره، پدې قانون کې درج د مرتکبه جرم په مجازاتو محکومېږي.

(۳) که چېرې اور اچول په يوۀ له لاندې ځايونو کې صورت ومومي، مرتکب په۲درجه دوام حبس محکومېږي:

باب سوم
جرايم عليه امن و نظم عامه
فصل اول
حريق عمدی

مجازات حريق عمدی

مادۀ ۳۴۴:

(۱) شخصی که عمداً مال منقول يا غير منقول را به مقصد ضرر رسانيدن به خود يا ديگران، آتش بزند، به حبس قصير، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرۀ (۱) اين ماده منجر به مرگ، يا صدمۀ جسمی گردد، مرتکب با نظرداشت نتيجه، به مجازات جرم مرتکبه مندرج اين قانون، نيز محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه آتش زدن در يکی از محلات ذيل صورت گيرد، مرتکب، به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د نظامي ځواکونو اړتیا وړ موادو یا وسلې او د هغو د ملحقاتو فابریکه او ډیپو.

۱- فابریکه و دیپوی مواد مورد ضرورت نیرو های نظامی یا اسلحه و ملحقات آن.

۲- کان (معدن)، دنفتو یا ګازو ځاه.

۲- معدن، چاه نفت یا گاز.

۳- د سون د موادو یا د احتراق وړ موادو یا چاودېدونکو (منفجره) موادو زېرمتون (ذخیره ځای).

۳- ذخیره خانه مواد سوخت یا مواد قابل احتراق و یا مواد منفجره .

۴- د حرارتي، آبي یا هسته یي بربښنا د تولید دستګاوې.

۴- دستگاه های تولید برق حرارتی، آبی یا هسته یی.

۵- دوسپنې د پټلۍ (قطار) دستګاوې، دوسپنې د پټلۍ ماشین یا هغه واګون چې د اشخاصو لرونکی وي اویا هوایي ډګر یا الوتکه اویاکښتۍ یا د هغې بندرګاه.

۵- دستگاه های قطار آهن، ماشین قطار آهن یا واگونی که حامل اشخاص باشد و یا میدان هوایی یا طیاره و یا کشتی یا بندرگاه آن.

٦- هغه ځایونه (محلات) چې عامه خلک په هغو کې استوګنه یا تک راتک ولري.

٦- محلاتی که در آن عامه مردم سکونت یا رفت و آمد داشته باشند.

۷- هغه ودانۍ (بناء) چې یوهٔ له دولتي ادارو یا تصدۍ یا عامه مؤسسو څخه هلته قرار ولري.

۷- بنائی که یکی از ادارات دولتی یا تصدی یا مؤسسه های عامه در آن قرار داشته باشد.

(۴) که چېرې د دې مادې په (۳) فقره کې د درج شوي جرم له ارتکاب څخه موخه د جنایت د ارتکاب اسانول یا د

(۴) هرگاه هدف از ارتکاب جرم مندرج فقرهٔ (۳) این ماده آسان ساختن ارتکاب جنایت یا از

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغهٔ د آثارو له منځه وړل وي، مرتکب د مرتکبه جرم پر جزا برسېره، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس هم محکومېږي.

بین بردن آثار آن باشد، مرتکب علاوه بر جزای جرم مرتکبه، به حبس متوسط تا سه سال، نیز محکوم می‌گردد.

د غير عمدي حريق مجازات

مجازات حریق غیر عمدی

۳۴۵ ماده:

مادهٔ ۳۴۵:

(۱) که چېرې د شخص د غفلت يا بې احتياطۍ له امله، د بل چا منقول يا غيرمنقول مال حريق شي، مرتکب له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۱) هرگاه به اثر غفلت یا بی احتیاطی شخص، مال منقول یا غیر منقول دیگری حریق گردد، مرتکب به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوی جرم، په مړينه يا جسمي صدمې تمام شي، مرتکب پايلې ته په پام سره، پدې قانون کې د درج شوي غير عمدي مرتکبه جرم په مجازاتو هم محکومېږي.

(۲) هرگاه جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به مرگ، یا صدمهٔ جسمی گردد، مرتکب با نظرداشت نتیجه، به مجازات جرم مرتکبه غیر عمدی، مندرج این قانون نیز محکوم می‌گردد.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم له امله، عمومي مواصلات وځنډېږي او يا مالونو ته ستر ضرر ورسېږي، مرتکب په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) هرگاه به اثر جرم مندرج فقرهٔ (۱) این ماده، مواصلات عمومی معطل گردد و یا ضرر بزرگ به اموال عاید گردد، مرتکب به حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احتراق وړ موادو انتقال

۳۴۶ ماده:

(۱) هغه شخص چې داحتراق وړ مواد، په يوۀ له ځمکنيو، آبي يا هوايي وسايطو يا په پستي وسايلو يا پارسلونو کې د اړوندو مقرراتو خلاف انتقال کړي، له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) ګاز، پترول، سلفر يا نور هغه مواد چې په اسانۍ سره اور واخلي په احتراق وړ موادو کې شامل دي.

د ځنګلونو عمدي حريق

۳۴۷ ماده:

(۱) هغه شخص چې خصوصي ځنګل ته په عمدي توګه اور واچوي، په متوسط حبس، محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې دولتي ځنګل ته په عمدي توګه اور واچوي، په طويل حبس، محکومېږي.

د څړځای (علفچر) حريق

۳۴۸ ماده:

هغه شخص چې څړځای ته اور واچوي

انتقال مواد قابل احتراق

مادۀ ۳۴۶:

(۱) شخصی که مواد قابل احتراق را در یکی از وسایط نقلیه زمینی، آبی یا هوایی یا در وسایل و پارسل های پستی خلاف مقررات مربوط انتقال دهد، به جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۲) مواد قابل احتراق شامل، گاز، پترول، سلفر یا سایر موادی است که به آسانی آتش بگیرد.

حریق عمدی جنگلات

مادۀ ۳۴۷:

(۱) شخصی که جنگل خصوصی را به صورت عمدی آتش زند، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۲) شخصی که جنگل دولتی را بصورت عمدی آتش زند، به حبس طویل، محکوم می‌گردد.

حریق علف‌چر

مادۀ ۳۴۸:

شخصی که علف چر را آتش بزند به

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پنځو زرو څخه تر دېر شو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

جزای نقدی ازپنج هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

د زیان جبران

جبران خساره

۳۴۹ ماده:

مادۀ ۳۴۹:

د دې فصل په ټولو درج شوو حالتونو کې، مرتکب د وارده زیان په جبران، هم محکومېږي.

در تمام حالات مندرج این فصل، مرتکب به جبران خسارۀ وارده، نیز محکوم می‌گردد.

دوه یم فصل

د ملکي هوایي چلند د مقرراتو د نقض جرمونه

فصل دوم

جرایم نقض مقررات هوانوردی ملکی

د اهلیت له تزویري تصدیق څخه په استفادې یا د سکر په حالت کې د الوتکې یا هلیکوپټرې الوزول

پرواز طیاره یا هلیکوپتر با استفاده از تصدیق نامۀ تزویری اهلیت یا در حالت سکر

۳۵۰ ماده:

مادۀ ۳۵۰:

(۱) هغه شخص چې د ثبت له تزویر شوي سند یا د الوتنې د اهلیت له تصدیق لیک څخه په استفادې سره الوتکه یا هلیکوپتره والوزوي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس محکومېږي.

(۱) شخصی که با استفاده از سند ثبت یا تصدیق نامۀ اهلیت پرواز تزویر شده، طیاره یا هلیکوپتر را پرواز دهد، به حبس متوسط بیش از سه سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هغه شخص چې د سکر په حا لت

(۲) شخصی که در حالت سکر طیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې الوتکه يا هليکوپتره والوزوي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې د دې مادې په (۱ او۲) فقرو کې د درج شوو جرمونو ارتکاب، په جراحت (تپ) يا بل مالي زيان تمام شي، مرتکب د متوسط حبس په اکثرحد، محکومېږي، خو دا چې پدې قانون کې، د هغو لپاره لا شديده جزا ټاکل شوې وي.

(۴) که چېرې د دې مادې په (۱ او۲) ارتکاب د مسافر يا د مسافرينو، د الوتنې د عملې يا نورو اشخاصو په مړينه تمام شي، مرتکب په طويل حبس، محکومېږي، خو دا چې پدې قانون کې، د هغو لپاره لا شديده جزا پېښبيني شوې وي.

د حکمي شخص مجازات

۳۵۱ ماده:

که چېرې د دې قانون په ۳۵۰ ماده کې درج شوی جرم د ملکي هوايي حمل او نقل د مؤسسې په نوم يا يا هليکوپتر را پرواز دهد، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می‌گردد.

(۳) هرگاه ارتکاب جرايم مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده منجر به جراحت یا زیان مالی دیگری گردد، مرتکب به حد اکثر حبس متوسط، محکوم می‌گردد، مگر این‌که در این قانون، جزای شدیدتری برای آن تعیین شده باشد.

(۴) هرگاه ارتکاب جرایم مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده منجر به مرگ مسافر یا مسافرین، عمله پرواز یا سایر اشخاص گردد، مرتکب به حبس طویل، محکوم می‌گردد، مگر این‌که در این قانون جزای شدیدتری برای آن پیشبینی شده باشد.

مجازات شخص حکمی

مادۀ ۳۵۱:

هرگاه جرم مندرج مادۀ ۳۵۰ این قانون به نام یا حساب مؤسسۀ حمل و نقل هوایی ملکی ارتکاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

حساب ارتکاب شوی وي د حقیقي شخص پر مجازاتو برسېره د ملکي هوایي حمل او نقل مؤسسه له پنځه میلیونه څخه زیات تر پنځوس میلیونه افغانیو پورې په نغدي جزا یا تر دریو میاشتو پورې د فعالیت په مؤقت تعلیق، محکومېږي.

یافته باشد علاوه بر مجازات شخص حقیقی، مؤسسهٔ حمل ونقل هوایی ملکی به جزای نقدی بیش از پنج میلیون تا پنجاه میلیون افغانی یا تعلیق مؤقت فعالیت تا سه ماه، محکوم می‌گردد.

ممنوعه سیمو ته داخلېدل

دخول در مناطق ممنوعه

۳۵۲ ماده:

(۱) هغه شخص چې قصداً د هوایي ډګر په ممنوعه حریم کې چې په مخصوصو علامو او نښو علامه ګذاري شوي وي، داخل شي، د قصیر حبس په اقل حد یا د دېرش زره افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي عمل د نورو جرمونو په ارتکاب تمام شي، مرتکب د دې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوې جزا برسېره، د مرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.

مادهٔ ۳۵۲:

(۱) شخصی که قصداً در حریم ممنوعهٔ میدان هوایی که با علایم و نشانه‌های مخصوص علامه گذاری شده باشد، داخل شود، به حد اقل حبس قصیر یا جزای نقدی سی هزار افغانی، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرهٔ (۱) این ماده منجر به ارتکاب جرایم دیگری گردد، مرتکب علاوه بر جزای مندرج فقرهٔ (۱) این ماده به جزای جرم مرتکبه، نیز محکوم می‌گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بين المللي الوتنو د مقرراتو نقض

۳۵۳ ماده:

که چېرې د هېواد د فضاء له لارې له رسمي اجازې پرته او همدارنګه د مجازو مشخصو مسيرونو، رابنکته کېدو د ځايونو، هوايي دروازو، د الوتنې د ارتفاع په نه رعايت يا د بين المللي الوتنو له مقرراتو څخه په نورو سرغړونو سره واردېدل يا خارجېدل صورت وموم، مرتکب يې د متوسط حبس په جزا محکومېږي.

نقض مقررات پرواز های بین المللی

مادۀ ۳۵۳:

هرگاه ورود و خروج از طریق فضای کشور بدون اجازۀ رسمی و عدم رعایت مسیر های مشخص مجاز، محلات فرود آمدن دروازه های هوایی ارتفاع پرواز یا سایر تخلفات از مقررات پرواز های بین المللی صورت گیرد، مرتکب آن به جزای حبس متوسط، محکوم می گردد.

درېيم فصل

د عامه خدمتونو د مؤظفينو پر خلاف تجاوز

فصل سوم

تجاوز علیه مؤظفین خدمات عامه

د عامه خدمتونو د مؤظف پر خلاف تجاوز يا په هغۀ پيل

۳۵۴ ماده:

هغه شخص چې د عامه خدمتونو د مؤظف پرخلاف د قوې، شدت، تخويف يا تهديد په استعمال سره تجاوز

تجاوز یا شروع به آن علیه مؤظف خدمات عامه

مادۀ ۳۵۴:

شخصی که علیه مؤظف خدمات عامه با استعمال قوه، شدت، تخویف یا تهدید، تجاوز کند یا به تجاوز

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړي يا په تجاوز پيل (شروع) وکړي، په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا او يا په دواړو جزاګانو، محکومېږي.

د عامه خدمتونو د مؤظف دوام دار تعقيب، د کور يا د دندې د ځای په خوا کې توقف (دربدل)

۳۵۵ ماده:

(۱) هغه شخص چې د عامه خدمتونو مؤظف د تهديد يا د دندې له اجراء څخه د هغهٔ د منع به مقصد په دوامدار تعقيب، دکور په خواکې په دربدو يا په يو ډول نه يو ډول تر تجاوز لاندې ونيسي په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې مرتکب، د عامه خدمتونو مؤظف وي د دې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوې جزا برسېره له مسلک څخه په طرد يا له دندې څخه په انفصال، هم محکومېږي.

شروع نمايد، به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی و يا به هردو جزا، محکوم می گردد.

تعقيب دوام دار، توقف در جوار منزل يا محل وظيفهٔ مؤظف خدمات عامه

مادهٔ ۳۵۵:

(۱) شخصی که مؤظف خدمات عامه را با تعقيب دوامدار، توقف در جوار منزل يا محل وظيفه او به قصد تهديد و يا منع او از اجرای وظيفه به نحوی از انحا مورد تجاوز قرار دهد به حبس قصيريا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه مرتکب، مؤظف خدمات عامه باشد علاوه برجزای مندرج فقرهٔ (۱) اين ماده به طرد از مسلک يا انفصال از وظيفه، نيز محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دضرب يا ټپ په پايلې سره تجاوز

۳۵۶ ماده:

که چېرې د عامه خدمتونو د مؤظف پرخلاف د شخص مقاومت او تجاوز، د عامه خدمتونو د مؤظف په ضرب يا ټپ تمام شي، مرتکب په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

دايمي معلوليت يا د کار له ترسره کولو څخه دمجني عليه عجز

۳۵۷ ماده:

(۱) که چېرې د دې قانون په ۳۵۶ ماده کې د درج ضرب يا ټپ له املې مجني عليه له شلو ورځو څخه د زياتې مودې لپاره د کار له ترسره کولو عاجز پاتې شي، مرتکب تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومېږي.

(۲) که چېرې ضرب او ټپ په دايمي معلوليت تمام شي يا له دمخه ترصد او اصرار سره يوځای وي يا د وسلې په حمل او يا له دوو تنو څخه د زياتو

تجاوز منتج به ضرب يا جرح

مادۀ ۳۵۶:

هرگاه مقاومت يا تجاوز شخص عليه مؤظف خدمات عامه، منجر به ضرب يا جرح وی گردد، مرتکب به حبس متوسط يا جزای نقدی از شصت هزار تا سه صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

معلوليت دايمی يا عجز از انجام کار مجنی عليه

مادۀ ۳۵۷:

(۱) هر گاه به اثر ضرب يا جرح مندرج مادۀ ۳۵۶ اين قانون مجنی عليه برای مدت بيش از بيست روز از انجام کار عاجز ماند، مرتکب به حبس متوسط تا دو سال، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه ضرب يا جرح به معلوليت دايمی منجر گردد يا توام با ترصد و اصرار قبلی باشد يا با حمل سلاح و يا از جانب بيش از دو نفر صورت گرفته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لخوا يې صورت موندلی وي، مرتکب په طويل حبس، محکومېږي.

د عامه خدمتونو د مؤظف توهين

۳۵۸ ماده:

(۱) هغه شخص چې په اشاره، قول يا فعل سره يا په بلـــه وســـيله د عامـــه خدمتونو مؤظف د دندې د اجراء پـــر وخت يا د هغې د اجراء له امله توهين کړي، له پنځو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا، محکومېږي.

(۲) هغه شخص چې قاضي يا قضـــاء ددندې په ارتباط توهين کـــړي، پـــه متوسط حبس محکومېږي.

(۳) د دولت د مؤظفينو يا سياسي مقام له اجراآتو څخه راپيدا شوی انتقـــاد او اعتراض د دې مادې په (۱ او۲) فقرو کې له درج شوو حکمونو څخه مستثني دي.

د دروغ اطلاع په واسطه د عامـــه خدمتونو د مؤظف مضطربول

۳۵۹ ماده:

هغه شخص چې د عامه خدمتونو مؤظف باشد، مرتکب به حبس طويل محکوم، می گردد.

توهين مؤظف خدمات عامه

مادۀ ۳۵۸:

(۱) شخصی که به اشاره، قول يا فعل يا وسيلۀ ديگر مؤظف خدمات عامه را حين اجرای وظيفه و يا به سبب اجرای آن توهين نمايد، به جزای نقدی از پنج هزار تا سی هزار افغـــانی، محکـــوم می گردد.

(۲) شخصی که قاضی يا قضاء را بـــه ارتباط وظيفه توهين نمايد، به حـــبس متوسط محکوم می گردد.

(۳) انتقـــاد واعتـــراض ناشـــی از اجراآت مؤظفين دولـــت يـــا مقـــام سياسی از احکام مندرج فقـــره هـــای (۱ و۲) ايـــن مـــاده مســـتثنی می باشد.

مضطرب نمودن مؤظف خـــدمات عامه توسط اطلاع دروغ

مادۀ ۳۵۹:

شخصی که مؤظف خدمات عامه را به

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دروغ اطلاع یا د حقیقت خلاف عریضو یا په بل ډول سره د هغو پېښو اومصایبو له پېښېدو څخه چې اصلاً واقعیت ونلري دهغو په نه واقعیت دعلم د لرلو با وجود په اضطراب کې واچوي، په قصیر حبس یا له شلو زرو څخه تر شپیتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا او د وارده زیان په جبران، محکومېږي.

څلورم فصل

په مواصلاتو او مخابراتو پورې اړوند جرمونه

له خطر سره د عامه مواصلاتو د وسایلو د سلامت مخامخ کول

۳۶۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې عمداً د ځمکنیو یا آبي (د اوبو) یا د وسپنې پټلۍ د موتور لرونکو مواصلاتي وسایلو، مسیر، محوطې، تأسیساتو یا بنستونو (زېربناوو) سلامت له خطر سره مخامخ کړي یا هغه عاطل کړي، له احوالو سره سم په

اطلاع دروغ یا عرایض خلاف حقیقت یا به نحوی دیگری از وقوع حوادث و مصایبی که اصلاً واقعیت نداشته باشد با وجود علم به عدم واقعیت آن به اضطراب اندازد، به حبس قصیر یا جزای نقدی از بیست هزار تا شصت هزار افغانی و جبران خسارهٔ وارده، محکوم می گردد.

فصل چهارم

جرایم مربوط به مواصلات و مخابرات

مواجه نمودن سلامت وسایل مواصلات عامه به خطر

مادهٔ ۳۶۰:

(۱) شخصی که عمداً سلامت وسایل، مسیر، محوطه، تأسیسات یا زیربناهای مواصلاتی عامه موتور دار زمینی یا آبی یا راه آهن را به خطر مواجه گرداند یا آن را عاطل سازد، حسب احوال به حبس متوسط یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

متوسط حبس يا طويل حبس، محکومپږي.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اعمالو ارتکاب د شخص په جراحت تمام شي، مرتکب په طويل حبس او د مړينې په صورت کې، له احوالو سره سم په ۲درجه دوام حبس يا ۱درجه دوام حبس، محکومپږي.

حبس طويل، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه ارتکاب اعمال مندرج فقرۀ (۱) این ماده منجر به جراحت شخص گردد، مرتکب به حبس طويل ودر صورت مرگ، حسب احوال به حبس دوام درجه۲ يا حبس دوام درجه۱، محکوم می گردد.

د بې احتياطۍ له امله د وسايلو سلامت له خطر سره مخامخ کول

به خطر مواجه نمودن سلامت وسايل به اثر بی احتياطی

۳۶۱ ماده:

مادۀ ۳۶۱:

(۱) هغه شخص چې د بې احتياطۍ له امله د ځمکنيو، آبي يا د وسپنې د پټلۍ د موتور لرونکو عامه مواصلاتي وسايلو، مسير، محوطې، تأسيساتو يا بنسټونو سلامت له خطر سره مخامخ کړي، تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس، محکومپږي.

(۱) شخصی که به اثر بی احتياطی، سلامت وسايل مسير، محوطه، تأسيسات يا زير بنا های مواصلاتی عامه موتور دار زمينی يا آبی يا راه آهن را به خطر مواجه گرداند، به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می گردد.

(۲) که چېرې د دې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو اعمالو ارتکاب، د شخص په شديده جسمي صدمه تمام

(۲) هرگاه ارتکاب اعمال مندرج فقرۀ (۱) اين ماده منجر به صدمه شديد جسمی شخص گردد مرتکب به حبس

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، مرتکب له دريو کلونو څخه زيات په متوسط حبس اودمړينې په صورت کې دمتوسط حبس په اکثرحد، محکومېږي.

متوسط بیش از سه سال و در صورت مرگ به حداکثر حبس متوسط، محکوم می‌گردد.

د وسپنې د پټلۍ جرمونه

۳۶۲ ماده:

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د يوۀ مرتکب شي په قصير حبس محکومېږي:

۱- هغه عمل چې د وسپنې د پټلۍ په مسير، محوطه، تأسيساتو يا بنسټونو کې د مسافرينو مالونو ته د زيان لامل شي.

۲- هغه عمل چې د وسپنې د پټلۍ د اداري يا د ترمينلونو او تم ځايونو د مسؤولينو له ليکلې اجازې پرته، ايمني دروازې پرانيزي او د عراده جاتو، حيواناتو او اشخاصو په تېرېدو سره د وسپنې پټلۍ يا د وسپنې د پټلۍ قطار ته د خطر او ضرر د رامنځته کېدو لامل شي.

۳- هغه عمل چې د مسافربرۍ او باربرۍ د وسپنې په پټلۍ د قطار خطونو

جرایم راه آهن

مادۀ ۳۶۲:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد به حبس قصیر، محکوم می گردد:

۱- عملی که در مسیر، محوطه، تأسیسات یا زیر بنا های راه آهن باعث آسیب به اموال مسافرین گردد.

۲- عملی که بدون اجازۀ کتبی ادارۀ راه آهن یا مسؤولین ترمینل ها و ایستگاه ها، دروازه های ایمنی را باز و با عبور عراده جات، حیوان ها و اشخاص، باعث بروز خطر و ضرر به راه آهن و یا قطار راه آهن گردد.

۳- عملی که به خطوط، ترمینل ها، تجهیزات و اموال منقول و غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کرښو)، ترمینلونو، تجهیزاتو، منقولو او غیر منقولو مالونو، کارکوونکو او وسپنې په پټلۍ پورې اړوندو نورو چارو ته خطر یا ضرر وارد کړي.

منقول، قطار راه آهن مسافربری وباربری،کارکنان وسایرامور مربوط به راه آهن، خطر یا ضرری را وارد نماید.

له تزویري سندونو څخه استفاده

استفاده از اسناد تزویری

۳۶۳ ماده:

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، له دریو کلونو څخه زیات په متوسط حبس، محکومېږي:

۱- د جوازلیک د اخیستلو په منظور د تزویري سندونو وړاندې کول.

۲- د چلونې په تزویري جواز سره د ریل چلول.

مادۀ ۳۶۳:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس متوسط بیش از سه سال، محکوم می گردد:

۱- ارایه اسناد تزویری بمنظور اخذ جوازنامه .

۲- راندن ریل با جواز رانندگی تزویری.

د تشخیصیه علامې، نښې یا جعلي لوحې نصب یا د هغو بدلول یا ویجاړول

نصب علامه، نشانۀ تشخیصیه یا لوحۀ جعلی یا تغییر یا تخریب آن

۳۶۴ ماده:

هغه شخص چې له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، په قصیر حبس محکومېږي:

۱- د وسپنې په پټلۍ (لار) کې د جعلي تشخیصیه علامې، نښې یا لوحې نصب.

مادۀ ۳۶۴:

شخصی که مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس قصیر، محکوم می گردد:

۱- نصب علامه، نشان تشخیصیه یا لوحۀ جعلی در راه آهن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د وسپنې د پټلۍ په سیستم کې د تشخیصیه علامې، نښې، لوحې او د استفادې وړ سندونو، د ایمنۍ او لارښوونې دشرایطو بدلول یا ویجاړول.

۲- تغییریا تخریب علامه، نشان تشخیصیه، لوحه و اسناد مورد استفاده، شرایط ایمنی و رهنمایی در سیستم راه آهن.

د مخابراتو د سیستم ویجاړول

۳۶۵ ماده:

هغه شخص چې عمداً په یو ډول نه یو ډول دمخابراتو سیستم ویجاړ کړي، په قصیر حبس، محکومېږي.

تخریب سیستم مخابرات

مادۀ ۳۶۵:

قضايي يا اداري مراجعو ته د دروغ اطلاع وړاندې کول

۴۷۷ ماده:

هغه شخص چې د واقعيت په خلاف د علم با وجود، له قضايي، اداري مراجعو څخه يوې يا دعامه خدمتونو له مؤظفينو څخه يوۀ ته، له وسايلو په يوه سره د ستر مصيبت، حادثې يا خطر له واقع کېدو څخه دروغ اطلاع ورکړي، تردوو کلونو پورې په متوسط حبس يا له شپېتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

ارایه اطلاع دروغ به مراجع قضایی یا اداری

مادۀ ۴۷۷:

شخصی که با وجود علم به خلاف واقعیت، یکی از مراجع قضایی، اداری یا یکی از مؤظفین خدمات عامه را بیکی از وسایل از وقوع مصیبت بزرگ، حادثه یا خطر اطلاع دروغ بدهد، به حبس متوسط تا دو سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا سه صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

د عامه خدمتونو د مؤظف لخوا کذب اطلاع

۴۷۸ ماده:

هغه شخص چې په رسمي صفت د عامه خدمتونو له مؤظفينو څخه د يوۀ په اطلاع قانوناً مکلف شوی وي او هغه ته دروغ اطلاع ورکړي اوهربل شخص چې په رسمي صفت د عامه خدمتونو له مؤظفينو څخه يوۀ ته پداسې شيانو اطلاع ورکړي چې د هغو په کذب علم

اطلاع کذب از طرف مؤظف خدمات عامه

مادۀ ۴۷۸:

شخصی که به صفت رسمی به اطلاع یکی از مؤظفین خدمات عامه قانوناً مکلف شده باشد و به او اطلاع دروغ بدهد و هر شخص دیگری که به صفت رسمی یکی از مؤظفین خدمات عامه را به اشیای اطلاع دهد که به کذب آن علم داشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولري او له هغې څخه مقصد د وجايبو پرخلاف د دندې اجراء يا ډډه کولو ته مجبورول وي پداسې ډول چې کــه د عامه خدمتونو مؤظف تــه د واقعــې حقيقت معلوم وي هغه يې په درســته (سمه) توګه ترسره کوله، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس يا له شپيتو زرو څخه تر درې سوه زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

باشد و مقصد از آن مجبور ساختن به اجرای وظیفه یا امتناع از آن بر خلاف وجایب باشــد طــوری کــه اگــر حقیقت واقعه به مؤظف خدمات عامه معلوم می بود آنرا به نحو درست انجام می داد، به حبس متوسط تا دو سال یا جزای نقدی ازشصــت هــزار تــا سه صــد هــزار افغــانی، محکــوم می گردد.

د اطلاع ورکوونکي عــدلي نــه تعقيب او د زيان جبران

عدم تعقیب عدلی اطــلاع دهنــده وجبران خساره

۴۷۹ ماده:

(۱) هغه شخص چې قضايي يــا اداري مراجعو ته په صدق سره او له سوء نيت پرته د داسې عمل په ارتکاب اطــلاع ورکړي چې د هغــۀ فاعــل د جــزا مستوجب وي، نه مجازات کېږي.

(۲) هغه شخص چې د اداري يا قضايي مراجعو ته په سوءنيت سره د پېښې پر پېښېدو يا د جرم پرارتکاب اطــلاع ورکړي، پدې فصل کې پر درج شوو مجازاتو برسېره د ترسره شوو اجراآتو د

مادۀ ۴۷۹:

(۱) شخصی که مراجع قضایی یا اداری را به صدق و بدون سوء نیت به ارتکاب عملی اطــلاع دهــد کــه فاعــل آن مســتوجب جــزا باشــد، مجــازات نمی گردد.

(۲) شخصی کــه مراجــع اداری یــا قضایی را با سوء نیت به وقوع حادثه یا ارتکاب جرم اطلاع دهد، عــلاوه بــر مجازات مندرج این فصل بــه جبــران مصــارف اجــراآت انجــام شــده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لګښتونو په جبران، هم محکومېږي.

په ټاکلي وخت کې لـه اطـلاع ورکونې څخه ډډه کول

۴۸۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې قانونـاً د عامـه خدمتونو له مؤظفینو څخه یوهٔ ته د یوهٔ امر په اطلاع مکلف وي او په مطلوب کیفیت او په قانوني وخت کې د هغهٔ له اطلاع څخـه عمـداً ډډه وکـړي د دووکلونو په متوسط حبس یا له شپیتو زرو څخه تر یوسلوشـلو زرو افغـانیو پورې په نغدي جزا محکوکېږي.

(۲) که چېرې د عامه خدمتونو مؤظف چې د جرمونو په کشف او د مجرم په نیونې توظیف شوی او نومورو جرمونو په اطلاع کې له علم وروسته اهـمال وکړي، ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوې جزا محکومېږي. پدې شرط چې په نومورې جرم کې د دعوي تقدیم په شکایت پورې متعلق نه وي یا مجرم د عامه خدمتونو د مؤظف زوج یا لـه اصولو یا فروعو څخه یو یا یې ورور یا نیز محکوم می گردد.

امتناع از اطلاع دهـی در وقـت معین

مادهٔ ۴۸۰:

(۱) شخصی که قانوناً به اطلاع یـک امر به یکی از مؤظفین خدمات عامـه مکلف باشد و ازاطلاع آن به کیفیـت مطلوب و در وقت معین قانونی عمداً امتناع ورزد، به حبس متوسط دو سال یا جزای نقـدی ازشصـت هزارتـا یکصد وبیست هزار افغانی، محکـوم می گردد.

(۲) هرگاه مؤظف خدمات عامه که به کشف جـرایم و گرفتـاری مجـرم توظیـف گردیـده و در اطـلاع جرایم مذکور بعد از علـم اهـمال ورزد، بـه جـزای منـدرج فقـرهٔ (۱) این ماده محکـوم مـی گـردد. مشروط براینکـه در جـرم مـذکور تقدیم دعـوی متعلـق بـه شـکایت نباشد یا مجرم زوج یا یکی از اصول یا فروع یا برادر یا خواهر یا از محـارم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خور يا د عامه خدمتونود مؤظف د مصاهرت له محارمو څخه وي.

څلورم فصل

د دروغو شهادت او د هغهٔ مجازات

د دروغو د شهادت موارد

۴۸۱ ماده:

که چېرې شاهد د محکمې په وړاندې يا د قضايي ضبط د مامورينو په وړاندې د سوګند له اداء کولو وروسته عمداً د باطل په اظهار، د حق په انکار، د هغو وقايعو د ټولو يا ځينو پر پوښلو (پټولو) چې د هغو په هکله شهادت اداء کوي لاس پورې کړي د هغهٔ شهادت، دروغ پېژندل کېږي.

د دروغو د شهادت مجازات

۴۸۲ ماده:

(۱) هغه شخص چې په يوهٔ جرم د تورن په ګټه يا ضرر په دروغو شهادت اداء کړي تر دووکلونو پورې په متوسط حبس يا لـه شـپېتو زرو څخـه تـر مصاهرت مؤظف خدمات عامه باشد.

فصل چهارم

شهادت دروغ و مجازات آن

موارد شهادت دروغ

مادهٔ ۴۸۱:

هرگاه شاهد بعد از ادای سوگند قانونی در پیشگاه محکمه یا نزد مامورین ضبط قضایی عمداً به اظهار باطل، انکار حق، پوشیدن تمام یا بعضی از وقایعی که در مورد آن شهادت ادا می نماید، بپردازد، شهادت وی، دروغ شناخته می شود.

مجازات شهادت دروغ

مادهٔ ۴۸۲:

(۱) شخصی که در یک جرم به نفع یا ضرر متهم به دروغ شهادت اداء نماید، به حبس متوسط تا دو سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسلوشلو زرو افغانيو پورې په نغـــدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې د دروغو د شهادت لـــه امله تورن محکوم علیه ګرځېـــدلی وي شاهد د هغه جرم په پیشبیني شوي جزا محکومېږي چې پر محکوم علیه باندې صادره شوې ده.

(۳) هغه شخص چې په غیـــر جزایـــي دعوي کې او یا د قضـــایي ضـــبط د مامورینو په وړاندې د دروغو شهادت اداء کړي، په قصیر حبس یا له لســـو زرو څخه تر شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

د بخشش غوښتنه یا منـــل یـــا د وعدې اخیستل

۴۸۳ماده:

هغه شخص چې د دروغو شـــهادت د اداء په منظور، پیسې، مال یا بل منفعت وغواړي یا د هغو بخشش یـــا وعـــده واخلي او یا ومني دی (هغه) او هغـــه شخص چې بخشش یا وعده یې ورکړې او یایې په هغو کې وساطت کـــړی د یکصد وبیست هزار افغانی، محکـــوم می گردد.

(۲) هرگاه در اثـــر شـــهادت دروغ، متهم محکوم علیه قرار گرفته باشـــد، شاهد به جزای پیش بینی شده جرمـــی محکوم می گردد که بالای محکـــوم علیه صادر گردیده است.

(۳) شخصی کـــه در دعـــوی غیـــر جزایی و یا نزد مامورین ضبط قضایی شهادت دروغ اداء نماید، به حـــبس قصیر یا جزای نقـــدی ده هـــزار تـــا بیســـت هـــزار افغـــانی، محکـــوم می گردد.

طلب یا قبول بخشش یا گـــرفتن وعده

مادۀ ۴۸۳:

شخصی که بمنظـــور ادای شـــهادت دروغ، پول، مال یا منفعتی را طلـــب نماید یا بخشش یا وعده آن را بگیرد و یا قبول نماید، وی و شخصـــی کـــه بخشـــش یـــا وعـــده را داده و یـــا در آن وساطت نمـــوده، بـــه جـــزای

(c) ketabton.com: The Digital Library

رشوت يا د دروغو شهادت هره يـــوهٔ چې زيات شديده وي د جرم په پيشبيني شوې جزا محکومېږي.

پیش بینی شده جرم رشوت یا شهادت دروغ هر یک که شـــدیدتر باشـــد، محکوم می گردد.

د دروغو شهادت د مرتکب په جزا محکومیت

محکومیت به جزای مرتکب شهادت دروغ

۴۸۴ ماده:

لاندې اشخاص د دروغو د شهادت د پيشـــبيني شـــوې پـــه عـــين جـــزا محکومېږي:

۱- هغه شخص چې په اغواء يا نـــورو وسايلو سره شاهد د شهادت نـــه اداء کولو يا د دروغ شهادت اداء کولو ته اړ کړي که څه هم چې خپل مقصد ته ونه رسېږي.

۲- هغه شخص چې د بخشـــش يـــا وعدې له امله د شهادت له اداء کولو څخه ډډه وکړي.

مادهٔ ۴۸۴:

اشخاص ذیل به عین جزای پیش بینـــی شـــده شـــهادت دروغ محکـــوم می گردند:

۱- شخصی که با اغواء یـــا ســـایر وســـایل شـــاهد را بـــه عـــدم ادای شهادت یا بـــه ادای شـــهادت دروغ وادار نماید، گر چه به مقصـــد خـــود نرسد.

۲- شخصی که در اثر بخشـــش یـــا وعـــده از ادای شـــهادت امتنـــاع ورزد.

د تزوير په مجازاتو محکوميت

محکومیت به مجازات تزویر

۴۸۵ ماده:

لاندې اشخاص ددې قانون پـــه ۴۷۲ ماده کې له درج شوو حالاتو څخه په غير کې پدې قانون کې درج د تزويـــر

مادهٔ ۴۸۵:

اشخاص ذیل در غیر از حالات مندرج مادهٔ ۴۷۲ این قانون به مجازات تزویر منـــدرج ايـــن قـــانون محکـــوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مجازاتو محکومېږي:

۱- هغه شخص چې د خارنوالی، محکمې یا عدلي او قضایي مراجعو لخوا د اهل خبره یا ژباړونکي په صفت مکلف شي او حقیقت ته عمداً بدلون ورکړي.

۲- هغه شخص چې له سندونو څخه د یوهٔ په ژباړه کې چې د محکمې په وړاندې د حق په اثبات کې د هغهٔ د استعمال امکان موجود وي تزویر وکړي.

۳- هغه شخص چې تزویر شوی تصدیق د هغه په تزویر د علم با وجود په یوهٔ قضایي دعوي کې د استفادې په منظور صادر یا لاسلیک کړي پدې شرط چې د دغهٔ شان تصدیق ورکول یا لاسلیک قانوناً مطلوب وي.

۴- هغه شخص چې په تزویر د علم با وجود په قضایي دعوي یا تحقیق کې، د اثبات په منظور، تزویر شوی تصدیق، د ژباړې اظهار سند، وثیقه یا نور شیان استعمال کړي.

۵- هغه شخص چې د تحقیق یا دعوي

می گردند:

۱- شخصی که از طرف خارنوالی، محکمه یا مراجع عدلی وقضایی به صفت اهل خبره یا ترجمان مکلف گردد و حقیقت را عمداً تغییر دهد.

۲- شخصی که در ترجمه یکی از اسنادی که امکان استعمال آن در اثبات حق نزد محکمه موجود باشد تزویر نماید.

۳- شخصی که تصدیق تزویر شده را با وجود علم به تزویر آن بمنظور استفاده در یک دعوی قضایی صادر یا امضاء نماید مشروط بر اینکه اعطاء یا امضاء چنین تصدیق قانوناً مطلوب باشد.

۴- شخصی که با وجود علم به تزویر بمنظور اثبات در دعوی قضایی یا تحقیق، تصدیق، اظهار ترجمه، سند، وثیقه یا اشیای دیگر تزویر شده را استعمال نماید.

۵- شخصی که در جریان تحقیق یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بهير کې په دفتر يا دوسيه يا په نورو هغو پاڼو کې چې د اثبات لپاره د هغو استعمال ممکن وي ناسم مطلب درج کړي پداسې ډول چې د هغۀ له امله د محکمې په وړاندې خطاء رأيه پيدا شي او په حکم کې اغېزه وارده کړي.

دعوی در دفتر يا دوسيه يا در اوراق ديگری که جهت اثبات استعمال آن ممکن باشد مطلب نادرست را درج نمايد، به نحوی که به اثر آن نزد محکمه رأی خطاء پيدا شده و در حکم تاثير وارد نمايد.

د دروغو د شهادت مخففه عذرونه

اعذار مخففۀ شهادت دروغ

۴۸۶ ماده:

لاندې احوال د دروغو د شهادت په جرمونو کې مخففه عذرونه پېژندل کېږي:

۱- د دعوي په موضوع کې د حکم له صادرېدو دمخه او يا په تحقيق کې د تحقيق د هيئت د قرار له صادرېدو دمخه له دروغو اظهاراتو څخه د شاهد رجوع او د حقيقت بيان.

۲- په هغۀ حالت کې چې د حقيقت اظهار، شاهد له ستر خطر سره مخامخ کړي داسې چې د هغۀ آزادي يا شرف ته زيان ورسوي يا د هغۀ له امله دده (هغه) زوجه يا له اصولو او فروعو څخه

مادۀ ۴۸۶:

احوال ذيل اعذار مخففه در جرايم شهادت دروغ، شناخته می شود:

۱- رجوع شاهد از اظهارات دروغ و بيان حقيقت قبل از صدور حکم در موضوع دعوی و يا در تحقيق قبل از صدور قرار هيئت تحقيق.

۲- در حالتی که اظهار حقيقت، شاهد را به خطر بزرگ مواجه گرداند طوری که به آزادی يا شرف او صدمه وارد کند يا به اثر آن زوجه، يا يکی از اصول يا فروع يا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو یا د هغه خور یا ورور له خطر سره مخامخ شي.

پر شخص د دروغو د شهادت د جزا نه تطبیق

۴۸۷ ماده:

پرهغهٔ شخص د دروغو د شهادت حکمونه چې د شاهد په توګه د هغهٔ شهادت لازم ندی یا پر هغهٔ شخص چې د قانون له حکمونو سره سم د شهادت په اداءکولو مکلف نه وي، نه تطبیقېږي.

پنځم فصل

د محبوسینو تښتول او د مجرمینو پټول

د نیول شوي شخص تښتته

۴۸۸ ماده:

(۱) هغه شخص چې قانوناً نیول شوی او وتښتي د شپږو میاشتو په قصیر حبس یا د دېرشو زرو افغانیو په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) که چېرې په حبس محکوم شخص خواهر یا برادر او بخطر مواجه گردد.

عدم تطبیق جزای شهادت دروغ بر شخص

مادهٔ ۴۸۷:

احکام شهادت دروغ بر شخصی که شهادت وی به حیث شاهد لازم نبوده یا بر شخصی که مطابق احکام قانون مکلف به ادای شهادت نباشد، تطبیق نمی گردد.

فصل پنجم

فرار دادن محبوسین و اخفای مجرمین

فرار شخص گرفتار شده

مادهٔ ۴۸۸:

(۱) شخصی که قانوناً گرفتار گردیده و فرار نماید، به حبس قصیر شش ماه یا جزای نقدی سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه شخص محکوم به حبس،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د محکمې د حکم د تطبیق په منظــور ونیول شي او له نیونې وروسته وتښتي، د محکوم بها پر جــزا برســېره تــر دووکلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تــر یوسلوشــلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۳) که چېرې د شخص تېښــته ددې مادې په (۱ او۲) فقروکې په درج شوو حالاتو کې د قوې د استعمال یا بل جرم د ارتکاب له امله صورت موندلی وي، مرتکب د تېښتې پــر جــزا برســېره دمرتکبه جرم په جزا هم محکومېږي.

بمنظور تطبیق حکم محکمه گرفتــار گردد و بعد از گرفتاری فرار نمایــد، علاوه بر جزای محکوم بها به حــبس متوسط تا دو سال یا جزای نقــدی از شصت هزار تا یکصد وبیست هــزار افغانی، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه فرار شــخص در حــالات مندرج فقره های (۱ و ۲) این مــاده باثر استعمال قوه یا ارتکــاب جــرم دیگری صورت گرفته باشد، مرتکــب علاوه بر جزای فرار، به جزای جــرم مرتکبه، نیز محکوم می گردد.

د شخص د انتقالوونکي د ساتونکي مجازات

۴۸۹ ماده:

هغه شخص چې د محکوم شخص پــه ساتنه، همراهۍ یا انتقال مکلف وي او د هغۀ د غفلت پــه ســبب، محکــوم وتښتي، په لانــدې توګــه مجــازات کېږي:

۱- په هغه صورت کې چې شخص د جنایت په جزا محکوم وي تر دووکلونو

مجازات محافظ انتــقال دهنــده شخص

مادۀ ۴۸۹:

شخصی که به محافظت، همراهی یــا انتقال شخص محکوم مکلف باشــد و به سبب غفلت وی، محکــوم فــرار نمایــد، قــرار ذیــل مجــازات می گردد:

۱- در صورتی که شخص، محکوم به جزای جنایت باشد، به حبس متوســط

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې په متوسط حبس یا له شپیتو زرو څخه تر یوسلوشلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- ددې مادې د ۱ جزء په درج شوو احوالو کې مؤظف شخص د شپږو میاشتو په قصیر حبس یا د دېرشو زرو افغانیو په نغدي جزا.

د تورن یا محکوم شخص په تېښته کې مرسته (مساعدت)

۴۹۰ ماده:

(۱) هغه شخص چې د تورن یا محکوم شخص په محافظت، همراهي یا انتقال مکلف وي او له هغه سره په تېښته کې مرسته وکړي یا هغه ته د تېښتې زمینه اسانه کړي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغۀ حالت کې چې شخص په اعدام محکوم شوی وي، په طویل حبس.

۲- په هغه حالت کې چې شخص د حد یا ۲ درجه یا ۱ درجه دوام حبس په جزا باندې محکوم شوی وي یا پداسې

تا دو سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یکصد و بیست هزار افغانی.

۲- در غیر از احوال مندرج جزء ۱ این ماده شخص مؤظف به حبس قصیر شش ماه یا جزای نقدی سی هزار افغانی.

مساعدت در فرار شخص متهم یا محکوم

مادۀ ۴۹۰:

(۱) شخصی که به محافظت، همراهی یا انتقال شخص متهم یا محکوم مکلف بوده و با او در فرار کمک نماید یا زمینۀ فرار را برای او تسهیل نماید، قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در حالتی که شخص به اعدام محکوم شده باشد، به حبس طویل.

۲- در حالتی که شخص به جزای حد یا حبس دوام درجه۲ یا درجه ۱ محکوم شده باشد یا متهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرم تورن وي چې جزا يې اعدام وي، په متوسط حبس.

(۲) ددې مادې د (۱) فقرې په ۱ او ۲ اجزاوو کې درج په غير احوالو کې، مؤظف شخص په قصير حبس محکومېږي.

به جرمی باشد که جزای آن اعدام باشد، به حبس متوسط.

(۲) در غیر از احوال مندرج اجزای ۱ و ۲ فقرهٔ (۱) این ماده شخص مؤظف، به حبس قصیر محکوم می گردد.

له عدلي تعقيب څخه د تورن د تېښتې په موخه د عامه خدمتونو د مؤظف مرسته

مساعدت مؤظف خدمات عامه به هدف فرار متهم از تعقیب عدلی

۴۹۱ ماده:

که چېرې د عامه خدمتونو هغه مؤظف چې د شخص په نيونه مکلف شوی وي او د نيونې په لازمه اجراآتو کې له عدلي تعقيب څخه د تورن په تېښته کې مرسته وکړي، په متوسط حبس محکومېږي.

مادهٔ ۴۹۱:

هرگاه مؤظف خدمات عامه که به گرفتاری شخص مکلف باشد و در اجراآت لازمهٔ گرفتاری در فرار متهم از تعقیب عدلی مساعدت نماید، به حبس متوسط، محکوم می گردد.

د تورن په تېښته يا پټولو کې د شخص مرسته کول

مساعدت شخص در اخفأ یا فرار متهم

۴۹۲ ماده:

که چېرې شخص خپله يا د بل په واسطه، هغه شخص چې له قانوني نيونې وروسته يې تېښته کړې يا پداسې جرم

مادهٔ ۴۹۲:

هرگاه شخصی خود یا توسط دیگری، شخصی را که بعد از گرفتاری قانونی فرار نموده

(c) ketabton.com: The Digital Library

تورن وي چې د نيونې امر يې صادر شوی وي، مخفي (پټ) کړي او يا له عدلي تعقيب څخه د شخص پر تېښته د علم با وجود مرسته وکړي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې هغه شخص چې پټ شوی يا له عدلي تعقيب څخه د هغهٔ په اختفاء يا تېښته کې مرسته شوي ده، په اعدام محکوم وي، تر لسوکلونو پورې په طويل حبس.

۲- به هغهٔ صورت کې چې ددې مادې په ۱ جزء کې درج شوی شخص د حد يا ۲درجه يا ۱ درجه دوام حبس يا طويل حبس په جزا محکوم او يا پداسې جرم تورن وي چې جزا يې اعدام پېښبيني شوې، په متوسط حبس.

۳- ددې مادې په ۱ او ۲ اجزاوو کې درج په غير احوالو کې، په قصير يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

يا متهم به جرمی باشد که امر گرفتاری او صادر شده باشد، مخفی نمايد و يا با وجود علم در فرار شخص از تعقيب عدلی، مساعدت نمايد، قرار ذيل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که شخصی که مخفی شده يا به اختفأ يا فرار وی از تعقيب عدلی مساعدت بعمل آمده، محکوم به اعدام باشد، به حبس طويل تا ده سال.

۲- در صورتی که شخص مندرج جزء ۱ اين ماده محکوم به جزای حد يا حبس دوام درجه۲ يا درجه ۱يا حبس طويل و يا متهم به جرمی باشد که جزای آن اعدام پيشبينی شده، به حبس متوسط.

۳- در غير از احوال مندرج اجزای ۱ و۲ اين ماده، به حبس قصير يا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تورن په تېښته کې مرسته کول

۴۹۳ ماده:

هغه شخص چې د جنايت يا جنحې په واقع کېدو علم حاصل کړي او له عدلي تعقيب څخه د هغۀ د تورن په تېښته کې مرسته وکړي، سره (اعم) لدې چې د هغۀ مرسته هغۀ ته د پناه ورکولو يا د جرم د اثبات د دلايلو د پټولو په شکل وي، له لسو زرو څخه تر دېرشو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

کمک نمودن در فرار متهم

مادۀ ۴۹۳:

شخصی که بوقوع جنایت یا جنحه علم حاصل نموده و در فرار متهم آن، از تعقیب عدلی کمک نماید، اعم از اینکه کمک وی به شکل پناه دادن و یا مخفی ساختن دلایل اثبات جرم باشد، به جزای نقدی از ده هزار تا سی هزار افغانی، محکوم می گردد.

په تېښته د مرستې په صورت کې د تورن پر اقاربو باندې د مجازاتو نه تطبيق

۴۹۴ ماده:

که چېرې د شخص مخفي کول يا په اختفاء يا له عدلي تعقيب څخه په تېښته کې مرسته د هغه د زوج، زوجې، اصولو، فروعو، ورور يا خور لخوا صورت وموميٰ، نه مجازات کېږي.

عدم تطبیق مجازات بالای اقارب متهم در صورت مساعدت به فرار

مادۀ ۴۹۴:

هرگاه مخفی ساختن یا مساعدت در اختفاء یا فرار از تعقیب عدلی شخص از جانب زوج، زوجه، اصول، فروع، برادر یا خواهر وی صورت گیرد، مرتکب آن، مجازات نمی گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږم باب
سازمان شوي جرمونه
لومړی فصل
د جرمي ډلې سازمانول يا غړيتوب

د سازمان شوي جرم مرتکب

۴۹۵ ماده:

(۱) د سازمان شوي جرم مرتکب هغه شخص دی چې پدې باب کې درج يو يا څو جرمونه يا پدې قانون کې درج جنايتونه د سازمان شوې جرمي ډلې په واسطه ترسره کړي.

(۲) جرمي سازمان شوې ډله له دريو يا له هغو څخه د زياتو نفرو له تشکل موندل شوې دستې (ډلې) څخه عبارت ده چې د څه وخت مودې لپاره موجوده وي او د خپلو غړو لپاره د رسمي تعريف شوو نقشونو په لرلو سره، په منسجم صورت، پدې فصل کې درج د يوۀ يا څو جرمونو يا د جنايت د جرم د ارتکاب او د مالي منفعت يا نورو منافعو

باب ششم
جرايم سازمان يافته
فصل اول
سازمان دهی يا عضويت گروه جرمی

مرتکب جرم سازمان يافته

مادۀ ۴۹۵:

(۱) مرتکب جرم سازمان يافته شخصی است که يک يا چند جرم مندرج اين باب يا جنايات مندرج اين قانون را توسط گروه سازمان يافته جرمی انجام دهد.

(۲) گروه سازمان يافته جرمی عبارت از دسته تشکل يافته سه نفر يا بيش از آن است که برای مدت زمانی موجود بوده و با داشتن نقش های تعريف شده برای اعضای خود، بصورت منسجم، به هدف ارتکاب يک يا چند جرم مندرج اين فصل يا جرم جنايت و دريافت منفعت مالی يا ساير

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ترلاسه کولو په موخه فعالیت وکړي.

(۳) د سازمان شوي جرم مرتکب، د ارتکابي جرم د مجازاتو په اکثر حد محکومېږي.

(۴) که چېرې پدې فصل کې د درج شوو جرمونو مرتکب بهرنی تبعه وی، د مرتکبه جرم د مجازاتو په یونیم چنده، محکومېږي.

د جرمي سازمان شوي ډلې سازمانوونکی

۴۹۶ ماده:

(۱) سازمانوونکی هغه شخص دی چې جرمي سازمان شوي ډله تأسیس، تشکیل، رهبري، هدایت یا مدیریت کړي.

(۲) سازمانوونکی د مرتکبه جرم د مجازاتو د اکثر حد په یونیم چنده محکومېږي، پدې شرط چې د هغهٔ د حبس د مودې مجموع د ۱درجې دوام حبس له مودې څخه زیات نشي او د جرم د نه ارتکاب په صورت کې، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس

منافع فعالیت نماید.

(۳) مرتکب جرم سازمان یافته، به حد اکثر مجازات جرم ارتکابی، محکوم می گردد.

(۴) هرگاه مرتکب جرایم مندرج این فصل تبعهٔ خارجی باشد، به یک ونیم چند مجازات جرم مرتکبه، محکوم می گردد.

سازمانده گروه سازمان یافته جرمی

مادهٔ ۴۹۶:

(۱) سازمانده شخصی است که گروه سازمان یافته جرمی را تأسیس، تشکیل، رهبری، هدایت یا مدیریت نماید.

(۲) سازمانده به یک ونیم چند حد اکثر مجازات جرم مرتکبه محکوم می گردد، مشروط بر اینکه مجموع مدت حبس وی از میعاد حبس دوام درجه۱ بیشتر نگردد و در صورت عدم ارتکاب جرم، به حبس طویل تا ده سال،

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکومېږي.

په جرمي سازمان شوې ډله کې ګډون

۴۹۷ ماده:

(۱) هغه شخص چې د ټاکلو یا ناټاکلو مجرمانه اعمالو د ترسره کولو په اړه د جرمي سازمان شوې ډلې له موخه، فعالیت یا قصد څخه د آګاهۍ (خبرتیا) په لرلو سره په مستقیمه یا نامستقیمه توګه د جرمي سازمان شوې ډلې په مجرمانه فعالیتونو کې ددې په درک سره چې د پورته مجرمانه موخو په لاسته راوړلو کې د هغۀ ګډون اغېزناک دی په فعالانه توګه ونډه واخلي، په جرمي سازمان شوې ډله کې د ګډون د جرم مرتکب پېژندل کېږي.

(۲) په جرمي سازمان شوو جرمونو کې شریک یا معاون، د جرم د فاعل په عین جزا محکومېږي.

محکوم می گردد.

اشتراک در گروه سازمان یافته جرمی

مادۀ ۴۹۷:

(۱) شخصی که با داشتن آگاهی از هدف، فعالیت یا قصد گروه سازمان یافته جرمی مبنی بر انجام اعمال مجرمانه معین یا غیر معین، در فعالیت های مجرمانه گروه سازمان یافته جرمی بصورت مستقیم یا غیر مستقیم با درک اینکه شرکت وی در بدست آوردن اهداف مجرمانه فوق مؤثر است بصورت فعالانه سهیم گردد، مرتکب جرم اشتراک در گروه سازمان یافته جرمی شناخته می شود.

(۲) شریک یا معاون در جرایم سازمان یافته جرمی، به عین جزای فاعل جرم، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه يم فصل

پيسې سپينول اودهغو مجازات

پيسې سپينول

۴۹۸ ماده:

(۱) د وجوهو او شتمنۍ د منشاء د غير قانوني والي په هکله د (خبرتيا) آګاهۍ په لرلو سره د لاندې اعمالو ارتکاب د پيسو سپينولو جرم پېژندل کېږي:

۱- دغيرقانوني منشاء لرونکو وجوهو او شتمنۍ انتقال يا بدلون (تغيير).

۲- د جرم له ارتکاب څخه له راپيدا شوو قانوني عواقبو څخه د اصلي جرم د مظنون په تېښته کې مرسته.

۳- د وجوهو او شتمنۍ د واقعي ماهيت، سرچينې، موقعيت، د تصرف څرنګوالي، انتقال يا د مالکيت د حق د پټول يا شکل ته تغيير ورکول.

۴- له جرم څخه د راپيدا شوو وجوهو او شتمنۍ تحصيل، تصاحب يا استفاده.

(۲) ددې مادي د (۱) فقرې په مقصد خبرتيا په جرم پورې له مرتبطو پايلو او عيني شرايطو (قراينو) څخه استنباط

فصل دوم

پول شویی و مجازات آن

پول شویی

مادۀ ۴۹۸:

(۱) ارتکاب اعمال ذیل باداشتن آگاهی در مورد غیر قانونی بودن منشاء وجوه و دارایی، جرم پول شویی شناخته می شود:

۱- انتقال یا تغییر وجوه ودارایی دارای منشاء غیر قانونی.

۲- مساعدت در فرار مظنون جرم اصلی ازعواقب قانونی ناشی از ارتکاب جرم.

۳- پنهان نمودن یا تغییرشکل دادن ماهیت واقعی، منبع، موقعیت، چگونگی تصرف، انتقال یا حق مالکیت وجوه و دارایی.

۴- تحصیل، تصاحب یا استفاده از وجوه و دارایی ناشی ازجرم.

(۲) آگاهی به مقصد فقرۀ (۱) این ماده به حیث عنصرمتشکلۀ جرم، از نتایج و شرایط عینی (قرائن) مرتبط به جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي.

(۳) ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو وجوهو او شتمنۍ د جرمي منشاء اثبات د اصلي جرم د مظنون په پېژندنه یا محکومیت مشروط ندی.

د حقيقي شخص د پيسو سپينولو مجازات

۴۹۹ ماده:

د پيسو سپينولو د جرم مرتکب د وجوهو یا شتمنۍ اندازې ته په پام سره په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغهٔ صورت کې چې د وجوهو یا شتمنۍ اندازه تر سلو زرو افغانيو پورې وي، تر سلو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا.

۲- په هغهٔ صورت کې چې د وجوهو یا شتمنۍ اندازه له سلو زرو څخه زياته تر یوهٔ ميليون افغانيو پورې وي، د قصير حبس په اقل حد یا له سلو زرو څخه زياته تر یو ميليون افغانيو پورې په نغدي جزا.

۳- په هغهٔ صورت کې چې د وجوهو

استنباط می‌گردد.

(۳) اثبات منشاء جرمی وجوه و دارایی های مندرج فقرهٔ (۱) این ماده مشروط به شناسایی یا محکومیت مظنون جرم اصلی نمی باشد.

مجازات جرم پول شویی شخص حقیقی

مادهٔ ۴۹۹:

مرتکب جرم پول شویی با نظر داشت اندازه وجوه یا دارایی قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که اندازه وجوه یا دارایی تا یکصد هزار افغانی باشد، به جزای نقدی تا یکصد هزار افغانی.

۲- در صورتی که اندازه وجوه یا دارایی بیش ازیکصد هزار تا یک میلیون افغانی باشد، به حداقل حبس قصیر یا جزای نقدی بیش از یکصد هزار تا یک میلیون افغانی.

۳- در صورتی که اندازه وجوه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا شتمنی اندازه له یوۀ میلیون څخه زیاته تر پنځو میلیونو افغانیو پورې وي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس.

۴- په هغۀ صورت کې چې دوجوهو یا شتمنی اندازه له پنځو میلیونو څخه زیاته تر لسو میلیونو افغانیو پورې وي، له دریوکلونو څخه زیات په متوسط حبس.

۵- په هغۀ صورت کې چې د وجوهو یا شتمنی اندازه له لسو میلیونو افغانیو څخه زیاته وي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس.

دحکمي شخص د پیسو سپینولو د جرم مجازات

۵۰۰ ماده:

(۱) که چېرې د پیسو سپینولو جرم د حکمي شخص د رئیس، ممثل یا قانوني نماینده په واسطه د حکمي شخص په نوم، حساب یا منفعت ارتکاب شوی وي، حکمي شخص د وجوهو یا شتمنی د اندازې معادل، په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) حکمي شخص ددې مادې په (۱)

دارایی بیش از یک میلیون تا پنج میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط تا دو سال.

۴- در صورتی که اندازه وجوه یا دارایی بیش از پنج میلیون تا ده میلیون افغانی باشد، به حبس متوسط بیش از سه سال.

۵- در صورتی که اندازه وجوه یا دارایی بیش از ده میلیون افغانی باشد، به حبس طویل تا ده سال.

مجازات جرم پول‌شویی شخص حکمی

مادۀ ۵۰۰:

(۱) هرگاه جرم پول شویی توسط رئیس، ممثل یا نمایندۀ قانونی شخص حکمی به نام، حساب یا منفعت شخص حکمی ارتکاب گردیده باشد، شخص حکمی به جزای نقدی معادل اندازه وجوه یا دارایی، محکوم می‌گردد.

(۲) شخص حکمی علاوه بر جزای

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقره کې په درج شوې جزا برسېره له لاندې جزاګانو څخه په يوۀ هم محکومېږي:

۱- تر پنځو کلونو پورې په مستقيم يا نامستقيمه توګه په جرم پورې د مرتبط تجارتي (سوداګريز) فعاليت د ځينو برخو له پرمخبيولو څخه ممنوعيت.

۲- د حکمي شخص انحلال، په هغۀ صورت کې چې د پيسو د سپينولو د جرم د ارتکاب په منظور رامنځته شوی وي يا د پيسو د سپينولو د جرم د ارتکاب لپاره له امکاناتو او اړوندو شتمنۍ څخه د ګټې اخيستنې اجازه ورکړي.

۳- د تولیزو رسنيو له لارې د حکم خپرول.

(۳) که چېرې د حکمي شخص پر کارکوونکي يا نماينده باندې د ناکافي مديريت يا نظارت په پايله کې حکمي شخص يا د هغۀ کارکوونکي يا نماينده ته د پيسو د سپينولو د جرم په ارتکاب کې د ګډون زمينه برابره شي او د هغې په پايله کې حکمي شخص منتفع شي، مندرج فقرۀ (۱) اين ماده به يکی از جزاهای ذيل، نيز محکوم می گردد:

۱- ممنوعيت از پيشبرد بعضی از عرصه های فعاليت تجارتی مرتبط به جرم بصورت مستقيم ياغير مستقيم تا پنج سال.

۲- انحلال شخص حکمی، در صورتی که بمنظور ارتکاب جرم پول شويی ايجاد شده باشد يا اجازه استفاده از امکانات و دارايی های مربوط را برای ارتکاب جرم پول شويی، اعطاء نمايد.

۳- نشر حکم از طريق رسانه های همگانی.

(۳) هرگاه در نتيجه مديريت يا نظارت ناکافی بالای کارکن يا نمايندۀ شخص حکمی، زمينۀ اشتراک شخص حکمی يا کارکن يا نماينده وی در ارتکاب جرم پول شويی فراهم گردد و در نتيجۀ آن شخص حکمی منتفع شود،

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمي شخص ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې په درج شوو مجازاتو محکومېږي.

(۴) پر حکمي شخص پدې ماده کې د درج شوو مجازاتو تطبیق پرحقیقي اشخاصو د مجازاتو د تطبیق مانع نه کېږي.

شخص حکمی به مجازات مندرج فقره های (۱ و ۲) این ماده محکوم می گردد.

(۴) تطبیق مجازات مندرج این ماده بالای شخص حکمی مانع تطبیق مجازات بر اشخاص حقیقی نمی گردد.

د مشکوکې معاملې د رپوټ نه اطلاع ورکول

عدم اطلاع دهی راپور معامله مشکوک

۵۰۱ ماده:

مادۀ ۵۰۱:

(۱) که چېرې د رپوټ ورکونې د مرجع مؤظف، د مشکوکې معاملې رپوټ اړوندو مراجعو ته اطلاع نکړي، تر دوو کلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلو شلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا په دواړو جزاګانو محکومېږي.

(۱) هرگاه مؤظف مرجع راپوردهنده، راپور معامله مشکوک را به مراجع مربوط اطلاع ندهد، به حبس متوسط تا دو سال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یکصد و بیست هزار افغانی و یا به هر دو جزا محکوم می گردد.

(۲) رپوټ ورکوونکې مرجع ددې مادې په (۱) فقره کې په درج شوي حالت کې له یوسلو شلو زرو څخه تر پنځه سوو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) مرجع راپوردهنده درحالت مندرج فقرۀ (۱) این ماده، به جزای نقدی از یکصد و بیست هزار تا پنج صد هزار افغانی، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سندونو له منځه وړل یا د پیسو د سپینولو په جرم کې تزویر

۵۰۲ ماده:

(۱) هغه شخص چې د پیسو د سپینولو د جرم په اړوند له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، پدې قانون کې د رسمي سندونو د اتلاف د جرم او یا د تزویر د جرم د پېښبیني شوو مجازاتو په اکثر حد محکومېږي:

۱- د سندونو او سوابقو د ثبت او راجستر دفترونه چې د پیسو د سپینولو او له جرمونو څخه د راپیدا شوو عوایدو د مخنیوي د قانون له حکمونو سره سم د ساتلو وړ وي، عمداً ناقص یا له منځه یوسي.

۲- قبالې یا سندونه د هغو له تزویریتوب څخه په خبرتیا سره اړوندو مراجعو ته وړاندې کړي.

(۲) که چېرې ددې مادې په ۱ او ۲ اجزاووکې درج شوي جرمونه د پیسو سپینولو او له جرمونو څخه د را پیدا شوو عوایدو د مخنیوي په قانون کې د

از بین بردن اسناد یا تزویر در جرم پول شویی

مادۀ ۵۰۲:

(۱) شخصی که در ارتباط به جرم پول شویی مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حد اکثر مجازات پیشبینی شده جرم اتلاف اسناد رسمی و یا جرم تزویر مندرج این قانون، محکوم می گردد:

۱- دفاتر ثبت و راجستر اسناد و سوابق را که طبق احکام قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، قابل نگهداری باشد،عمداً ناقص یا از بین ببرد.

۲- قباله ها یا اسناد را با وصف آگاهی از تزویری بودن آن به مراجع مربوط ارایه نماید.

(۲) هرگاه جرایم مندرج اجزای۱ و ۲ فقرۀ (۱) این ماده توسط مراجع راپور دهنده مندرج قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی

(c) ketabton.com: The Digital Library

درج رپوټ ورکوونکو مراجعو په واسطه ارتکاب شي، مرتکب له یو میلیونو څخه تر پنځو میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

د معلوماتو،رپوټونو یا محرمو ثبت شوو سندونوغیر قانونی افشاء

۵۰۳ ماده:

(۱) که چېرې د رپوټ ورکوونکې مرجع مؤظف له لاندې اعمالو څخه د یوۀ مرتکب شي، تر دووکلونو پورې په متوسط حبس یا له شپېتو زرو څخه تر یوسلوشلو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا یا په دواړو جزاګانو محکومېږي:

۱- په یوۀ رپوټ پورې د اړوندو معلوماتو عمدي افشاء کول هغه شخص یا مرجع ته چې د هغو د ترلاسه کولوحق نلري.

۲- په هغۀ صورت کې چې د خپلو کاري یا تجارتي چارو په بهیر کې په یوۀ ډول نه یو ډول د پیسو د سپینولو د یوې قضیې په اړه د واکمنو مراجعولە تر نظر لاندې اقداماتو یا د قانون د

از جرایم، ارتکاب یابد، مرتکب به جزای نقدی از یک میلیون تا پنج میلیون افغانی، محکوم می‌گردد.

افشای غیر قانونی معلومات، گزارش ها یا اسناد ثبت شده محرم

مادۀ ۵۰۳:

(۱) هرگاه مؤظف مرجع راپوردهنده مرتکب یکی از اعمال ذیل گردد، به حبس متوسط تا دوسال یا جزای نقدی از شصت هزار تا یکصد و بیست هزار افغانی و یا به هر دو جزا محکوم می گردد:

۱- افشای عمدی معلومات مرتبط به یک گزارش به شخص یا مرجعی که حق دریافت آن را ندارند.

۲- در صورتی که در جریان امور کاری یا تجارتی خود به نحوی از انحا از اقدامات مورد نظر مراجع ذیصلاح یا بررسی ها یا تحقیقات مراجع تنفیذ قانون در رابطه با یک قضیه پول شویی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنفيذ د مراجعو له بررسيو يا تحقيقاتو څخه اطلاع ومومي او د هغو له قانوني علني کېدو د مخه، موضوع عمداً هغهٔ شخص يا اشخاصو ته چې د هغوی په هکله تحقيق روان دی او يا هر بل شخص ته چې د هغود ترلاسه کولو حق نلري، افشاء کړي.

۳- د هغو سندونو افشاء چې د پيسو د سپينولو او له جرمونو څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي د قانون له حکمونو سره سم، په محرمه توګه ساتل کېږي، هغهٔ شخص ته چې د تر لاسه کولو حق پې نلري.

(۲) په هغهٔ صورت کې چې ددې مادې د (۱) فقرې په۱، ۲ او۳ اجزاووکې درج شوي جرمونه د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، مرتکب له يوسلو شلو زرو څخه تر دوه سوه څلوېښتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

اطلاع يافته و قبل از علنی شدن قانونی آن، موضوع را عمداً به شخص يا اشخاصی که تحقيق در مورد آنها جريان دارد و يا هر شخص ديگری که حق دريافت آنرا ندارد، افشاء نمايد.

۳- افشای اسنادی که طبق احکام قانون جلوگيری از پول شويی و عوايد ناشی از جرايم، طور محرم نگهداری می‌شود به شخصی که حق دريافت آنرا ندارد.

(۲) در صورتی که جرايم مندرج اجزای ۱، ۲ و۳ فقرهٔ (۱) اين ماده توسط شخص حکمی ارتکاب يابد، مرتکب به جزای نقدی از يکصد و بيست هزار تا دوصد و چهل هزار افغانی، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له نظارتي واکمنو مراجعو سره نه همکاري

۵۰۴ ماده:

هغه شخص چې د پيسو د سپينولو او له جرمونو څخه د راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي له قانون سره سم، له نظارتي واکمنو مراجعو سره په همکاري مکلف وي، د نظارتي واکمنو مراجعو په وړاندې د خپلو قانوني مکلفيتونو له اجراء څخه عمداً ډډه وکړي، په قصير حبس او له دېرشو زرو څخه تر شپيتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

عدم همکاری با مراجع ذیصلاح نظارتی

مادۀ ۵۰۴:

شخصی که مطابق قانون جلوگیری از پول شویی و عواید ناشی از جرایم، مکلف به همکاری با مراجع ذیصلاح نظارتی باشد، از اجرای مکلفیت های قانونی خود در برابر مراجع ذیصلاح نظارتی عمداً امتناع ورزد، به حبس قصیر وجزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی، محکوم می گردد.

د پيسو نا قانونه دننه کول يا بهرکول

۵۰۵ ماده:

هغه شخص چې په اړوند تقنيني سندکې له تاکل شوي حد څخه زيات مبلغ په نغدي يا د بې نومه معاملې وړسند په شکل له ځان سره په نا قانوني توګه هېواد ته دننه يا بهر کړي يا د پستي استونې، قاصد، دکاليو او بار د

داخل یا خارج نمودن غیر قانونی پول

مادۀ ۵۰۵:

شخصی که مبلغ بیش از حد تعیین شده در سند تقنینی مربوط را به شکل نقد یا سند قابل معامله بی اسم با خود بصورت غیر قانونی به کشور داخل یا خارج نماید یا ذریعه ارسال پستی، قاصد، شرکت های حمل و نقل بار و

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمل اونقل دشرکتونو په ذریعه اوپه نورو ډولونو یې وارد یا صادر کړي، او د پیسو د انتقال یا د بی نومه معاملې وړ سند د مقدار منشاء، موخه یا استفادې په هکله سند وړاندې نکړای شي، مرتکب د نومورې مبلغ پر مصادرې برسېره په لاندې مجازاتو هم محکومېږي:

۱- حقیقي شخص په قصیر حبس یا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

۲- حکمي شخص له شپېتو زرو څخه تر دوه سوه او څلوېښتو زرو افغانیو پورې په نغدي جزا.

پټول، انتقال یا د حقیقت خلاف بر ملا کول (بښکاره کول)

۵۰۶ ماده:

هغه شخص چې پیسې، بې نومه بهالرونکي سندونه یا قیمتي فلزات یا احجار چې د پیسو سپینولو له جرم، د تروریزم د تمویل له جرم یا له اصلي جرمونو سره مرتبط وي او اړوند کالا و سایر اشکال، وارد و یا صادر نماید، و در مورد مقدار، منشاء، هدف یا استفاده از انتقال پول یا سند قابل معامله بی اسم سند ارایه کرده نتواند، مرتکب علاوه بر مصادره مبلغ مذکور به مجازات ذیل، نیز محکوم می گردد:

۱- شخص حقیقی، به حبس قصیر یا جزای نقدی از سی هزار تا شصت هزار افغانی.

۲- شخص حکمی، به جزای نقدی از شصت هزار تا دوصد وچهل هزار افغانی.

پنهان، انتقال یا وانمود کردن خلاف حقیقت

مادۀ ۵۰۶:

شخصی که پول، اسناد بهادار بدون اسم یا فلزات یا احجار قیمتی را که با جرم پول شویی، جرم تمویل تروریزم یا جرایم اصلی مرتبط بوده وسند تقنینی مربوط در

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقنيني سند د هغو د ضبط، انجماد يا مصادرې په اړه حکم کړی وي، هغه پټ يا د حقيقت خلاف برملا (بشکاره) يا انتقال کړي، په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- حقيقي شخص په قصير حبس يا له دېرشو زرو څخه تر شپېتو زرو افغانيو پورې په نغدي جزا يا په دواړو جزا ګانو.

۲- حکمي شخص له شپېتو زرو څخه تر دوه سوه او څلوېښت زرو افغانيو پورې په نغدي جزا او د يوۀ کال مودې لپاره د فعاليت د جواز تعليق يا سلب.

د فعاليت د جواز سلب

۵۰۷ ماده:

که چېرې حقيقي يا حکمي شخص پدې فصل کې درج شوي جرمونه له يوځل څخه زيات مرتکب شي، پر پيشبيني شوو مجازاتو برسېره، له يوۀ څخه تر پنځو کلونو پورې د فعاليت د جواز په سلب هم محکومېږي.

رابطه به ضبط، انجماد يا مصادره آنها حکم نموده باشد، آنها را پنهان يا خلاف حقيقت وانمود يا انتقال دهد، قرار ذيل مجازات می‌گردد:

۱- شخص حقيقی، به حبس قصير يا جزای نقدی سی هزار تا شصت هزار افغانی يا به هر دو جزا.

۲- شخص حکمی، به جزای نقدی شصت هزار تا دوصد وچهل هزار افغانی و به تعليق يا سلب جواز فعاليت برای مدت يک سال.

سلب جواز فعاليت

مادۀ ۵۰۷:

هرگاه شخص حقيقی يا حکمی جرايم مندرج اين فصل را بيش از يک بار مرتکب گردد، علاوه بر مجازات پيشبينی شده، به سلب جواز فعاليت از يک تا پنج سال، نيز محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جرمي سازمان شوې ډلې د غړي مجازات

۵۰۸ ماده:

که چېرې جرمي سازمان شوې ډله يا هغه حکمي شخص چې د جرمي سازمان شوې ډلې تر حاکميت يا کنترول لاندې دی، د پيسو د سپينولو د جرم مرتکب شي، په لاندې مجازاتو محکومېږي:

۱- حقيقي شخص په طويل حبس او له پنځه سوه زرو څخه تر دوو ميليونو افغانيو پورې په نغدي جزا.

۲- حکمي شخص منحل او شتمني يې مصادره کېږي.

د ترلاسه شوو وجوهو، شتمنۍ او منفعت مصادره

۵۰۹ ماده:

(۱) لاندې وجوه او شتمنۍ د پيسو د سپينولو، د تروريزم د تمويل يا د اصلي جرم د ارتکاب يا د ارتکاب په پېل د شخص د محکوميت په صورت کې د واکمنې محکمې لخوا مصادره کېږي:

مجازات عضوگروه سازمان يافته جرمی

مادۀ ۵۰۸:

هرگاه گروه سازمان يافته جرمی يا شخص حکمی ای که تحت حاکميت يا کنترول گروه سازمان يافته جرمی قرار دارد، مرتکب جرم پول شويی گردد، به مجازات ذيل محکوم می‌گردد:

۱- شخص حقيقی، به حبس طويل و جزای نقدی از پنج صد هزار تا دو ميليون افغانی.

۲- شخص حکمی منحل و دارايی آن مصادره می گردد.

مصادره وجوه، دارايی و منفعت حاصله

مادۀ ۵۰۹:

(۱) وجوه ودارايی های ذيل در صورت محکوميت شخص به ارتکاب يا شروع به ارتکاب جرم پول شويی، تمويل تروريزم يا جرم اصلی، از طرف محکمۀ ذيصلاح مصادره می گردد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- له جرم څخه رامنځته شوي عوايد د هغو وجوهو يا شتمنيو په شمول چې په مستقيم يا نا مستقيم ډول له جرمي عوايدو څخه لاسته راغلې يا له دغه شان عايداتو سره مخلوط يا له هغو څخه مشتق شوې او يا د هغو له تبادلې څخه لاسته راغلې وي.

۱- عواید ناشی از جرم به شمول وجوه یا دارایی های که به شکل مستقیم یا غیر مستقیم از عواید جرمی بدست آمده یا با چنین عایدات مخلوط یا ازآن مشتق گردیده ویا از تبادلهٔ آن بدست آمده باشد.

۲- هغه وسايل او امکانات چې د پيسو د سپينولو د تروريزم د تمويل د جرم يا د اصلي جرم په ارتکاب کې تر کټې اخيستنې لاندې نيول شوي وي يا ددې منظور لپاره له هغو څخه د کټې اخيستنې قصد شتون ولري.

۲- وسایل وامکاناتی که در ارتکاب جرم پول شویی، تمویل تروریزم یا جرم اصلی مورد استفاده قرار گرفته باشد یا قصد استفاده از آنها برای این منظور وجود داشته باشد.

۳- هغه وجوه او شتمنۍ چې له جرم څخه راپيدا شوي عوايد دي او هغه شتمنۍ چې د تروريزم له تمويل څخه د مخنيوي په قانون کې د درج شوو جرمونو د ارتکاب په منظور کارول شوې يا يې د استفادې قصد وجود ولري يا د هغو د ارتکاب لپاره اختصاص شوې دي.

۳- وجوه یا دارایی های که عواید ناشی از جرم بوده و دارایی های که بمنظور ارتکاب جرایم مندرج در قانون جلوگیری از تمویل تروریزم استفاده شده یا قصد استفادهٔ آن موجود بوده یا برای ارتکاب آنها اختصاص یافته است.

۴- ددې فقرې له ۱ تر ۳ پورې اجزاووکې درج شوي وجوه يا شتمنۍ

۴- وجوه یا دارایی های مندرج اجزای ۱ تا ۳ این فقره که به شخص

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بل شخص ته منتقلې شوې وي، خودا چې مالک په محکمه کې ثابته کړي چې ددغه شان وجوهو يا شتمنيو د ترلاسه کولو په وړاندې يې مناسبه بيه ورکړې يا هغه يې د هغو د ارزښت د معادلو خدمتونو په بدل کې يا له بلې مشروع لارې څخه لاسته راوړي او ددغۀ شان وجوهو او شتمنيو د منشاء له غير قانوني والي څخه يې خبرتيا درلودلې نده.

(۲) که چېرې هغه وجوه يا شتمنۍ چې په مستقيم يا نا مستقيم ډول له جرمي عمل څخه لاسته راغلې له هغو وجوهو او شتمنيو سره چې له مشروعو سرچينو څخه لاسته راغلې مخلوطې وي، ددغۀ شان وجوهو او شتمنيو د مصادرې حکم په هغه اندازه صورت مومي چې له جرم څخه د تر لاسه شوو وجوهو او شتمنيو د عوايدو له ارزښت سره، د محکمې له ارزونې سره سم، معادل وي.

(۳) که چېرې هغه وجوه يا شتمنۍ چې د هغو په مصادرې حکم صادر شوی، ديگری منتقل گرديده باشد، مگر اينکه مالک در محکمه ثابت نمايد که در مقابل دريافت چنين وجوه يا دارايی ها قيمت مناسب را پرداخته يا آن را در بدل خدمات معادل به ارزش آن يا از طرق مشروع ديگری بدست آورده و از غير قانونی بودن منشاء چنين وجوه ودارايی ها آگاهی نداشته است.

(۲) هرگاه وجوه يا دارايی های که بصورت مستقيم يا غير مستقيم از عمل جرمی حاصل گرديده با وجوه يا دارايی های که از منابع مشروع بدست آمده مخلوط باشد، حکم مصادره چنين وجوه يا دارايی ها به اندازۀ صورت می گيرد که با ارزش عوايد وجوه ودارايی های حاصله از جرم، مطابق ارزيابی محکمه، معادل باشد.

(۳) هرگاه وجوه يا دارايی های که حکم به مصادرۀ آن صادر گرديده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسته را نشي، د هغو د معادلو وجوهو او شتنميو په مصادرې حکم صادرېږي.

(۴) د مصادرې په حکم کې، د مصادرې وړ وجوهو او شتمنيو اندازه او د هغو د ځای د تشخيص او ټاکلو لپاره ضروري تفصيلات مشخصېږي.

دستیاب شده نه تواند، حکم به مصادرهٔ وجوه ودارایی های معادل آن صادر می گردد.

(۴) در حکم مصادره، اندازهٔ وجوه یا دارایی های قابل مصادره وتفصیلات ضروری جهت تشخیص وتعیین محل آن مشخص می گردد.

درېيم فصل

د انسان قاچاق

فصل سوم

قاچاق انسان

د انسان د قاچاق جرم

جرم قاچاق انسان

۵۱۰ ماده:

(۱) د انسان قاچاق: له لاندې لارو څخه په استفادې سره د بهره کشې (ناوړې ګټې اخيستنې) په منظور د شخص استخدام يا تر تسلط لاندې راوستل، انتقال، حمل او نقل، ساتنه يا ترلاسه کول دي:

۱- تهديد يا له قوې يا د اجبار له نورو ډولونو څخه ګټه اخيستنه.

۲- اختطاف.

۳- حيله او فريب.

۴- له نفوذ څخه ناوړه ګټه اخيستنه.

مادهٔ ۵۱۰:

(۱) قاچاق انسان: استخدام یا تحت تسلط قرار دادن، انتقال، حمل و نقل، نگهداری یا دریافت شخص است بمنظور بهره کشی با استفاده از شیوه های ذیل:

۱- تهدید یا استفاده از قوه یا سایر اشکال اجبار.

۲- اختطاف.

۳- حیله و فریب.

۴- سوء استفاده از نفوذ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د زيان مني يا مجبوريت له حالت څخه ناوړه ګټه اخيستنه.

۶- د انسان د قاچاق د جرم د مجني عليه يا د هغۀ د سرپرست د رضايت د ترلاسه کولو لپاره د پيسو يا منفعت ورکړه يا ترلاسه کول.

(۲) د بهره کشي په مقصد د طفل تر تسلط لاندې راوستل که څه هم له دغو لارو څخه استفاده نه وي شوې د انسان قاچاق پېژندل کېږي.

(۳) بهره کشي: دپېر، پلور، جنسي بهره کشي، رقصولو (ګډولو) د اخلاقو منافي (پورنوګرافي) تصويرونو په برابرولو کې په خدمت د نيولو، برده ګۍ، اجباري کار ته د ګمارلو، ګدايي، وسله والې جګړې، د بدن د غړي يا انساجو داخيستلو، طبي اجباري آزمايښتونو يا نورو غير قانوني فعاليتونو ته د اړ ايستلو له لارې له مجني عليه څخه د منفعت ترلاسه کول دي.

۵- سوء استفاده از حالت آسيب پذيری يا مجبوريت.

۶- پرداخت يا دريافت پول يا منفعت جهت کسب رضايت مجنی عليه جرم قاچاق انسان يا سرپرست وی.

(۲) تحت تسلط قرار دادن طفل به مقصد بهره کشی گرچه از شيوه های مذکور استفاده نشده باشد، قاچاق انسان شناخته می شود.

(۳) بهره کشی: کسب منفعت از مجنی عليه از طريق خريد، فروش، بهره کشی جنسی، رقصانيدن، به خدمت گرفتن در تهيه تصاوير يا فلم های منافی اخلاق (پورنوگرافی)، بردگی، گماشتن به کار اجباری، گدايی، جنگ مسلحانه، برداشت عضو يا انساج بدن، آزمايشات طبی اجباری يا وادار نمودن به ساير فعاليت های غير قانونی می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسان د قاچاق مجازات

۵۱۱ ماده:

(۱) هغه شخص چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب شي، تر لسو کلونو پورې په طویل حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې مجني علیه ښځه یا طفل وي یا د رقصولو په عمل کې تر کتې اخیستنې لاندې نیول شوی وي، مرتکب له لسو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي.

د انسان د قاچاق په جرم کې مشدده حالات

۵۱۲ ماده:

د انسان د قاچاق د جرم مرتکب په لاندې توګه مجازات کېږي:

۱- په هغۀ صورت کې چې د انسان د قاچاق د جرم مرتکب د مجني علیه مېرمن-ښځه، مور او پلار یا قانوني سرپرست یا د عامه خدمتونو مؤظف وي، مرتکب له لسو کلونو څخه زیات په طویل حبس محکومېږي.

۲- په هغۀ صورت کې چې د انسان

مجازات قاچاق انسان

مادۀ ۵۱۱:

(۱) شخصی که مرتکب جرم قاچاق انسان گردد، به حبس طویل تا ده سال، محکوم می‌گردد.

(۲) هرگاه مجنی علیه، طفل یا زن باشد یا در عمل رقصانیدن مورد بهره برداری قرار گرفته باشد، مرتکب به حبس طویل بیش از ده سال، محکوم می‌گردد.

حالات مشدده در جرم قاچاق انسان

مادۀ ۵۱۲:

مرتکب جرم قاچاق انسان قرار ذیل مجازات می گردد:

۱- در صورتی که مرتکب جرم قاچاق انسان، همسر، والدین یا سرپرست قانونی مجنی علیه یا مؤظف خدمات عامه باشد، مرتکب به حبس طویل بیش از ده سال، محکوم می‌گردد.

۲- در صورتی که قاچاقبر انسان با

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاچاقبر له مجني عليه سره، د زنا يا لواط د فعل مرتکب شوی وي ددې قانون د دوه يمې مادې په (۲) فقره کې د درج شوي حکم په رعايت سره، تعزيراً پدې قانون کې درج د جرمونو د تعدد د اړوندو حکمونو په پام کې نيولو سره، د طويل يا ۲درجه دوام حبس په اکثر حد.

مجنی علیه، مرتکب فعل زنا یا لواط گردیده باشد با رعایت حکم مندرج فقرۀ (۲) مادۀ دوم این قانون، تعزیراً با رعایت احکام مربوطه تعدد جرایم مندرج این قانون، به حد اکثر حبس طویل یا حبس دوام درجه۲.

۳- په هغۀ صورت کې چې مجني عليه تر جنسي بهره کشی لاندې راغلی وي يا له هغۀ څخه د غير اخلاقي (پورنوګرافي) تصويرونو يا فلمونو په برابرولو کې ګټه اخيستل شوې وي، د طويل حبس په اکثر حد.

۳- در صورتی که مجنی علیه مورد بهره کشی جنسی قرار گرفته یا در تهیه تصاویر یا فلم های غیر اخلاقی (پورنوگرافی) از وی استفاده شده باشد، به حد اکثر حبس طویل.

۴- په هغه صورت کې چې مجني عليه وسله والې جګړې ته ګمارل شوی وي يا د هغۀ د بدن غړی يا انساج قطع (پرې) او اخيستل شوي وي چې د مجني عليه په فزيکي يا رواني دايمي معلوليت تمام شي يا د اجباري طبي ازمايښت لاندې راغلی وي، په ۲درجه دوام حبس او د مجني عليه د مړينې په صورت کې په ۱درجه دوام حبس.

۴- در صورتی که مجنی علیه به جنگ مسلحانه گماشته شده باشد یا عضو یا انساج بدن وی قطع و برداشت شده که منجر به معلولیت دایمی فزیکی یا روانی مجنی علیه گردد یا مورد آزمایش طبی اجباری قرار گرفته باشد، به حبس دوام درجه ۲ و در صورت مرگ مجنی علیه، به حبس دوام درجه۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بدن د غړي يا انساجو د پـــرې کولو او اخيســـتلو يـــا د طبـــي ازمايښتونو د فاعل مجازات

۵۱۳ ماده:

(۱) هغه شخص چې د مجني عليـــه د بدن غړی يا انساج قطع يـــا واخلـــي (برداشت کړي) يا هغه تر اجباري طبي ازمايښت لاندې ونيسي او نومـــوړی عمل د مجني عليه په دايمي فزيکي يـــا رواني معلوليت يا د هغۀ په مړينه تمام شوی نه وي، مرتکب له لسو کلونـــو څخه زيات په طويل حبس محکومېږي.

(۲) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د مجني عليه پـــه دايمي فزيکي يا رواني معلوليت تمـــام شوی وي، مرتکب پـــه۲درجـــه دوام حبس محکومېږي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی عمل د مجني عليه پـــه مړينه تمام شوی وي، مرتکب په۱درجه دوام حبس محکومېږي.

مجازات فاعل قطع و برداشـــت عضو و انساج بدن يا آزمايشـــات طبی

مادۀ ۵۱۳:

(۱) شخصی که عضو يا انساج بـــدن مجنی عليه را قطع يا برداشت نموده يا وی را مورد آزمايش طبی اجباری قرار داده و عمل مذکور منجر به معلوليت دايمی فزيکی يا روانی مجنی عليه يـــا مرگ وی نگرديده باشد، مرتکب بـــه حبس طويل بيش از ده سال، محکوم می گردد.

(۲) هرگاه عمل مندرج فقرۀ (۱) اين ماده منجر به معلوليت دايمی فزيکی يا روانی مجنی عليـــه گرديـــده باشـــد، مرتکب به حبس دوام درجه۲، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه عمل مندرج فقرۀ (۱) اين ماده منجر به مرگ مجنی عليه گرديده باشد، مرتکب به حبس دوام درجه۱، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اختطاف مجازات

۵۱۴ ماده:

که چېرې د انسان د قاچاق مجني علیه د اختطاف له لارې، تر تسلط لاندې نیول شوی وي، مرتکب د اختطاف یا د انسان د قاچاق د جرم په مجازاتو هره یوه چې زیاته شدیده وي محکومېږي.

مجازات اختطاف

مادۀ ۵۱۴:

هرگاه مجنی علیه قاچاق انسان از طریق اختطاف، تحت تسلط قرار گرفته باشد، مرتکب به مجازات جرم اختطاف یا قاچاق انسان هریک که شدید تر باشد، محکوم می گردد.

د حکمي شخص مجازات

۵۱۵ ماده:

(۱) که چېرې د انسان د قاچاق جرم د حکمي شخص په واسطه ارتکاب شي، د مرتکب پر مجازاتو برسېره، حکمي شخص، له دریو څخه تر پنځه میلیونو افغانیو پورې په نغدي جزا محکومېږي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې نغدي جزا، د پولي ارزښت نوساناتو ته په پام سره، د انسان له قاچاق او د مهاجرانو له قاچاق سره د مبارزې د عالي کمېسیون په وړاندېز او د حکومت په تصویب تعدیل کېږي.

(۳) حکمي شخص ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوي جرم د تکرار په

مجازات شخص حکمی

مادۀ ۵۱۵:

(۱) هرگاه جرم قاچاق انسان توسط شخص حکمی ارتکاب یابد، علاوه بر مجازات مرتکب، شخص حکمی، به جزای نقدی از سه تا پنج میلیون افغانی، محکوم می‌گردد.

(۲) جزای نقدی مندرج فقرۀ (۱) این ماده با نظر داشت نوسانات ارزش پولی به پیشنهاد کمیسیون عالی مبارزه با قاچاق انسان وقاچاق مهاجران وتصویب حکومت تعدیل می گردد.

(۳) شخص حکمی در صورت تکرار جرم مندرج فقرۀ (۱) این ماده، علاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

صورت کې، پر پېښيني شوو مجازاتو برسېره د فعاليت د جواز په سلب هم محکومېږي.

د انسان د قاچاق په جرم کې دعامه خدمتونو د مؤظف د اهمال مجازات

۵۱۶ ماده:

که چېرې د عامه خدمتونو د مؤظف اهمال د انسان د قاچاق د جرمونو د ارتکاب د اسانه کېدو سبب شوی وي، د عامه خدمتونو مؤظف تر دريو کلونو پورې په متوسط حبس محکومېږي.

د انسان د قاچاق د جرم د معاون يا شريک مجازات

۵۱۷ ماده:

د انسان د قاچاق د جرم معاون يا شريک، د جرم د فاعل په عين مجازاتو محکومېږي.

بر مجازات پیش بینی شده به سلب جواز فعالیت نیز محکوم می گردد.

مجازات اهمال مؤظف خدمات عامه در جرم قاچاق انسان

مادۀ ۵۱۶:

هرگاه اهمال مؤظف خدمات عامه سبب تسهیل ارتکاب جرایم قاچاق انسان گردیده باشد، مؤظف خدمات عامه به حبس متوسط تا سه سال، محکوم می گردد.

مجازات معاون یا شریک جرم قاچاق انسان

مادۀ ۵۱۷:

معاون یا شریک جرم قاچاق انسان، به عین مجازات فاعل جرم، محکوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له عدلي تعقيب څخه د انسان د قاچاق د مجني عليه معافيت

۵۱۸ ماده:

د انسان د قاچاق مجني عليه په لاندې حالاتو کې تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي:

۱- هېواد ته نا قانوني واردېدل يا له هغۀ څخه وتل (خروج).

۲- په هېواد کې نا قانونه مېشتېدل (اقامت)

۳- د مسافرت يا د تابعيت د تذکرې (د پېژندنې سند) د تزوير شوو سندونو لرل يا ګټه اخيستنه.

۴- ددې قانون د ۵۱۲ مادې په ۲ او ۳ اجزاوو کې درج حالاتو کې.

۵- نور هغه جرمي اعمال چې اجباراً پر هغه تحميل شوي وي.

معافیت مجنی علیه قاچاق انسان از تعقیب عدلی

مادۀ ۵۱۸:

مجنی علیه قاچاق انسان در حالات ذیل مورد تعقیب عدلی قرار نمی‌گیرد:

۱- ورود غیر قانونی به کشور یا خروج از آن.

۲- اقامت غیر قانونی در کشور.

۳- داشتن یا استفاده ازاسناد تزویر شده مسافرت یا تذکره تابعیت (سند شناسایی).

۴- در حالات مندرج اجزای ۲ و۳ مادۀ ۵۱۲ این قانون.

۵- سایر اعمال جرمی ایکه اجباراً بالای وی تحمیل گردیده است.

له جزايي مسؤوليت څخه معافيت او د مجازاتو تخفيف

۵۱۹ ماده:

(۱) هغه شخص چې په يوۀ ډول نه يوۀ ډول دانسان له قاچاقبر يا سازمان شوې

معافیت از مسؤولیت جزایی و تخفیف مجازات

مادۀ ۵۱۹:

(۱) شخصی که به نحوی از انحا با قاچاقبر انسان یا گروه جنایتکار سازمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنايتكارې ډلې سره اړيكه او همكاري ولري خو د هغو له ارتكاب د مخه لـه مسئوولو مراجعو سره د مرتكبينو پـه افشاء يا نيونه كې مرسته وكړي، لـه جزايي مسؤوليت څخه معاف كېږي.

(۲) كه چېرې ددې مادې په (۱) فقره كې درج شوې مرسـته، د انسـان د قاچاق د جرمونو له ارتكاب وروسـته صورت موندلې وي او زمينـه داسـې مساعده كړي چې د جرمي سـازمان شوې ډلې د نورو غړو په نيونه تمامـه شي، محكمه د هغهٔ په هكله د پېښبيني شوو مجـازاتو پـه تخفيـف حكـم كوي.

د انسان د قاچاق په جرم پيل

۵۲۰ ماده:

د انسان د قاچاق په جرم پيل كوونكى د انسان د قاچاق د جـرم پـه عـين مجازاتو محكومېږي.

يافته ارتباط و همكاری داشته ولی قبل از ارتكاب آن مراجـع مسـؤول را در افشـاء يـا گرفتـاری مـرتكبين مساعدت نمايد، از مسؤوليت جزايی معاف می‌گردد.

(۲) هرگاه مساعدت منـدرج فقـرهٔ (۱) ايـن مـاده، بعـد از ارتكـاب جـرايم قاچـاق انسـان صـورت گرفته باشد و زمينه را طوری مسـاعد سازد كه منجر بـه گرفتـاری سـاير اعضای گروه سازمان يافتـه جرمـی گردد، محكمه به تخفيف مجازات پيش بينـی شـده در مـورد وی حكـم می نمايد.

شروع به جرم قاچاق انسان

مادهٔ ۵۲۰:

شروع كننده به جرم قاچاق انسان به عين مجازات جرم قاچـاق انسـان، محكوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورم فصل
د مهاجرينو قاچاق

د مهاجرينو د قاچاق جرم

۵۲۱ ماده:

(۱) د پيسو يا منفعت د ترلاسه کولو په منظور د مسافرت له سندونو پرته يا مسافرت په تزوير شوو سندونو سره هېواد ته د بهرني دولت د تبعه يا له تابعيت پرته شخص لپاره د نا قانونه واردېدو د زمينې برابرول يا له افغانستانه بل هېواد ته د هېواد د تبعه يا له تابعيت پرته شخص يا د بهرني دولت تبعه ته د وتلو (خروج) لپاره د زمينې برابرول د مهاجرينو د قاچاق جرم پېژندل کېږي، مرتکب ددې فصل له حکمونو سره سم مجازات کېږي.

(۲) ددې مادې په مقصد د پېژندنې يا مسافرت تزوير شوی سند د پېژندنې يا مسافرت له هر هغۀ سند څخه عبارت دی چې په تزويري صورت جوړ شوی يا په هغۀ کې بدلون وارد شوی دی يا د ناسمو اظهاراتو (څرګندونو) يا فساد يا

فصل چهارم
قاچاق مهاجران

جرم قاچاق مهاجران

مادۀ ۵۲۱:

(۱) فراهم نمودن زمينۀ ورود غير قانونی برای تبعه دولت خارجی يا شخص بدون تابعيت به کشور يا فراهم نمودن زمينه خروج برای تبعه کشور يا شخص بدون تابعيت يا تبعه دولت خارجی از افغانستان به کشور ديگر، بدون اسناد مسافرت يا با اسناد تزوير شده مسافرت بمنظور دريافت پول يا منفعت، جرم قاچاق مهاجران شناخته شده، مرتکب مطابق احکام اين فصل مجازات می گردد.

(۲) به مقصد اين ماده سند شناسايی يا مسافرت تزوير شده، عبارت است از هر سند شناسايی يا مسافرت که به صورت تزويری ساخته شده يا در آن تغيير وارد شده است يا با توسل به اظهارات نادرست يا فساد

(c) ketabton.com: The Digital Library

اکراه ته په توسل سره یا له هرې بلې غیر قانوني لارې لاس ته راغلی وي یا د هغهٔ له قانوني خاوند پرته شخص لـه نومورو سندونو څخه ګټه اخیستنه کړې وي.

یا اکراه یا هر طریـق غیـر قـانونی دیگری بدسـت آمـده باشـد یـا شـخص غیـر از صـاحب قـانونی آن از اسناد متذکره اسـتفاده نمـوده باشد.

دمهاجرینو د قاچاق د جرم مجازات

مجازات جرم قاچاق مهاجران

۵۲۲ ماده:

(۱) هغه شخص چـې د مهـاجرینو د قاچاق د جرم مرتکب شي، له دریـو کلونو څخه زیات په متوسـط حـبس محکومېږي.

(۲) هغه شخص چـې د مهـاجرینو د قاچاق جرم سازماندهي کړي یا نورو ته د هغهٔ په سازمانولو هدایت ورکړي، د متوسط حبس په اکثر حد محکومېږي.

(۳) که چېرې د مهاجرینو د قاچـاق جرم د جرمي سازمان شوې ډلـې پـه واسطه ارتکاب شي، د جرمي سازمان شوې ډلې سردسته (مشر) د متوسـط حبس په اکثرحد محکومېږي.

مادهٔ ۵۲۲:

(۱) شخصـی‌کـه مرتکـب جـرم قاچاق مهاجران گـردد، بـه حـبس متوسط بیش از سه سـال، محکـوم می‌گردد.

(۲) شخصی که جرم قاچاق مهاجران را سازمان دهی نموده یا دیگران را به سازمان دهی آن هدایت دهد، به حـد اکثر حبس متوسط، محکوم می گردد.

(۳) هرگاه جرم قاچاق مهاجران توسط گروه سازمان یافتهٔ جرمی ارتکاب یابد، سردستهٔ گروه سازمان یافتهٔ جرمی بـه حداکثر حـبس متوسـط، محکـوم می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مهاجرينو د قاچاق په جرم کې مشددہ حالات

۵۲۳ ماده:

(۱) که چېرې د مهاجرينود قاچاق د جرم ارتکاب د مهاجرينو د قاچاقبر د عمل يا اهمال په نتيجه کې د قاچاق شوي مهاجر په مړينه تمام شي، مرتکب په۲درجه دوام حبس محکومېږي.

